# طالبان په جاپان کې

# موږ په وارسا کې

د امریکا تر حملې ۱۱ کاله وروسته؛ لومړی ځل د طالبانو استازي په جاپان کې.
د طالبانو، حزب اسلامي او حکومت استازو په غونډه کې ګډون درلود، ځینې پټې او ښکاره لېدنې وشوې.
د هیروشیما ښار څخه لېدنه، کوم چې امریکا د دوېمې نړیوالې جګړې پر مهال پر همدې ښار اټومې بم غورځولی و.
وارسا کې د دفاع وزارت له لوړ رتبه کسانو سره د خبرو پر مهال جنجال او د هغوی سخت غبرګون
د پولنډ د ملي امنیت ادارې سره ناسته، او د افغانستان معادنو ته د امریکا سترګې، او نور اړوند مسایل

نظرمحمد مطمئن



# طالبان په جاپان کې

# موږ په وارسا کې


لیکوال: **نظرمحمد مطمئن**

د پښتي ډیزاین: **سپین سهار**

خپرندوی: **دانش خپرندویه ټولنه**

چاپکال: **لړم ۱۳۹۸ - نومبر ۲۰۱۹**

چاپځی: **اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸**

سالنگ واټ، انحصارات، د پخوانی ملي سینما څنگ ته، دانش کتابپلورځی

+۹۳ (۰) ۷۷ ۱۱ ٤٤ ۳۱۷ - ۰۷۹۹ ۲۰ ۹۲ ۷۲

danish۲k۲۰۰۰@yahoo.com - spinsahaar@gmail.com


**د چاپ او ژباړې ټول حقونه له لیکوال سره خوندي دي.**

## لیک لړ — مخګڼه

سریزه ........................................................ ۵
جاپان کې د ډوشیشا پوهنتون لخوا لومړی ځل بلنه ........................ ۹
جاپان ته لومړی ځل تګ ................................................ ۹
د متوکل صاحب لنډه لیکنه ............................................ ۱۱
د جاپان بهرنیو چارو وزارت له کارکونکي سره ناسته ....................... ۱۳
ډوشیشا پوهنتون کې د سولې لومړۍ غونډه ................................ ۲۱
تر غونډې وروسته ....................................................... ۲۶
طالبانو سره قطر کې د حسن کوناکاتا لیدنه ................................ ۳۱
جاپان ته دویم ځل تګ ................................................. ۳۶
هیرو شیما، د امریکا اټومي بم باندي ویشتل شوی ښار ......................... ۳۹
تر غونډې یوه ورځ مخکې ................................................ ٤٤
ډوشیشا پوهنتون کې غونډه ............................................... ٤٨
ګډه ماښامنۍ په تاریخي هوټل کې ......................................... ۵۶
د پژواک اژانس ناسم خبر.................................................. ۵۸
تر غونډې یوه ورځ وروسته ................................................ ۵۹
بیرته را ستنېدل ........................................................... ٦۱
د طالبانو استازي قاري دین محمد د رسمي بیانیې متن ........................ ٦۳
د طالبانو د تحریک د پیلېدو انګیزه .......................................... ٦٤
لاسته راوړنې:............................................................ ٦۵
پر افغانستان د امریکا تېری او برید: ......................................... ٦۷

د امریکا له غروره ډک برید پایلې: ........................................... ٦٧
د امریکا د تیري په وړاندې ملي او مشروع مقاومت: ................................ ٧٠
د روغې جوړې په اړه د افغانستان اسلامي امارت دریځ.............................. ٧٣
د نړۍ له ولسونو او دولتونو څخه د اسلامي امارت غوښتنه........................... ٧٥
د ملا عبدالسلام ضعیف وینا .................................................. ٧٩
د ډاکټر غیرت بهیر وینا...................................................... ٨٨
له پولنډې جنرال سره لیدنه.................................................... ٩٤
د پولنډ سفارت او زموږ ویزې ................................................. ٩٨
د کابل او باګرام پوځې اډې او هوایې ډګرونه .................................... ١٠١
پولنډ ته تګ ................................................................ ١٠٥
د پولنډ د ملي دفاع د پوهنتون له قومندان او جنرالانو سره ناسته ................ ١٠٨
د ملي امنیت بیرو له مرستیال مشر سره ناسته.................................... ١١٢
د دفاع وزارت له ځینو رئیسانو سره ناسته ....................................... ١٢٣
د پولنډ پوځي موزیم .......................................................... ١٣٧
د مالګې کان ................................................................. ١٤١
تاریخي ودانۍ او ښار .......................................................... ١٤٣
جاګیالونسکي پوهنتون ......................................................... ١٤٥
بیرته کابل ته را ستنېدل ....................................................... ١٥٠
د پولنډې جنرال پوښتنو ته ځوابونه .............................................. ١٥٣
د لیکوال پېژندنه.............................................................. ١٦١

## سریزه

د الله ﷻ ډیر زیات حمد او ثناء وایم، د الله ﷻ پر نازولي پیغمبر محمد ﷺ باندي درودونه وایم چې ماته یې د یوه بل تاریخي کتاب لیکلو توان راکړ.

د امریکا تر حملې وروسته تر ۲۰۰۹ ز کال پوري یوازي د جګړې خبرې کېدي، د هیچا له خولې داسي نه اوریدل کېدل چې طالبانو ته د سولې خبرو حق ورکول شي. افغان حکومت د سولې په نوم د بیا پخلاینې او بیا وروسته د سولې عالي شورا په نوم جوړښتونه جوړ کړي وو، د بیا پخلاینې مشرې حضرت صبغت الله مجددې کوله، چې له نومه یې ښکاري چې حکومت غوښتل چې طالبان ور سره یو ځای شي.

همدارنګه د سولې عالي شورا مشرې هم د لومړي ځل لپاره استاد برهان الدین رباني ته ورکول شوه، بیا هم ټوله هڅه دا وه چې طالبان د افغان حکومت برخه شي، له حکومت سره یو ځای شي.

په ۲۰۰۹ ز کال کې امریکایانو چمتووالی وښود چې له طالبانو سره د خپل بندي پوځي بوبریګډال د خلاصون اړوند خبرې وکړي، د طالبانو د سیاسي کمیسون مشر سید طیب اغا قطر او جرمني ته سفرونه وکړل، همدارنګه په ۲۰۱۰ ز کال کې امریکایانو درک کړه چې جګړه نه شي ګټلای، په قطر کې یې د طالبانو له سیاسي دفتر سره هوکړه وکړه او د دوی ترمنځ لیدنې وشوې.

۲۰۱۱ ز کال کې عملاً د طالبانو استازي په دوحه کې وو. په ۲۰۱۲ ز کال کې یې کورنۍ هم وروستلې، او په جون ۲۰۱۳ کې د طالبانو د قطر دفتر له یوې ورځې رسمي پرانستې وروسته، د حامد کرزي د مخالفت له کبله بیرته

وتړل شو.

۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ داسي کلونه وو چې جګړو زيات شدت درلود، د امريکا د هغه وخت ولسمشر بارک اوباما د جګړې تنور ګرم کړی و، افغانستان ته يې ۳۰ زره اضافي پوځيان نور هم را ليږلي وو.

د جګړې دواړه لوريو د نظامي پرمختګونو هڅه کوله. په همدې وختونو کې امريکايې/ ناټو او افغان پوځيانو په ځينو سيمو کې د طالبانو ضد پراخ نظامي عمليات پيل کړي وو، خونړۍ پيښې کېدلي، هره ورځ په لسګونو افغانان د جګړې دواړو لورو ته وژل کېدل، همدارنګه بې ګناه ملکي افغانان هم د جګړې د شدت له امله وژل کېدل، زخمي کېدل او بې کوره کېدل.

تر ټولو زيات د جګړې شدت په هلمند او کندهار ولايتونو کې وو، همدارنګه په کونړ ولايت کې هم جګړو زور اخيستی وو.

په دغسې جګړه‌ييز حالت کې د سولې خبرو يادونه طالبانو ته پرته له شکه چې په ځان باندې خطر منل وه. او بيا داسې چې په کوم بهرني هيواد کې به د طالبانو استازي د سولې اړوند خبرو غونډه کې ګډون وکړي.

موږ همدا خطر په ځان ومانه، طالبانو ومنله چې جاپان ته به خپل واک لرونکي استازي استوي، او په زړه پورې دا وه چې د امريکا تر حملې ۱۱ کاله وروسته، په لومړي ځل د طالبانو استازولي په بهر ( جاپان) کې زموږ تاجک ورور قاري دين محمد حنيف کوله. په داسې حال کې چې کورنيو او بهرنيو رسنيو د طالبانو جوړښت قومي او پښتنو ته منسوباوه.

دا چې جاپان کې طالبانو او د افغان حکومت استازو تر منځ کوم ډول تعامل وشو، طالبانو څه غوښتل، په همدې کتاب کې يې لوستلای شئ.

د دې کتاب دوېمه برخه د پولنډ هيواد ته د افغان خبريالانو او ليکوالو

وړې ډلې تګ او هلته په وارسا کې د دفاع وزارت او ملي امنیت له مهمو چارواکو سره د لیدنو په اړه جزئیات دي.

د وارسا پکټ Warsaw Pact او ناټو NATO له نومونو سره موږ د ښوونځي له مهاله اشنا وو، وارسا پکټ هیوادونه (البانیا، ختیځ المان، بلغارستاان، جکسلواکیا، رومانیا، لهستان، مجارستان او شوروي اتحاد) د شوروي اتحاد په مشرۍ د ناټو پکټ مقابل کې جوړ شوی نظامي او سیاسي ایتلاف و. وارسا پکټ د ۱۹۵۵ ز کال مئ میاشت کې جوړ او د ۱۹۹۱ ډسمبر میاشت کې د شوروي اتحاد په وتلو سره نور دا پکټ هم ختم شو.

ناټو پکټ بیا ټول ټال ۴۳ غړي لري، چې ۲۹ هیوادونه او ځینې یې خپلواکه ادارې دي. له اوس (۲۰۱۹) څخه ۶۹ کاله مخکې د ۱۹۴۹ کال په اپریل میاشت کې دغه جوړښت ته زمینه برابره؛ تر څو د هغو هیوادو نظامي مقابله په ګډه وکړي چې د ناټو پر غړي هیواد برید کوي.

کله چې پر افغانستان شوروي اتحاد برید وکړ، د وارسا پکټ له نوم سره هر لوستی افغان بلد وو.

تر ۲۰۱۳ ز کال پورې چې امریکا او ناټو هیوادونو په افغانستان کې خپل ډیر نظامي زور  کارولی وو، او پوی شوې وو چې نور د افغانستان جګړه دوی نه شي ګټلای، په کابل کې د پولنډ هیواد د سفارت نظامي اتشې کسانو راسره د افغانستان د مسایلو اړوند ناستې درلودلې.

موږ د افغانستان د کشالې اړوند، پولنډي نظامیانو ته حقایق وویل، په لومړی سر کې هغوی ته ډیر ترخه او د اوریدو زغم یې هم نه درلود، ولی کله چې پوه شول، ځمکنې حقایق هغه څه دي چې موږ یې ورته وایو، زما

(لیکوال) ناسته یې د پولنډ د دفاع وزیر سلاکار او د د پولنډ هیواد د ملي دفاع پوهنتون له رئیس/ قومندان جنرال بوگوسلاو سره ترتیب کړه، د ناستې پر مهال نوموړي جنرال زما د خبرو هیڅ زغم نه درلود، له غوسې به له چوکۍ څخه ولاړ شو.

موږ ۵ تنه افغانان وارسا ته وبلل شوو، هلته مو د دفاع وزرات له لوړ پوړو جنرالانو او د پولنډ هیواد د ملي امنیت بیرو له مسؤلینو سره لیدنې وشوې.

تر ډیره پولنډیانو غوښتل چې په افغانستان کې د خپلو پوځیانو د ماموریت په اړه زموږ څخه واوري.

د ناټو په چوکاټ کې د پولنډ پوځیانو په غزني ولایت کې نظامي دنده مخکې وړله، د شپې مهال یې د افغانو پر کورونو چاپې وهلې، ډیری ملکي او بې گناه افغانان یې شهیدان کړل، او پولنډي پوځیان رښتیا هم ډیر ظالم او د بشریت ضد کړنې یې په غزني ولایت کې تر سره کړي.

په دې ي کتاب کې تاسي لولئ چې څه ډول د باگرام نظامي هوایې ډگر څخه موږ ۵ تنه افغانان پرته له دې چې پر پاسپورټونو راته د وتلو مهر ووهل شي، پولنډ ته ولاړو، او بیا هم د بیرته را ستنېدو پر مهال پرته له دې چې زموږ پر پاسپورټونو بیرته هیواد ته د ننوتلو مهر ووهل شي، د کابل نظامي هوایې ډگر کې کښته او کابل ښار ته را ووتلو.

هغه پولنډی پوځي مشر چې زما سره یې د بحث پر مهال ډیر جنجال کاوو، وروسته یې گوښه کړم، ویې ویل: "افغانان زموږ قهرمانان (هیروگان) دي، یو ځل یې له شوروي اتحاد څخه ازادي راکړه، دا ځل به له امریکا څخه ازادي راکوئ."

## لومړی ځل بلنه جاپان کې د ډوشیشا پوهنتون لخوا

د ۲۰۱۱ ز کال د جنوري میاشت کې ما (لیکوال) ته د طالبانو د نظام پر مهال د بهرنیو چارو وزیر مولوي وکیل احمد متوکل وویل: "جاپان کې د سولې اړوند غونډه او بلنه ده، که تاسي چمتو یاست، نوم مو ورکوم چې اړیکه درسره ونیسي."

یوه ورځ وروسته د جاپان د کیوټو ښار کې د ډوشیشا پوهنتون مشر استاد دکتور حسن کوناکاتا زما (لیکوال) سره په ټلیفون خبرې وشوې، ویې ویل:" د افغان سولې اړوند غونډه ده، متوکل صاحب او تاسي ته په غونډه کې د ګډون بلنه درکوم."

جاپان ته د ویزې تر لاسه کولو ټول مراحل او اړین اسناد د دوشیشا پوهنتون لخوا په کابل کې د جاپان سفارت ته را ولیږل شول، موږ هم خپل پاسپورټونه د ویزې له غوښتنلیک سره ور کړل، دغې پروسې نږدې درې اونۍ وخت ونیو.

## جاپان ته لومړی ځل تګ

د فبروري ۲۷مه ۲۰۱۱، ما (لیکوال) او متوکل صاحب د ماښام ۶:۳۰ بجې د کابل نړیوال هوایې ډګر څخه الوتنه درلودله، نږدې درې ساعته الوتنه وه، د دوبۍ هوایې ډګر کې مو نږدې ۶ ساعته انتظار درلود.

د دوبۍ پر وخت سهار درې بجې مو الوتنه وکړه، اوږد سفر وو، نږدې ۹ ساعته، دا چې امارات الوتکه او زموږ لپاره په الوتکه کې ښه ځای وو، نو سفر ډیر تکلیف نه وو، او په الوتکه کې اوبه، جوس او هر ډول حلال خواړه پیدا کېدل.

د فبرورې ۲۸مه، ماښام ۵ بجې موږ د جاپان د اوساکا ښار د کاناسای مشهور هوايي ډګر کې کښته شو. همدلته په پاسپورټونو باندي جاپان ته د ننوتلو مهر لګېدو وروسته موږ همدلته د هوايي ډګر په دننه کې اودسونه وکړل.

زموږ مخې ته په جاپان کې د مسلمانانو مشر پروفیسور حسن کوناکاتا او د هغه مسلمان زده کوونکی قیوم هم راغلی وو.

د هوايي ډګر په احاطه کې مو د متوکل صاحب په امامت د ماښام لمونځ اداء کړ، او په همدې ځای کې حسن د متوکل صاحب لپاره د قبلې معلومولو آله او له هغه سره لارښود وړه کتابچه هم ورکړه.[1]

دوه ساعته نور هم موږ په موټر کې سفر وکړ، د جاپان ډېر تاریخې ښار کېوټو کې د کیو ټو برایټون هوټل ته ورسیدو.

د ماښام ډوډۍ د یاد هوټل سره نږدې دجاپان کلتوری او دودیز رسټورانټ کې موږ ټولو (متوکل صاحب، حسن کوناکاتا، شامل[2] او قیوم) وخوړله.

دلته یوازې د ماهي غوښه وه، ماهی یې پرته له غوړیو سور (کباب) کړی و، او بل له دې سره یې د ماهي خامه غوښه هم راوړه، ډېر جاپانیان د ماهي غوښه خامه خوري، ډېر لږ یې پرته له غوړیو کباب (سره) کوي.

---

[1] هغه وخت ټیلیفون کې د قبلې او لمانځه وختونو معلومولو اسانتیاوې نه وې.

[2] شامل چې جاپانی نوم یې ټسنوکا دی، دوه کلونه وړاندې کندز کې سرې تښتونکو وړی وو، چې بیا د جاپان سفارت یې د خلاصیدو بدل کې ویل کېږي یو میلیون ډالر ورکړي وو. ټسنوکا چیچن ته هم تللی وو، هغه وخت یې د چیچن مسلمان جنګیالیو مشر شامل بسایوف سره لیدلي و، له همدې امله یې خپل نوم هم شامل غوره کړی و.

# د متوکل صاحب لنډه لیکنه

جاپان ته تر تګ مخکې، د ډوشیشا پوهنتون لخوا وغوښتل شول چې متوکل صاحب د طالبانو او افغانستان اوسني حالت اړوند په لنډ لیکلي ډول خپل نظر ور سره شریک کړي. متوکل صاحب لاندي لنډه لیکنه ورته واستوله.

بسم الله الرحمن الرحيم

د یو افغان په صفت غواړم چې ووایم، د روسانو تر وتلو وروسته د مجاهدینو د خپلمنځي جګړو له امله د طالبانو اسلامي تحریک د افغان ولس عکس العمل و، او دغه حرکت د کندهار په تاریخي ښار کې را وټوکیدی، د خلکو د پراخ ملاتړ له امله تحریک ولایتونه او پلازمینه کابل تر خپل کنټرول لاندي راوستل.

طالبانو دوه مهم اهداف درلودل:

۱ –له تجزیې څخه د هیواد مخنیوی.

۲ – چې اسلامي نظام او د هیواد بیا رغونه پیل شي.

اکثریت ځوانان د مدرسو زده کونکي طالبان وو، او هغوی اسلامي ارزښتونو ته ژمن وو، حقیقت دادی چې له وطن سره رښتونې مینه یې عملاً وښودله.

د طالبانو د حکومت پر مهال، مخالفینو (شمال ټلوالې) له روسیې، فرانسې، هند او ایران سره ښې او نږدې اړیکې درلودلې. او یادو هیوادونو، د رسنیو له لارې هم د شمال ټلوالې په ګټه تبلیغات کول.

مخالفين (شمال ټلواله)، پرته له دريو اسلامي هيوادو، ډيرو لويديځو او نورو هيوادونو په رسميت پيژندلي وو.[۳] دا چې د طالبانو نظام د هيوادونو لخوا په رسميت نه وو پيژندل شوې، له دې کبله طالبان د نړۍ سره له اړيکو گوشي او په يوازيتوب کې وساتل شول.

د جهاد له مهاله، په افغانستان کې د بهرنيو وسلوالو د شتون ستونزه وه چې طالبانو ته دا هر څه په ميراث پاتې شوو، بالاخره همدا د امريکا لپاره د افغانستان د اشغال بهانه شوه.

له تيرو ۹ کلونو راهيسې دلته جگړه ده، د اشغالگرو قوتونو د تيروتنو، نا قانونه کړنو، حکومت کې د فساد له امله افغان ولس ناراضه دی.
اوس مهال اساسي بدلون ته اړتيا ده، سولييز بدلون، او د سولې لپاره تر ټولو مهم اراده او باور دی.
د بيلابيلوستونزو له امله، طالبان د اړيکو لپاره يو معلوم ادرس نه لري، او د دې لپاره د امنيت تضيمن ته اړتيا ليدل کيږي، همدې هدف ته د رسيدو لپاره دريمگړي ته په کار ده چې خپلې قوي هڅې وکړي.
موږ تمه لرو چې جگړه ختمه او بهرني پوځيانو خپلو کورنيو او هيوادونو ته ولاړ شي.
د يوې سالمې راتلونکي استازي ادارې لپاره د فساد او نشيي توکو له منځه وړل اړين دي، تر څو په هيواد کې سوله، امن او بيا رغونه اعاده شي.

مولوي وکيل احمد متوکل

د بهرنيو چارو پخوانی وزير

---

[۳] د طالبانو نظام پاکستان، سعودي عربستان او متحده عرب اماراتو په رسميت پيژاندی.

## د جاپان بهرنيو چارو وزارت له کارکونکي سره ناسته

د مارچ لومړۍ ورځ ۲۰۱۱، نږدې يولس بجې هوټل ته د جاپان د بهرنيو چارو د وزارت کارکوونکی تاکاهاشي (Hiroshi Takahashi) راغی، متوکل صاحب او زه ورسره کېناستلو، د افغنستان اړوند سياسي مسايلو باندي و ږغيدلو.[٤]

تاکاهاشي وويل: " کرزی د حکومت کولو ندی او نه هم د ولسمشري لياقت لري، هغه اداره نشي مديريت کولای او نه هم په اداره باندی پوهيږي، يواځې کولای شي چې يو ښه ملک او قومی مشر جوړ شي، خو د حکومت کولو توان نه لري. او بل دا چې بی هوډه سړی دی، هوډ نلری کله يوه خبره او کله هم بله خبره کوي، شوني وي چې ډير ژر دخپلي خبرې څخه واوړي.

يو ځل زه او د ملگرو ملتونو مشر ابراهيمي ارگ ته ورغلو او هلته مو دليدلو وعده وه، کله چې کرزی راغی د روغبړ وروسته يې بې له مقدمې وويل چې زه غواړم جنرال مالک ونيسم او محاکمه يې کړم، هغه قاتل دی او ډير خلک يې وژلی دي، هيڅ د دي حق نه لری چې ازاد وگرځي، د کرزي د خبري له

[٤] تاکاهاشي د طالبانو د حکومت پر مهال کندهار کې د ملگرو ملتونو سره کار کاوی، په دری ژبه روان ږغيدی، او د حامد کرزي دوره کې هم په کابل کې د ملگرو ملتونو د دفتر مشر و، په لمړنۍ لويه جرگه کې يې مهم رول لوبولی و، همدارنگه د ۲۰۰۴ ز کال په لمړنيو پارلماني او رياستي ټاکنو کې يې هم ډير رول درلود، د هغه وخت ملگروملتونو د عمومي رئيس لخضر ابراهيمي سره يې هم ښه پيژندگلوی درلودله. تاکاهاشي بيا وروسته په افغانستان کې د جاپان سفير (۲۰۱۴ تر ۲۰۱۶) و.

خلاصیدو سره سم لخضر ابراهیمي ورتهوویل چې ته غواړی هیواد کې ارامي وي او که غواړی چې جنگونه او ناارامي وي؟ که ته جنرال مالک ونیسي، د هغه ډله به مخالفتونه شروع کړي او د حکومت خلاف به حرکتونه پیل شي، همدارنگه دوستم او نور د افغانانو وژونکي به فکر وکړي چې که نن مالک ونیول شو نو سبا موږ هم نیول کېږو، هغوی به هم د خپلو ملاتړو ځخه وغواړي چې د حکومت مخالفت شروع او پایله داچې ستا د حکومت مخالفتونه به زیات شي، نو ښه دا ده چې په هیڅا هم کار ونه لري ترڅو هغوی ستا مخالف نشي.

کرزي پرته له فکرکولو او ځنډ ځخه ابراهیمي ته وویل چې کور دی ودان، والله دا خو ښه خبره ده زما هیڅ ورته پام نه و، سمه ده، په یوه هم کار نه لرم.

کله چې اضطراري لویه جرگه وه [5]، مخکې لا ما ځیني خلک لیدلی وو او هغوی ته مي د لخضر ابراهیمي د لارښوونې سره سم ویلی وو چې حامد کرزي ته د انتقالي حکومت د مشري لپاره رایه ورکړي.

ولي هغه وخت مې هم لخظر ابراهمي ته ویلي و چې کرزی د حکومت کولو نه دی، اداره نه شي جوړولای، ورڅخه خرابیږي. ښه دا ده چې په بل چا فکر وشي او یو مناسب شخص د حکومت مشرۍ ته پیدا شي، مگر ابراهیمي ټینگار درلود، ویل یې موږ خبره کړی ده او همدا کس وړ او

[5] اضطراري لویه جرگه (١٣٨١ ل کال ٢۴ وري تر ١١ غبرگولي) چې په کابل کې د لویې جرگې خېمه کې د ١۵۵١ کسانو په گډون درلودو جوړه شوه، مشري یې قاسمیار کوله، ١١ سلنه میرمنو پکې برخه درلوده، د رائیو په اکثریت حامد کرزی د ٢ کلونو لپاره د انتقالي دورې مشر ومنل شو.

مناسب شخص دی، تاسي (تاکاهاشي) کوشش وکړئ چې خلک وپوهوئ تر څو حامد کرزي ته رایه ورکړي.

ما (تاکاهاشي) د جرګې له پېله مخکې قیوم کرزی او ځینې نور کسان ولیدل چې په لویه جرګه کې دکرزی لپاره کمپاین او د هغه ننګه وکړي او خلک وهڅوي چې هغه ته رایه ورکړي، ډیری او حتی ټولو ګډونوالو ډاډ راکړ چې همداسي به کوي. زه هم مطمین وم، مګر کله چې جرګه شروع شوه ملګرو خبر راکړ چې قیوم کرزی او ورسره (غالباً انور جګدلک) د پاچا ظاهر لپاره کمپاین کوي، خلک هیڅوي چې هغه ته رایه ورکړي.

سمدستي د لویې جرګې د خیمې خواته روان شوم او هلته درسیدو سره سم مې قیوم کرزی ولیدی، تر لاس مې ونیوی، هغه ته مې وویل چې تاسي باید حامد کرزي ته کمپاین وکړئ، په همدې خبرو کې مې د ۱۰۰۰۰ ډالرو بنډل ورکړ، قیوم کرزی ارام شو، لږ ځنډ وروسته بیرته روان او خبره سمه شوه، د ۱۰۰۰۰ ډالرو په مقابل کې یې د پاچا ظاهر ملاتړ پریښود او د حامد کرزی لپاره یې د لویې جرګې تالار کې کمپاین شروع کړ.

بیا مې جګدلک دلاسه ونیو او د لویې جرګې له خیمې څخه مې و ایست، خبره مې ورته وکړه چې دکرزي په ملاتړ کمپاین وکړی، هغه وویل چې قیوم کرزی دی په پیسو واخیست اوس غواړی چې ما هم په پیسو واخلی، والله که مې واخلی او پیسې یې هم وا نه خیستي.

له دي سره سره ما (تاکاهاشي) بیا وروسته هم لخضر ابراهیمی ته وویل چې په یو سم کس باندی فکر وکړي، تر څو راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته یې ودروي، مګر دوی بیا همهغه تیروتنه وکړه او د حامد کرزی ملاتړ یې وکړ، د پنځه نورو کلونو لپاره یې راوست، داټول اشتباهات وو، او له دي امله نور ما په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سیاسي دفتر له مشرتابه څخه استعفی

ورکړه، ځکه پوهیدم چې په افغانستان کې خبره خرابیږی او مسولیت به یې ماته راجع وي، غوره مې وګڼله چې تاجکستان کې د ملګرو ملتونو سره دندې ته دوام ورکړم. "
تاکاهاشي د استاد سیاف، صبغت الله مجددي او استاد رباني اړوند هم خواشینونکي څرګندونې وکړي، چې دوی د لویو جرګو او د امریکا راتګ پر مهال کوم کارونه وکړل.

تاکاهاشي وویل: " د جاپان حکومت تګلاره دا وه چې په افغانستان کې د هزاره توکم ملاتړ او مرسته وکړي، مګر اوس یې تګلاره بدله کړي، د ټولو افغانانو ملاتړ او مرسته به کوي.

په افغانستان کې زه د هر چا لخوا ښخه د جګړو پر مهال له ستونزو سره مخ شوی او حتی ډبول شوی یم، یوازي طالبانو نه یم ډبولی او نه یې تکلیف کړی یم، همدي هزاره ګیانو ډیر وهلی او ډبولی یم.

ما (تاکاهاشي) د جاپان حکومت ته ویلي چې ترټولو بد او فاسد خلک په افغانستان کې هزاره ګیان دي، که تاسي د فاسدو خلکو مرسته کوئ خوښه مو ده، هغوی په فساد او فتنه کې ککړ دي او بل دا چې هر څه دایران په اشاره کوي، د خپل هیواد ګټې په نظر کې نه نیسي، ځکه هغوی او تاجکان افغانستان خپل او د ځان اصلي ټاټوبی نه بولي، د هیواد اصلي مالک افغان / پښتون دی، که تاسي غواړئ چې د دي هیواد سره په راتلونکي کې ښې اړیکې ولرئ باید د افغانانو ملاتړ او مرستې ته توجه وکړئ، نه د یو داسي قوم چې مشران یې په فساد او فتنه کې ککړ وي.
یو ځل زه (تاکاهاشي) هند ته تللی وم ، د افغانستان سفیر چې زما پخوانی ملګری او تاجک و، میلمستیا یې راته وکړه، هغه د جاپان لخوا د تاجکانو او هزاره قومونو د ملاتړ خبره کوله ، ما ورته وویل چې نور باید ستاسي او هزاره

ملاتړ او مرسته ونه شي، ځکه ټول په فساد کې ککړ یاست، همدا تاسي یاست چې د هیواد ترګټو خپلې شخصي ګټې زیاتي خوښوئ، نو ستاسي ملاتړ او مرسته د فساد او اختلاس سره مرسته ده، سفیر وویل چې تاسي غواړئ د طالبانو مرسته وکړئ، ورته مې وویل، هو! ځکه د هغوی په دي هیواد خوا بدیږي او دځان یې بولي، مګر تاسي خو دا هیواد د ځان نه بولئ، نو ځکه تر تاسي طالبان ښه دي. "

په ټوله کې د جاپان د بهرنیو چارو د وزارت همدي کارکوونکي د کرزي د حکومت بد ویل، ویل یې چې یو فاسد او بې اداري حکومت دی، د داسي حکومت ملاتړ او مرسته اشتباه ده، موږ د جاپان په ورکړل شوي پیسو او مرسته هم پښیمانه یو. تاکاهاشي په ضمني ډول د طالبانو د نظام او بیرته قدرت ته راوستلو ملاتړ کاوو.

د تاکاهاشي په خبرو کي زموږ (افغانانو) لپاره بده خبره دا وه چې هغه وویل:
" ډیری افغانان د پیسو سره مینه لري او د پیسو په ورکولو سره له خپل نظر او هدف څخه ژر تیریږي. "

ولي ډیره د حیرانتیا خبره یې داوه چې ویې ویل: " د جاپان حکومت او ناټو تر ډیره وخته داسي نظر درلود چې طالبانو ته دکار زمینه برابره او پیسي ور مخکې کړي، په دولت کې لوړې دندې ورته ورکول شي، تر څو طا لبان له جنګ څخه لاس واخلي، ولي زه د دې خبري سره موافق نه یم، ځکه طا لبان چې زه پیژنم د نورو سره فرق لري، هغوی د پیسو او امکاناتو لاسته راوړلو لپاره نه جنګیږي، هغوی د یوه هدف او عقیدې له مخې جګړه کوي. ځکه خو هر وخت ما دغسي نظریات رد کړي او زه پوهیږم تر څو چې طالبانو سره مخامخ خبرې ونه شي، د هغوی شرایط و نه منل شي، ممکن نه ده چې جګړه دي ودریږي. "

متوکل صاحب د تاکاهاشي د خبرو په تايد وويل: "که طالبان د قدرت او پيسو لپاره جنګيدلای، خو سم نظام يې درلود، ټول دولت له دوي سره وو، که يې له امريکا سره جوړ جاړی کړی وای، د طالبانو نظام به له منځه نه تلای، همدارنګه که يوازي داسامه بن لادن سپارل يې امريکا ته منلي وای، هم د دوی نظام به نه نړول کېدی. نو څه ډول شونې ده چې اوس دي په حکومت کې په څو لوړو چوکيو ورکولو سره طالبان له هر څه او ټولو قربانيو څخه تير شي. هغوی د يوې عقيدې او هدف له مخې جهاد کوي، هيواد اشغال او راغلي ټول بهرنيان اشغالګر بولي."

ما (ليکوال) وويل: "که طالبان هم د ځينو نورو په ډول د پيسو او چوکۍ لپاره جنګ کولای، په دی دومره موده (۱۰ کلونو) کې به کوم يو د دولت سره يو ځای شوی وای، خو هيڅ لوړ پوړی طالب نه دی يوځای شوی، او دولت د پيسو او چوکۍ وړانديزونه ورته کړي دي. مګر هغوی چې د الله ج د رضا لپاره جهاد کوي هيڅکله به هم په پيسو او چوکۍ د الله ج رضا بدله نه کړي.

ما ليدلي دي هغوي په زړو جامو، يوه پټو او چمپلو کي د ژمی يخې شپې تيروي، اجر يې د الله ج څخه غواړي.

طالبان هم د نورو خلکو په شان هر څه ته اړتيا لري، خو د خپل مسلمان ولس څخه يې غواړي، نه د ناټو او نورو بهرنيانو څخه، دا خبره يو مخي غلطه ده چې طالبان به په پيسو او چوکيو رانيول شي.

په ۲۰۰۵ ز کال کې د زابل ولايت کې طالبانو يو ترکی انجنير نيولي و، د ترکيې سفارت او د ترکانو کمپنۍ منلي وه چې طالبانو ته يو ميليون ډالر دانجنير د پريښودلو په بدل کې ورکړي، د طالبانو تر خپلمنځي مشورې

وروسته پريکړه وشوه، چې يو ميليون ډالر وانخلي، او پرته له پيسو اخيستلو يې بايد خوشی کړي، ځکه که پيسي واخلي، د پيسو د ويش په سر به د مجاهدينو ترمنځ اختلاف پيداشي او په راتلونکې کي به هم هره ډله کوشش کوي چې کوم بهرني کس د پيسو لپاره ونيسي. له دي ښکاري چې طالبان د پيسو او ډالرو لپاره نه جنګيږی. "

پاتي دی نه وي چې موږ تاکاهاشي ته د امريکايانو او ناټو ظلمونه او نادودي يوه په يوه وويلي، همدارنګه مو د جاپان هيواد له خوا ناټو ځواکونو ته د تيلو ورکولو يادونه هم وکړه چې جاپان هم بيطرفه پاتې نه شو.

بله خبره متوکل صاحب دا ورته وکړه چې د جاپان ټولې مرستې چې د وسلې ټولولو او له منځه وړلو، او بيا يو ځای کېدلو پروګرام Disarmament, Demobilization and Reintegration (ډي ډي آر DDR) او حکومت کې مدغم کېدو (Reintegration) لپاره يې پيسې مصرف کړي، عبث او ناکام پروګرام و، هيڅ فايده يې هم ونه کړه، او کومي پيسې چې له حکومت سره مرسته کوي، هم د فاسدو او په اختلاس ککړو خلکو لاسونو ته لويږي، په ټوله کي د جاپان پيسې او کومکونه افغان ولس ته نه رسيږی او نه هم د ولس کومه ستونزه پرې له منځه وړل کيږي، بيا هم په افغانستان کې د جاپان ځيني تعليمي پروژې چې پر مخ يې وړي، ښي دي، او بايد چې خپلې پيسې په تعليمي برخه کې مصرف کړي.

همدلته ډير لنډ مجلس د متوکل صاحب او تاکاهاشي ترمنځ وشو چې زه هم ناست وم. دغرمې ډوډۍ وخت و، د حسن کوناکاتا ټيليفون راغی، ويل يې تاسي ته منتظر يم، ښار کې کوم بل خوړنځي ته د غرمنۍ لپاره ځو، موږ ټول نږدې

خوړنځي ته ولاړو، تر ډوډۍ خوړلو وروسته تاکاهاشي؛ متوکل صاحب ته وویل: "زه هم په همدې هوټل کې اطاق نیسم، بیا به وروسته هم مجلس وکړو."

تاکاهاشي په کېوټو برایټون هوټل کې **۵۳۱** نمبر اطاق ونیوی، متوکل صاحب تر نږدې ماښامه له هغه سره په همدې اطاق کې مجلس وکړ. د متوکل صاحب اطاق **۶۳۲** نمبر او زما (لیکوال) اطاق **۶۳۳** نمبر و.

ماښام ډوډۍ کې بیا هم تاکاهاشي له موږ سره وو ، حسن کو ناکاتا، او شامل دا ځل موږ ایراني رسټورانټ ته بیولي وو.

د مارچ دوېمه ورځ، سهار تر چای څښلو وروسته موږ د جاپان د امپراطور پخوانۍ او تاریخي ودانۍ، چې ۱۰۰۰کلونه پکې امپراطور تیر کړي وو، ولېدله.

دا ځای زموږ د اوسیدو ځای ته نږدې وو، پلي روان وو، خو په ټوله لار او هلته د امپراطور د قصر په باغ او چاپیریال کې د ګرځیدو پر مهال سیاسی بحث وو، چې د افغانستان په روانو حالاتو، د سولې او یو سم حکومت را منځته کېدو باندي خبرې کېدي.

د جاپان د امپراطور قصر دا مهال بند و، یوازې موږ د قصر په احاطه کې وګرځیدو، ډیرې شنې ونې پکې ولاړې وې، د قدم وهلو لپاره یې لوی ځای درلود، د پاخه عمر نر او ښځې جاپانیان هم دلته ځینې لیدل کېدل، د پیشو په څیر کوچني سپیان به یې ورسره وو.
بیرته هوټل ته راغلو او موږ په همدې ورځ دوه بجې ماسپښین کانفرنس درلود، هیر مې دی چې بیا هم متوکل صاحب او تاکاهاشي پدې ورځ خصوصی مجلس وکړ یا نه؟ غالباً چې بیا هم دوي مجلس درلود.[6]

---

[6] زما (لیکوال) له انده چې تاکاهاشي غوښتل چې پوه شي، څه ډول د طالبانو او افغان حکومت استازو تر منځ د مخامخ خبرو زمینه برابره شي، او کله چې جون

# ډوشیشا پوهنتون کې د سولې لومړۍ غونډه

په ۱:۴۵ بجي ماسپښین د ډوشیشا پوهنتون ته ورغلو او هلته مو د ماسپښین لمونځ په جماعت سره اداکړ چې وروسته کانفرنس شروع شو.

په غونډه کې د پوهنتون د نړیوالو څیړنو رئیس او د افغانستان برخې د سولې او پرمختګ مرکز مشر د کتور ماسانوري نایټو Prof. Dr. Masanori Naito، پروفیسور دکتور حسن کو ناکاتا Prof. Dr. Hassan Ko Nakata، ازاد خبریال ښاغلی شامل سنوکا Shamil K Tsuneoka ، د پوهنتون څو تنو استادانو (نارینه او میرمنې) او دا ډول محصلینو (نارینه او میرمنو) برخه درلوده، ټول ټول د ګډونوالو شمیر نږدې ۲۰ تنه وو.

متوکل صاحب د مجاهدینو د خپلمنځي جګړو، طالبانو د تحریک پیدایښت، له طالبانو سره د ولسي خلکو ملګرتیا، کابل نیول او د طالبانو د سرپرست وزیرانو اړوند، همدارنګه د امریکا/ناټو مقابل کې د طالبانو جګړې

---

۲۰۱۲ کې بیا ځل په ډوشیشا پوهنتون کې غونډه وه، د طالبانو، حزب اسلامي او حکومت استازو برخه درلودله. کله چې زه (لیکوال) بیرته کابل ته راغلم، متوکل صاحب ویل چې ما د جاپان حکومت ته همدا نظر ورکړی وو چې همداسې یوه غونډه جوړه، او که دا ډول غونډې دوام پیدا کړي، بالاخره د طالبانو او حکومت استازو ترمنځ مخامخ ناستې ته زمینه برابروی، او متوکل صاحب په دې آند وو چې د جاپان غونډه کې طالبانو او د حکومت استازو په پټه لیدنه کړي او د افغان سولې اړوند یې خبرې سره کړي دي، خو ما (لیکوال) په کلکه دا رد کړه چې د طالبانو او افغان حکومت استازو تر منځ لیدنه دي شوې وي.

له تاکاهاشي سره تر مجلس وروسته بیا ما (لیکوال) ته متوکل صاحب دا هم وویل چې تاکاهاشي ته یې د ځینو پروژو اړوند یادونه وکړه، که ممکن وي چې کابل کې د یوې راډیو ټول مصارف ومني (فریکونسي، د راډیو دستګا، سټوډیو، اړین تخنیکي توکي او کارکونکو معاشونه) او افغان بنسټ راډیو هم فعاله کړي.

په اړه خبرې وکړي. له دي وروسته د پوهنتون د محصلینو او استادانو لخوا پوښتنې وشوي.

**پوښتنه**: ولي طالبانو د خپل نظام پر مهال نجونو ته ښوونځي ته د تلو اجازه نه ورکوله.

**متوکل صاحب**: هغه مهال جګړې وي، نجونو ته ښوونځیو ته د تګ او هلته د زده کړې شرایط برابر نه وو. تر بل هر څه خلکو امنیت ته اړتیا درلوده، ولي بیا هم نجونو ته د زده کړو مخه نه وه نیول شوې، کوم ځای چې شرایط مهیا وو، هلته نجونو تعلیم کاوو. په هرات ولایت کې میرمنو ته ډیره توجه کېدله، ځکه په نسبې ډول هلته د مجاهدنیو له وخته نظام جوړ او ډیرې جګړې نه وي شوي.

**پوښتنه**: طالبان ولي د نشیې توکو د کښت مخه تر خپل کنټرول لاندي نه نیسي.

**متوکل صاحب**: طالبانو د خپل نظام پر مهال د کوکنارو کښت ختم کړ، خو نړیوالي ټولنې مرسته ورسره ونه کړه، اوس هم د حکومت تر کنټرول لاندي سیمو کې د کوکنارو زیات کښت کیږي. طالبانو ته یو ډول سخته ده چې د دوی تر کنټرول لاندي سیمو کې د کوکنارو کښت باندي بندیز ولګوي، او ورسره جوخت د حکومت تر کنټرول لاندي سیمو کې د کوکنارو کښت ته اجازه وي.

**پوښتنه**: که طالبان بیا واک ته رسیږي، د میرمنو حقونه به ورکړي یا نه؟ میرمني به د کار کولو او ښوونځیو ته د تګ اجازه ولري یا نه؟

**متوکل صاحب**: د طالبانو د نظام پر مهال هم د میرمنو حقونو ته ډیره توجه کېدله، جګړئیز حالت وو، شرایط سم نه وو، که طالبان بیا واک ته رسیږي، او

شرایط سم وي، حتمې ده چې میرمنو ته به د هغوی ټول حقونه د اسلامي مقرراتو په دننه کې ورکول کیږي. اوس مهال په کابل کې د نجونو ځانګړې ښوونځی لرو، او نجوني په کې زده کړې کوي. طالبان غواړي چې د زده کړو ګډ (مختلط) سیستم نه وي، بلکې د نجونو او هلوکانو لپاره جدا ښوونځې وي. چې همدا اوس د افغانستان حکومت هم همدا کار په ښوونځیو کې کړی، خو په پوهنتونو کې مختلط سیستم روان دی.

**پوښتنه**: د طالبانو اوسنی جوړښت څه ډول دی؟

**متوکل صاحب**: طالبان په خپل جوړښت کې بېلابېلې کمیټې لري، هره کمیته یو مشر او نور غړي لري، مثلاً د ښوونې او روزنې کمیټه، سیاسي کمیټه، نظامي کمیټه، د روغتیا کمیټه، د علماوو کمیټه او داسې نور ...

**پوښتنه**: طالبان به بیا هم د حکومت انحصار وغواړي، که به له نورو سره د حکومت پر شراکت هوکړه وکړي؟

**متوکل صاحب**: کله چې طالبانو کابل ونیوی، تر څه مودې پورې ټولو وزارتونو ته سرپرست وزیران معرفي شول، طالبانو هڅه کوله چې له نورو ډلو سره ګډ نظام ولري، او هغوی خپل کسان ځینو وزارتونو ته معرفي کړي. ولې د طالبانو له ډیرو هڅو سره سره ونه توانېدل چې له مخالفو ډلو سره جوړ جاړی وشي، او بالاخیره د اداري کارونو د ښه پرمختګ په موخه طالبانو بیا همدا سرپرستان، وزیران او د کابینې غړي ونومول، چې مشرې یې رئیس الوزراء کوله، او هغه دوه مرستیالان درلودل.

اوس هم که طالبان واک ته رسیږی، هغوی په یوازې ډول نظام نه شي مخکې وړلای، له نورو افغان ډلو سره به تفاهم کوي، او طالبان نه غواړي چې د واک انحصار ولري.

**یادونه**: متوکل صاحب ډیرې اوږدې خبرې نه کوي، لنډې خبرې او اساسي ټکي وایې. په غونډه کې د طالبانو اړوند نورې خبرې هم وشوي، خو اساسي مسایل همدا پورته وو چې موږ ولیکل.

غونډه ډیره اوږده نه وه، موږ په پوهنتون کې لږ ساعت نور هم پاتې شوو، او د ماښام ډوډۍ لپاره پوهنتون سره نږدې د دوی نسبتاً تاریخي خوړنځي ته ولاړو.

موږ پلي روان وو، لا خو خوړنځي ته نه وو رسیدلي چې د نړیوالو اړیکو د څانګې مشر په باسیکل را ورسید، او له موږ سره یو ځای خوړنځي ته ننوتی.

زموږ سره د پوهنتون میرمنې استادانې هم وي، دوی دیګونه را وغوښتل، اوبه یې پکې جوش کړي، رنګا رنګ بحري سبزي او د جاپان تر ټولو مشهور او قیمتي ماهی یې دیګ کې واچول، دیګ ته یې نه غوړي، نه مالګه او نه هم مساله واچوله. داسې سبزي وو چې د مالګي، مسالې او خوږو پخولو لپاره د اړینو موادو کار یې خپله ورکاوو.
ډیر په زړه پوري خواړه وو، شوروا وه، خو دومره لذیذه چې بیا تر دې مهاله هغه ډول د څښلو لپاره شوروا ما خوړلي نه ده.



ماسانوري نایتو، حسن کوناکاتا، متوکل او زه (لیکوال)



# تر غونډې وروسته

د مارچ پر ۳مه ورځ، موږ بیا د حسن کوناکاتا سره منظرې او د تاریخي ځایونو لیدو ته ووتلو، له هوټل سره نږدې د طلایي گمبدې ودانۍ وه، د بودایانو مذهبي ځای وو، او همدلته د بواد د بوت ځای هم جوړ شوی وو.

ښکلې ودانۍ وه، دروازې یې ټرلي وي، یوازي د باندي لخوا خلکو ورته کتل، او شا وخوا یې ډنډ اوبه او کټاره وه، د ننوتلو لاره یې ټړل شوې وه.

د جاپان ځینې د پخواني وخت نمونې نښې هم دلته لېدل کېدی، گلانو او ونو ته اوبه د بانس لرگیو کې چې د پایپ شکل لري، ورکول کېدي.

جاپان کې شین چای ډیر څښل کیږي، او د شنو چایو بېلابېل ډولونه لري، یوې کوچنۍ هټي ته ورغلو، له شین چای سره خواږه چې راړل شول، د طلا د اوبو څاڅکې ورباندي څڅول شوې وو. حسن وویل چې د دې ځای همدا خواږه د ځانگړي خوند او طلایې اوبو له امله ډیر مشهور دي.

تر ډیره د پاخه عمر جاپانیان همدلته بوت ته راتلل، او د بوت ودانۍ کې ژنگوله به یې ډنگوله. له همدې سره لږ ها خوا یو ځای موږ ولید، هلته خلکو د جاپاني ین (پیسو) میده (وړي) د اوسپنې پیسې اچولي، په دي ځای درې ډبرې درول شوې وي، حسن کوناکاتا ویل چې دا ځای د سپین مار قبر دی، او د جاپان ځینې مذهبي خلک عقیده لري چې سپین مار پیغبمر دی، دوی سپین مار ته درناوی کوي، او له هغه څخه د خپلو حاجتونو پوره کولو غوښتنه کوي.

نرۍ باران وو، موږ پلې پکې ګرځېدو، چترۍ هم را سره نه وې، موږ يوې بلې ګمبدي ودانۍ ته هم ورغلو، دا بيا د شنتو مذهب مذهبي ځای وو، دلته هم بوت اېښودل شوی وو، او خلکو به د ودانۍ دروازه کې ژنګوله ډنګوله، بيا به يې له ځان سره څه ويل او تلی به، خو د ودانۍ مخې ته د شرابو غټ غټ خُمان (د خاورې غټ بېلرونه) اېښودل شوې وو، په شنتو مذهب کې شرابو ته ځانګړی عقيدت شتون لري.

د پوهاند عبدالشکور رشاد زوی ډاکټر خالد رشاد هم کيوټيو ښار ته نږدې کوم بل ښار کې اوسيدی، غرمنۍ ته هغه هم را ورسيد، موږ ته ويل شوې و چې پاکستاني خوړنځي ته ځو، هلته حلال خواړه دي، خو چې ورغلو، هندی خوړنځي وو، بيا هغوی وويل چې حلال خواړه لري، او نور مسلمانان هم وخت ناوخته همدې خوړنځي ته راځي.

تر مازيګر پورې ډاکټر خالد رشاد له موږ سره وو، له هغه سره يوازې د هيواد اړوند بحثونه کېدل، تر ډېره سياسي بحث نه وو.

ډېره په زړه پورې وه، يوې جاپانۍ ميرمن غوښتل چې متوکل صاحب سره ووينې، ماسپښين مهال د جوسو يو ښکلي ځای کې موږ په چوکيو کې ناست وو، هغې ميرمنې وويل چې په کابل کې پيدا شوې او اوسيدلې ده، هغې ويل په دري ژبه به خبرو وکړو.

جاپانۍ ميرمني خبرې په دري پيل کړې، متوکل صاحب ماته وکتل، ويې ويل چې تاسي يې په خبرو پوهيږئ، ومې ويل چې زه خو د هغې په دري نه پوهيږم. له موږ سره شامل هم وو، د هغه هم لږ لږ دري زده وه، موږ مخکې هم وويل چې که جاپانۍ ميرمن په خپله مورنۍ ژبه خبرې وکړي، نو بيا به يې

شامل په انګریزي موږ ته وژباړي، خو میرمني ټینګار درلود چې په دري ژبه خبرې کول ورته اسانه دي او په انګریزي ژبه هم خبرې کولای شي.

موږ له جاپانۍ میرمنې وغوښتل چې په انګریزي خبرې وکړي، خو کله چې هغې انګریزي خبرې کولي، بیا موږ یو بل ته کتل، تر دې چې له شامل څخه مو پوښتنه وکړه، هغه هم ویل چې په خبرو یې نه پوهیږي.

په خورا ادب مو له هغې میرمنې وغوښتل چې په خپله مورنۍ ژبه خبري وکړي، او شامل به موږ ته د هغې د خبرو ژباړه وکړي. هغې جاپانۍ میرمنې ومنله، په جاپاني ژبه یې خبرې پیل کړي، او شامل ځیر ځیر ورته کتل، غوږ یې ورته نیولی وو، شامل هم جاپانی دی، او مسلمان شوی وو.

لږ وروسته شامل کټ کټ وخندل، موږ ته یې وویل چې زه خو د دې میرمني په جاپاني خبرو هم نه پوهیږم، نزاکتاً موږ مجلس ته څو شیبې دوام ورکړ، هغه میرمن ډیره خفه شوه، ځکه تفاهم ونه شو، خو د هغې د پوزې مشکل وو، په مورنۍ ژبه عادي خبرو یې هم په سخته څوک پوهیدلای شوای.

د مارچ ۴مه ورځ، سهار مهال، حسن، شامل او قیوم، هوټل کې زموږ اطاق ته راغلل، همدلته مو ازاد بحث وکړ. متوکل صاحب د خپل چاپ شوې کتاب یوه یوه نسخه ورکړه، او له هغوی یې وغوښتل که جاپاني ژبې ته هم وژباړل شي. همدارنګه په افغانستان کې د ځینو تعلیمي عام المنفعه پروژو اړوند متوکل صاحب یادونه ورته وکړه.

مازیګر مهال موږ یو لوی د بریښنایي توکو مارکیټ ته ولاړو، ولي هلته ډیر برقي توکې چینایې وو، شامل وویل، ځکه چینایې توکې دي، چې د جاپاني

بریښنایي توکو قیمت ډیر لوړ وي، او جاپانیان هم دا چینایي توکي اخلي، خو د همدې چینایي توکو کیفیت هم د جاپان په معیار جوړ شوی دی.

ما (لیکوال) یوه کوچنۍ راډیو واخیستله، کله چې ما پیسې ورکولي، حسن کوناکاتا وویل چې د بهرنیانو له پاره ٪۵ لږوالی شته، ما غوښتل چې پیسې ورکړم، نږدې ۲ ډالره کېدل چې موږ ته تخفیف راکړي. ولې موږ حسن پرې نه ښودو چې ټولې پیسې ورکړو، ویې ویل چې دا اصول دي، باید موږ یې مراعت کړو. ستونزه دا وه چې د راډیو قمیت ۲۰۰۰ جاپاني ین وو، او د بهرنیانو لپاره د مارکیټ ډیرو کارکونکو ته نه معلومېدله چې څومره اندازه سودا وشي او ٪۵ تخفیف پکې ورکول شي، نږدې نیم ساعت موږ حسن وګرځولو، بالاخیره د مارکیټ منجیر یې پیدا کړ، او هغوی د جاپان هیواد د محصول څانګې ته ټلیفون وکړ، له هغوی یې معلومات تر لاسه او بیا یې موږ ته تخفیف هم راکړ.

د جاپان کیوټو ښار کې په ۵ ورځو کې موږ کیدای شي دوه ځله د کوم موټر هارن اوریدلی وي، او هلته په څلور لارو کې پولیس هم نه درېدل، خلکو یې ټرافیکي قوانین په بشپړ ډول مراعت کول، خو ډیرو خلکو باسیکل باندي ګرځېدل د بېلابېلو لاملونو له مخې خوښول، زموږ کوربه حسن کوناکاتا چې عمر یې تر ۵۰ کلونو اوښتی و، هغه به هم په باسیکل باندي ګرځیدی.

د شپې نږدې ۱۱ بجې زموږ الوتنه له کانسای هوایي ډګر څخه دوبۍ ته وه، او له هغې خوا څخه زموږ سفر تر ۱۱ ساعته واوښت.

داچې په کیوټو ښار کې مو څو ورځې ډیرې په مجلسونو او ګرځېدو تیرې کړې وې، زه (لیکوال) چې ډیر خوب لرم، د الوتکې له پرواز سره ویده شوم،

لږ وروسته چې د الوتکې میلمه پاله راغله چې د خوراک اړوند را څخه پوښتنه وکړي، هغې ته مې وویل چې زه خوب کوم، او نه غواړم چې څه وخورم. کله چې د الوتکې پیلوټ اعلان کاوو چې د دوبۍ هوایې ډګر ته را نږدې شوې او د الوتکې ارتفاع کموي، هغه وخت له خوبه راپورته شوم.[۷]

دوبۍ هوایې ډګر کې موږ نږدې ۵ ساعته انتظار درلود، او له هغه ځایه کابل ته ماسپښین قضاء را ورسیدو.



[۷] د امارات هوایې کرښې الوتکو ځانګړې (بزنس کلاس) چوکۍ ډیرې مسترح او پراخه دي، نیمه چپرکټ ته ورته بڼه هم له چوکۍ څخه جوړیدای شي.

## طالبانو سره قطر کې د حسن کوناکاتا لیدنه

پروفیسور حسن کوناکاتا له ما (لیکوال) څخه د طالبانو او حزب اسلامي اړوند ډیري پوښتني کولي، هغه وپوهیدی چې زموږ کورنی له حزب اسلامي سره پاتې شوې او د حزب اسلامي له مهمو غړو سره زه (لیکوال) پیژندگلوي لرم، همدا ډول له طالب مشرانو سره هم پیژندگلوي لرم.

حسن کوناکاتا له متوکل صاحب او ما (لیکوال) څخه وغوښتل چې جاپان کې د داسي ناستې لپاره ورسره مرسته وکړو، چې د طالبانو او حزب اسلامي استازي هم پکې گډون وکړي.

دوه میاشتې وروسته پروفیسور حسن کوناکاتا کابل ته راغی، دلته یې له ډیرو کسانو سره لیدل غوښتل، جاپان ته تر موږ مخکې د ډوشیشا پوهنتون لخوا د حزب اسلامي مردم افغانستان گوند مشر وحیدالله سباوون هم تللی وو، له همدې امله حسن کوناکاتا د سباوون صاحب اړوند ځای کې اوسیدی.

حسن کوناکاتا له متوکل صاحب او ضعیف صاحب سره جلا جلا ولیدل، او له دواړو یې وغوښتل چې راتلونکې غونډه کې ورسره مرسته وکړي. ضعیف صاحب ته یې په راتلونکې غونډه کې د گډون کولو بلنه هم ورکړه، او ضعیف صاحب ومنله چې قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر له کسانو سره به جاپان کې د غونډې اړوند خبره شریکه کړي.

دا ځل حسن ناکاتا بیرته جاپان ته ولاړ، ځکه دومره ژر سخته وه چې قطر کې له طالبانو سره دده ناسته ترتیب شي. خو چې جاپان ته ولاړی، هر وخت به یې له ما (لیکوال) سره اړیکه نیوله او له طالبانو سره د مجلس غوښتنه به یې کوله.

څو ځله مې ضعیف صاحب ته یادونه وکړه، قطر کې وو، هغه ته مې ایمیلونه ولیږل، ولې جواب مې تر لاسه نه کړ.

زه پوه شوم چې ضعیف صاحب نه غواړي په دي حساس وخت کې دغه ډول مسئله د طالبانو سره مطرح کړي، ځکه هغه وخت د جګړو شدت زیات وو، د طالبانو ټول تمرکز په جګړه وه، د سولې خبرې او سولې اړوند مسایلو یادولو سم وخت نه وو.

امریکایې ډیر پوځیان افغانستان ته راغلي وو، باراک اوباما د جګړې ګټلو خبرې کولې، او د ۳۰ زره تازه دمو امریکایې پوځیانو را لیږلو له امله افغانستان د جګړې تنور وو.

ضعیف صاحب ته مې وویل که اجازه وي، زه له طالبانو سره اړیکه ونیسم او د جاپان د ناستې اړوند به له هغوی سره مفاهمه وکړم، هغه خوشاله شو.

موږ یوازې د ایمیل د لارې کولای شوای چې د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد (مستعار نوم) سره اړیکه ونیسو، ځکه د طالبانو د قطردفتر د غړو ایمیل ادرس را سره نه وو.

سخته وه، دا اندیښنه هم وه چې که طالبانو ته په دغه ډول غونډه کې دګډون خبره زموږ له خوا کیږي، ممکن هغوی فکر وکړي، چې موږ په کابل کې د بهرنیانو لپاره کار کوو، او یو ډول یې په راتلونکې کې هم په ځان شکمن کړو.

زما (لیکوال) تجربه داده چې کوم کار د الله ج د رضا لپاره وي، شخصي ګټه پکې نه وي، هغه کار په ګټه تمامیږي.

په ډېر محتاط ډول مې جاپان کې د غونډې اړوند ذبیح الله مجاهد ته ولیکل او له هغه مې وغوښتل چې بیرته مثبت او یا هم منفي جواب تر لاسه کړم.

له توقع لوړ، ډېر مثبت او ښه ځواب مې تر لاسه کړ، هغه لیکلي وو چې مسئله په قطر دفتر کې د طالبانو له سیاسي کمیسون سره شریکوي، او ځواب ته به منتظر شو.

وروسته ما ځواب تر لاسه کړ، او د مجاهد صاحب لخوا لیکل شوي وو چې د قطر د سیاسي دفتر کسان به په دوحه کې له حسن کوناکاتا سره وګوري، ماته یې د قطر دفتر سره د اړیکو لپاره ایمیل ادرس هم را لیږلی و چې حسن کوناکاتا ته یې ورکړم. دکتور حسن ما (لیکوال) ته د اپریل ۹مه ۲۰۱۲، ایمیل را ولیږی، چې هغه به قطر ته ځي، هلته به ۲۱ تر ۲۵ اپریل پوري وي، تر څو له طالبانو سره ګوري.

د اپریل پر ۲۳مه، زه هیڅ پوه نه وم، له جلال اباد څخه کابل ته په لاره وم، چې په ټلیفون مې د حسن کوناکاتا پیغام تر لاسه کړ، لیکلي یې وو چې عاجل اړیکه ورسره ونیسم، ځکه کابل ته په لاره په ځینو ځایو کې ټلیفون کار نه کوي.

حسن کوناکاتا راته وویل چې په دوحه کې د طالبانو لپاره یې دوه ورځې انتظار کړی، او نن شپه بیرته له دوحې څخه پرواز لري، د طالبانو لخوا هیڅ جواب یې نه دي تر لاسه کړی، په داسي حال کې چې طالبان یې خبر کړي وو چې په همدې نیته به دوحې -قطر ته ورځي.
اوس نو زه نور وریښمین تنګي ته ننوځم، په تنګي کې بیا هر ځای ټلیفون کار نه کوي، په ځینو ځایونو کې ټلیفون کار کوي. هغه وخت پرمختللي ځیرک ټلیفونونه هم زموږ سره نه وو چې ایمیل او انټرنیټ هر ځای ولرو. له

مجاهد صاحب سره مې اړیکه ونیوله، هغه ویل لږ وروسته به جواب درکړم، خو حسن ډیر تلواري وو، هغه اندیښمن وو، چې له جاپان څخه راغلی، او که لېدنه یې له طالبانو سره ونه شي، د ده ټوله ستړیا او خواري به همداسي ولاړه شي. پرله پسي یې د اړیکو نیولو هڅه کوله، او چې د تنګي کوم ځای کې به ټلیفون سیګنال ورکړ، د هغه ټلیفون به راغی، او خپله اندیښنه به یې بیا ځل تکرار کړه.

ماته مجاهد صاحب پیغام راکړ چې حسن کوناکاتا ته ووایم چې انتظار شي، حسن ته مې پیغام ورساوو، لږ وروسته بیا د مجاهد صاحب لخوا پر ټلیفون پیغام را ورسید چې مازیګر ناوخته به په دوحې کې د حسن هوټل ته کسان ورشي، د هغه ادرس ورته معلوم دی.[۸]

زه لا کابل ته نه وم را رسیدلی چې حسن کوناکاتا بیا اړیکه ونیوله، ویې ویل چې مننه، زما سره طالبانو اړیکه ونیوله، هغوی مجلس ته را ځي.
کله چې کورته راغلم، حسن کوناکاتا ټلیفون را وکړ، هغه ډیر زیات خوشاله وه، له طالبانو سره یې لیدنه شوي وه، او طالبانو مثبت پېغام ورکړی وو. طالبانو دا هم ورته ویلي وو چې غونډې ته د کسانو معرفي کولو کې به له مشرتابه سره مشوره کوي.
له هغه وروسته بیا ځل هم حسن کابل ته راغی، دلته یې له ضعیف صاحب (۱۲ مئ ۲۰۱۲)، متوکل صاحب او نورو افغان سیاستوالو سره ولېدل. د غونډې نیته او په غونډه کې ضعیف صاحب ته د ګډون بلنه یې بیا ځل

[۸] حسن کوناکاتا د قطر دفتر طالبانو ته خپل د اوسیدو ادرس (ګینګز ګیټ هوټل Kingsgate Hotel Doha ) په ایمیل لیږلي وو، خو دا چې ولي هغوی د لیدو لپاره په وخت نه وه ورغلي، او یا طالبانو د هغه ایمیل ته جواب نه وو ورکړی، ما یې بیا پوښتنه ونه کړه.

ورکړه، زما یادونه ضعیف صاحب وکړه، ویې ویل چې زه (ضعیف ) او مطمئن به دواړه په غونډه کې ګډون وکړو.

دکتور حسن د مئ **۳۱**مه د جون تر **۳**مې قطر کې وو، هلته یې بیا ځل له طالبانو سره ولیدل، او په جاپان کې د غونډې اړوند یې ورسره خبرې کړي وي.



دکتور حسن کوناکاتا

# جاپان ته دویم ځل تګ

د ډوشیشا پوهنتون څخه موږ بلنلیکونه تر لاسه کړل، داسي وخت وو چې ضعیف صاحب په قطر کې وو، خو فرانسي ته هم کومې غونډه کې د ګډون لپاره تلی. او له هغه وروسته د جاپان غونډې نیټه هم ډیره نږدې وه، د ضعیف صاحب لپاره د ویزې اخیستل لږ جنجالي مسئله شوه، ځکه قطر کې باید هغه د جاپان سفارت ته پاسپورټ تسلیم کړی وای، دا کار یې ځکه نه شوای کولای، فرانسي ته یې سفر درلود.

ضعیف صاحب یو ډول د جاپان غونډه کې له ګډون څخه ځکه مایوسه شو چې قطر کې په وخت ویزه ورته ونه شوه، زه (لیکوال) د ډوشیشا پوهنتون له اداري سره اړیکه کې وم، بالاخیره د پوهنتون اداره وتوانېده چې فرانسه کې د جاپان سفارت سره مفاهمه وکړي او هلته ضعیف صاحب ته ویزه ورکول شي.

د جنوري ۲۳مه ما (لیکوال) له کابل څخه دوبۍ ته او ضعیف صاحب له قطر څخه دوبۍ ته الوتنه درلودله، زه دوبي ته ماخوستن ۹:۳۰ بجې ورسیدم، او ضعیف صاحب د شپې ۱:۳۰ بجه را ورسید، موږ شاوخوا دوه بجې هوایي ډګر کې یو بل سره پیدا کړل، او درې بجې اوساکا ته الوتنه وه.

له دوبۍ څخه د جاپان کاناسای هوایي ډګر ته د امارات الوتکې ۹:۱۰ دقیقې مزل دی، چې له الوتنې او کښته کېدني سره نږدې ۹:۳۰ مزل کیږي.

امارات الوتکې کې مناسب صحي خواړه، اوبه او جوس وي، همدا رنګه په چوکیو کې خوب کیدلای شي.

کله چې موږ د کاناسای هوايې ډګر کې کښته شوو، د مهاجرت (امګريشن) څانګې ته يې وروستلو، هغوی له موږ څخه پاسپورټونه واخيستل، د دې پر ځای چې جاپان ته د ننوتلو مهر ولګوي، او يا هم له موږ څخه پوښتنه وکړي، موږ يې يو بل ځای ته بوتلو، هلته يو بل افغان هم کينول شوی وو.

په هوايې ډګر کې د جاپانيانو چلند له موږ سره سم نه وو، په داسي حال کې چې مخکې له مخکې ما (ليکوال) ضعيف صاحب ته د جاپان دخلکو اړوند ويلي وو چې ډير مؤدب او له نورو خلکو سره ډير ښه چلند کوي، ولي دلته زما د خبرې برعکس، زموږ سره مؤدبانه چلند ونه شو. له ځان سره مې ويل چې ممکن جاپان ته د ضعيف صاحب لومړی ځل راتګ وي، دا چې ډير زيات مشهور دی، څو کاله وړاندي يې نوم هم د امريکا او ملګرو ملتونو په تورلسټ کې وو، همدا وجه به وي.

سر خلاصی اطاق وو، په منځ کې يې کوچنی ديوال، دا لوی اطاق په دوو برخو ويشلی وو، دوې دروازې يې درلودلې، او داخل کې يې شاته بل ځای هم درلود. زه او ضعيف صاحب يې د همدې سالون يوې برخې ته رهنمايې کړو، او هغه بل افغان يې بلې برخې کې وو. کله چې به هغه افغان د هوايې ډګر لوی سالون ته کتل، نو هغه څارونکې کس به ورته ويل چې هغې لور ته مه ګوره، او چې هغه به غوښتل له موږ سره خبرې وکړي، هم به يې له خبرو څخه منع کاوو.

موږ هيڅ نه پوهيدو چې د جاپانيانو چلند ولي داسي دی، خو ما (ليکوال) او ضعيف صاحب خپلو منځو کې خبرې کولې، او موږ په همدې کوچني ځای کې ګرځيدو هم، مګر هغه څارونکي کس موږ ته څه نه ويل.

له هغه مو وغوښتل چې تشناب ته ولاړ شو، اودسونه وکړو، اجازه يې راکړه، خو هغه بل افغان ته يې اجازه نه ورکوله.

تر نيم ساعت زيات يې موږ همدلته منتظر کړي وو، او هيڅ يې هم نه ويل، وروسته يې موږ دواړو ته پاسپورټونه راوړل او له هوايي ډګر څخه د وتلو اجازه يې وکړه، هغه بل افغان يې همهلته کينولی وو.

د هوايي ډګر د مسافرو ښه راغلاست ځای کې دکتور حسن کوناکاتا ولاړ و، له قطر څخه دوه طالب استازي هم را رسيدلي وو، هغوی ټول موږ ته انتظار وو. همدلته مو د ضعيف صاحب په امامت سره لمونځ وکړ. لږ څنډ نور هم موږ انتظار شو، وروسته حسن کوناکاتا وويل چې تاسي درځئ، زه پاتې کيږم، د هغه بل افغان اړوند اړتيا ده چې زه همدلته پاتې شم.

زموږ ټولو ښه راغلاست لپاره هوايي ډګر ته دکتور حسن کوناکاتا، د پوهنتون استاد ماسټر احمد، ښاغلي قيوم او مشهور ژورنالست شامل سنوکا راغلي وو، دوی څلور واړه جاپاني مسلمانان وو.

طالب استازي يې ډيپلوماټ ډوله بنز موټر کې کينول، له هغوی سره غالباً شامل، او موږ يې په بل موټر کې کينولو چې ځوان مسلمان جاپانی احمد را سره موټر کې کيناست.

بيا هم دوه ساعته د موټر لاره وه، موږ د کيوټيو ښار په يوه ارام او ښکلي هوټل کې ځای په ځای شوو. له ډوډۍ خوړلو وروسته خپلو اطاقونو ته د خوب لپاره ولاړو، تر سهاره مې ښه خوب وکړ. خو ضعيف صاحب ويل چې تر سهاره خوب را نه غی، او شپه يې ويښه تيره کړي وه، يو خو د ځای بدلون او کيدای شي چې نور لاملونه به يې هم وه چې خوب نه وو ورغلی.

## هیرو شیما، د امریکا اټومي بم باندي ویشتل شوی ښار

د جون ۲۵مه، هیروشیما ته د تلو پروګرام وو، له هوټل څخه د کیوټیو ښار د میټرو ګاډي تم ځای ته ورغلو، همهلته مو د ماسپښین مسافرانه لمونځ وکړ، میټرو ګاډی را ورسید، تر هیروشیما پوري ۶۰۰ کیلو متره لاره وه.

زموږ د تګ او راتګ لګښت د جاپان یوې کورنۍ رسنۍ ورکاوو، په میټرو بس کې یې ځانګړی ځای (بزنس کلاس) نیولی وو، داسي ځای چې پرته له موږ په هغه ډیرو چوکیو کې بل څوک نه وو ناست.

میټرو کې سفر بېل خوند درلود، تر الوتکې یې تګ ښه، چوکۍ لویې او پستې، او د جاپان د کرنې د ځمکو منظره په زړه پوري وه.

په میټرو کې له موږ (ضعیف صاحب، قاري دین محمد حنیف او دکتور صالح) سره حسن کوناکاتا او د جاپان د کورنۍ رسنۍ دوه تنه استازي یو ځای وو، د میټرو تګ په یوه ساعت کې ۴۰۰ کیلومتره وو، یو نیم ساعت وروسته د هیروشیما ښار ته ورسیدو.[۹]

په دي ښایسته ښار کې د هیروشیما د سولې د یادون موزیم Hiroshima Peace Memorial Museum ته ورغلو، د موزیم د بنسټ ډبره پره ۱۹۵۵ ز کال کې ایښودل شوې وه.

---

۹ جاپان ته تر تګ مخکې حسن کوناکاتا ته ما (لیکوال) د ضعیف صاحب پیغام رسولی وو، که ممکن وي چې هیروشیما ښار ووینو. د هیروشیما ښار د لیدنې پر مهال ضعیف صاحب د خبریال د پوښتنې ځواب کې چې ولې یې د هیروشیما لیدل غوښتل وویل: "غوښتل مې چې د امریکا کړنې په خپلو سترګو ووینم، چې د جاپان له خلکو سره یې څه کړي دي، اوس مهال همدا خلک چې دلته یې اټوم بم کارولي، د سولې او بیا رغونې په نوم زموږ هیواد ته هم راغلي دي. "

زموږ له ورتګ سره سم، د هیروشیما موزیم دروازې سره یوه جاپانۍ خبریاله ولاړه وه، هغې یو ډول مزاحمت کاوو، غوښتل یې خپل راپور جوړ کړي، په داسې حال کې چې موږ د هیروشیما تاریخي موزیم لیدو ډېره زیاته تلوسه درلودله.

د همدې تاریخي موزیم څخه د جاپان د امپراطور، او لومړي وزیرانو په ګډون ډیری د نړۍ مشرانو، په ۱۹۸۲ کې د ملګرو ملتونو سرمنشي ریکاردو پرز دکوئیار، په ۱۹۵۹ ز کال کې د هند لومړي وزیر جواهر لعل نهرو،۱۹۸۴ مئ میاشت کې د امریکا ولسمشر جیمي کارټر، ۲۰۱٦ مئ میاشت کې د امریکا ولسمشر بارک اوباما او ۲۰۱٦ اپریل کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري، په ۱۹۹۲ کې د پخواني شوروي اتحاد ولسمشر میخایل ګورباچوف لیدنه کړې وه.

د بودایانو مذهبي مشر دالایي لا مای څوارلسم (تنزین جیاستو) د مارچ ۳۰مه، ۱۹۹۵ ز کال او د عیسویانو مذهبي مشر پاپ جان پال دویم هم د فبروري ۲۵مه، ۱۹۹۸، سهار پر لس نیمې بجې د هیروشیما سولې موزیم څخه لیدنې کړې وه.

د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال، د اګسټ ٦مه، ۱۹۴۵ کال، سهار پر ۸:۱۵ بجې د امریکا لخوا پر هیروشیما ښار باندې اټومي بمب غورځول شوې وو، چې یاد ښار یې د اور په لمبو کې وسوځاوو، انسانان، حیوانات، ونې او بوټې او هر څه په ایرو بدل شول. د اټومي بمب له امله نږدې ۹۰ زره تر ۱۴٦ زره جاپانیان ووژل شول، چې ډیری پکې ملکي کسان وو.

د هیروشیما ښار کې د اوبو لوی نهر تیر شوی، موږ ته جاپانیانو وویل چې کله اټوم بم د امریکا لخوا کارول شوی وو، ځینو جاپانیانو د اور د لمو او ګرمۍ له امله همدې اوبو ته ځانونه ور غورځوي وو، خو د لویې ویالې اوبه

دومره گرمي وي، چې د حرارت درجه یې تر سل سانتي گراډ درجې ډیره لوړه وه، هر چا چې ځان اوبو ته غورځولی وو، هغوی د اوبو د زیاتي گرمۍ او جوش له امله پکې مړه شوې وو.

همدارنگه د امریکا لخوا د جاپان په ناگاساکي ښار باندي د اگسټ پر ۹مه اټومي بم واچول شو، او هلته د جاپاني پوځیانو په گډون له ۳۹ زره تر ۸۰ زره جاپانیان ووژل شول، د هغې سیمې هیڅ ژوندی سری پاتې نه شو، انسانان، حیوانات او نباتات ټول د اور په لمبو کې ایره شول. چې ټول ټال د هیروشیما او ناگاساکي ښارونو کې له ۱۲۹ زره تر ۲۲٦ زره جاپانیان ووژل شول.

په موزیم کې یو زوړ ساعت ایښول شوی، چې ۸:۱۵ باندي یې ستن ولاړه ده، همدارنگه د امریکا د اټومي بمب غورځولو په موخه چې د امریکایې مشرانو تر منځ کومه ناسته شوې، هغه انځور هم شتون لري.

موزیم کې د اټومې بمب د غورځیدو وروسته د خلکو په اور کې سوځېدل ټول په هنري ډول باندي هلته په انځورونو او مجسمو کې جوړ شوې دي، او د هغه وخت د جاپانیانو کلتوري شیان هم په موزیم کې ایښودل شوې.

د موزیم له ودانۍ د باندي د نورو ونو منځ کې یوه ونه وه، هغې ته په ډبره باندي لیکل شوې وو، چې د اټوم بم له وخته یې یوه ریښه ژوندۍ پاتې شوې وه، اوس بیا رغول شوي.

د هیروشیما ښار کې هغه ودانۍ د تاریخ برخه ده چې د اټوم بمب د استعمال پر وخت په بشپړ ډول نه وه نړیدلي، هغه وخت کې په یاده دوه پوړیزه ودانۍ کې قوي سیخ کارول شوی وو، ودانۍ سوځیدلي وه، خو اسکلیټ یې جوړ پاتې شوی و، د جاپان حکومت یاده ودانۍ پر خپل حال پري ایښي ده، او سیلانیان ورڅخه لیدنه کوي.

موږ د خپلو جاپاني کوربنو لخوا د هیروشیما ځینو نورو تاریخي ودانیو او د بودایې دین مذهبي ځایونو ته هم وروستل شوو، ښه ډیر وګرځیدو، خو له کیوټیو بیا همدلته ټولو ځایونو کې د ګرځیدو پر مهال خبریالان را سره ملګري وو، او هغوی ډیري پوښتنې د طالبانو د قطر دفتر له استازو او ضعیف صاحب څخه کولي، تر څو خپل راپور ورباندي جوړ کړي. پر سبا د جاپان په تر ټولو مشهورو او مهمو ورځپاڼو کې، جاپان ته د طالبانو د استازو د راتګ اړوند راپورونه ورکول شوې وو.
د غرمې ډوډۍ مو ناوخته د هیروشیما ښار کی وخوړله، په زړه پوري وه، هیڅ داسي فکر نه کیدی چې دا به هغه ښار وي چې ٦٧ کاله تر مخه د اور په لمبو کې داسي سوځیدلي و چې هیڅ شی پکې ژوندی پاتې شوی نه وو. اوس د هیروشیما ښار تک شین، جګې جګې شنې وني، شنه چمنونه، ښایسته دنګې دنګې ودانۍ، پاک سړکونه، او شنې اوبه لیدل کیږي.
د هیروشیما او ناګاساکي اړوند په انټرنیټ کې ډیر لا زیات معلومات وګورئ، د جاپان هغه دوه ښارونه چې د امریکا لخوا په ۱۹۴۵ ز کال کې ورباندي اټومې برید شوی وو.



دکتور مزارگل صالح، ملا عبدالسلام ضعیف، دکتور حسن کوناکاتا او زه
(لیکوال)



د جاپان د کورنۍ رسنۍ خبریالان او زموږ میلمه پال

# تر غونډې یوه ورځ مخکې

د جون ۲۶مه، سهار چای ته چې ولاړو، د حزب اسلامي استازی غیرت بهیر هم هلته ناست وو، بهیر صاحب له کوربه جاپاني څخه د هغه بل افغان (صدیق منصور) په اړه پوښتنه وکړه، ویې ویل چې هغه د شپې ناوخته له هوایي ډګر څخه په ضمانت را وایستل شو، ستونزه ورته پیدا شوې وه. اوس به بیا ورځو.

نن ډیره بوخت کوونکي ورځ وه، په کابل کې د جاپان سفارت لومړی سکرتر هم کیوټو ښار ته را رسیدلی وو، هغه زما لیکوال سره په اړیکه کې وو، غوښتل یې چې همدلته په هوټل کې د طالبانو له استازو او ډاکټر غیرت بهیر سره وګوري.

ښاغلي ټنیموټو Takuya Tanimoto په جلا جلا ډول له غیرت بهیر او طالبانو له استازو سره د هغوی د اوسیدو په کوټو کې وکتل، له طالبانو سره یې زیات وخت تیر شو، او ټنیموټو بیا په همدې هوټل کې شپه هم وکړه، ممکن بیاځل یې هم د شپې مهال له طالب استازو سره دوېمه لیدنه شوې وي.

نن ورځ د ځینو مهمو جاپاني ورځپاڼو خبریالان هم په نوبت کې ناست وو چې له طالب استازو سره مرکې وکړي، تر ډیره د وخت ترتیب زما (لیکوال) پر غاړه وو.

د پرون ورځې راپورونه هم ورځپاڼو خپاره کړې وو، د طالبانو استازو د افغانستان د دولت سره د سولې اړوند مخامخ خبرې کول رد کړي وي، طالبانو ویلي وو چې د کابل اداره بې واکه او نا وسه ده، موږ نه غواړو چې خپل وخت ضایع کړو، او د امریکا سره خبرې کول به هغه وخت بیرته پیل کړو چې کله هغوی زموږ سره لومړی تعهد چې د ګوانتانامو څخه د پاتې افغان بندیانو خلاصول دي پر ځای کړي، ترڅو چې د ګوانتانامو د بندیانو په

اړه د امریکا دریځ روښانه نه شي، ترهغه وخته به خبري (ډیالوګ) نه کیږي. او موږ هیڅکله هم له امریکا سره د مذاکراتو سرحد ته نه یو ننوتلي، یواځې مقدماتي خبري (ډیالوګ) ورسره شوې وي چې هغه هم دوی په خپلو کړو ژمنو ونه دریدل.

ډاکټر غیرت بهیر هم په هوټل کې و، هغه غوښتل چې مخکې له کنفرانس څخه د طالبانو له استازو سره ووینې، او په خپلو منځونو کې د سولې اړوند خبري وکړي. خو د طالبانو استازو ویل چې موږ یوازې ددې له پاره راغلي یو چې د سولې اړوند په څیړنیز او علمي کنفرانس کې د افغانستان د اسلامي امارت دریځ او موقف روښانه کړو، او د سولې اړوند خپله طرحه وړاندې کړو.

د ورځې ماسپښین درې بجې د ټلویزونو او ورځپانو له مرکو څخه د طالبانو استازي او ضعیف صاحب خلاص شول، دوشیشا پوهنتون ته د نړیوالو څیړنو د پوهنځي له رئیس ښاغلي مسانوري نایتو سره د کتنې له پاره موږ ټول د غیرت بهیر په شمول ولاړو.

نایتو د سبا ورځې کنفرانس په اړه معلومات شریک او خبري وکړي، هغه دا هم وویل چې د افغانستان څخه د سولې د عالي شورى د دارالانشاء رئیس معصوم ستانکزى دوشیشا پوهنتون نه وو دعوت کړى، کله چې هغه د کنفرانس څخه خبر شوى وو، د ګډون غوښتنه یې وکړه او درې ورځې مخکې موږ دهغه د ګډون غوښتنه ومنله، نن ماښام به را ورسیږي او سبا ورځ به هغه هم په کنفرانس کې ګډون وکړي.
په همدې ورځ له نایتو سره تر ناستې وروسته یو ځل بیا شیخ حسن د طالبانو استازو ته وویل چې نن ماښام د سولې عالي شورى د دارلانشاء رئیس معصوم ستانکزي را رسیږي، د هغه غوښتنه دا ده چې ستاسي سره ووینې او

خبري وکړي. د طالبانو استازو شیخ حسن ته وویل: "موږ په هیڅ ډول نه غواړو چې په ځانګړي ډول د کابل د ادارې سره خبري وکړو، دا چې په کنفرانس کې موږ ګډون کوو او هغه به هم هلته ناست وي، ستونزه یې نه ګڼو، موږ خپل موقف سبا ټولو ګډونوالو ته اعلانوو."

په همدې ورځ ډاکټر غیرت بهیر ډیر وخت د ضعیف صاحب سره د هغه په کوټه کې تیر کړه، او له هغه سره یې خبرې کولې، که څه هم نن ورځ ضعیف صاحب او د طالبانو استازي له ټنیموټو او رسنیو سره بوخت وو، او زه (لیکوال) هم د سبا غونډې تیاري اړوند په ځینو نورو کارونو بوخت وم.

ضعیف صاحب بیا وروسته ما (لیکوال) ته وویل چې غیرت بهیر ورڅخه وغوښتل چې د طالبانو او حزب اسلامي تر منځ دي وساطت وکړي، تر څو یوې موافقې ته ورسیږي.

ما (لیکوال) ضعیف صاحب ته وویل: اوس به لا وختي وي، که داسې وخت راغی چې د طالبانو او حزب اسلامي ترمنځ د اړیکو نږدې کېدو هڅې پیل او پوه شوئ چې نتیجه به ورکړي، هغه وخت که بیا د ثالث باالخیر په توګه عمل وکړئ، ښه به وي.

ماښام د طالبانو استازي، غیرت بهیر، ضعیف صاحب او زه (لیکوال) د مسلمان جاپاني احمد کور کې میلمانه وو، دکتور حسن، شامل او قیوم هم وو، د احمد میرمن د اندونیزیا اوسیدونکې وه، دوی موږ ته دومره خوندوره ډوډۍ راکړه، چې مړیدل وربانديي نه وو، د اخلاص ډوډۍ وه، د محبت او اسلامي ورورولۍ ډوډۍ وه.

په همدې ورځ معصوم ستانکزي له ضعيف صاحب څخه هم غوښتي وو چې طالبان راضي کړي، تر څو له دوی سره وګوري او د افغانستان سولې اړوند ورسره خبرې وکړي، خو طالبانو د معصوم ستانکزي سره خبرې کول ونه منل.



د احمد کور کې ماښامنۍ

# ډوشيشا پوهنتون کې غونډه

ډوشيشا پوهنتون د جاپان د ډيرو پخوانيو شخصي پوهنتونو له جملې څخه دی، ياد پوهنتون په ۱۸۷۵ ز کال کې په کيوټو ښار کې جوړ او دا مهال نږدې ۳۰ زره محصلين يې د کيوټو ښار په بېلابېلو ۴ ودانيو کې تر ۱۵ زياتو د زده کړو څانګو (فاکولټو) کې درلودل.

د جون پر ۲۷مه، د جاپان د کيوټو ښار، ډوشيشا پوهنتون په ډير ښايسته سالون کې د افغانستان د سولې او بيا پخلاينې غونډه وه، له امريکا سره د طالبانو او افغان ولس تر ۱۱ کلنې جګړې وروسته؛ لومړی ځل وو چې د طالبانو لوړ پوړي استازي په داسې يو نړيوال کانفرنس کې ګډون کوي.

کله چې د غونډې سالون ته ورسيدو، هلته د افغان دولت د سولې عالي شورا د دارالانشاء رئيس معصوم ستانکزی او يو بل کارکوونکی هم ورسره ناست وو.

د غونډې ګډونوال د طالبانو استازي (ښاغلی قاري دين محمد، ښاغلي دکتور صالح)، ښاغلي مولوي عبدالسلام ضعيف، د اسلامی حزب استازی ډاکټر غيرت بهير، د افغان دولت او سولې عالي شوری استازی معصوم ستانکزی او زه (ليکوال) وو. ددي سربيره ژورنالستان، په جاپان کې پېژندل شوي ميښت افغانان، افغان محصلين، د افغانستان په چارو کې د جاپان پوهان، د اندونيزيا، فلسطين، ترکيې، قرغزستان او نورو هيوادو محصلين او د پوهنتون استادانو ګډون درلود، د ټولو ګډونوالو شمير نږدې سل تنو ته رسيدی.

غونډه د دوشیشا د پوهنتون د عمومي رئیس دکتور ایجي هاتا Prof. Dr. Eiji Hatta له خوا څخه په ښه راغلاست او مقدماتي خبرو پیل شوه، وروسته د نړیوالو څېړنو د څانګې رئیس دکتور مسانوري نایټو Prof. Dr. Masanori Naito د کنفرانس اړوند خبري او ښه راغلاست ووایه.

هر ویناوال ۴۰ دقیقي وخت درلود، لومړی ویناوال د افغان - ترک تعلیمي انجو مشر ښاغلی نعمان اردغان Numan Erdogan وو، هغه د سیمي، افغانستان او سولې اړوند د خپلې وینا لیکل شوي متن ووایه.

دوهم ویناوال د طالبان د سیاسي کمیسون او قطر کې د طالبانو د دفتر غړی قاري دین محمد حنیف و، هغه په ۹ پاڼو کې اوږد لیکل شوی متن ګډونوالو ته وړاندي کړ. متن په دري او انګریزي ژبه لیکل شوی وو، قاري دین محمد په دري ژبه متن لوست او ډاکټر صالح یې انګریزي ژباړه وړاندي کوله.

د قاري دین محمد د وینا عنوان : د اسلامي امارت کړنلاره :
۱ ۰ د بهرنیو پوځیانو وتلو اړوند. او
۲ . د افغانستان د کشالې حل او سولې اړوند و.
د وینا مهم سرلیکونه یې: د طالبانو د پیدایښت انګیزه : ۱ – اسلامي نظام. ۲ – په ټولیز ډول امنیت. ۳ – د هیواد بیا رغونه وه.
د طالبانو لاسته راوړنې: ۱ – د اسلامي نظام قایمېدل. ۲ – د وسلو ټولول. ۳ – تر ٪۹۰ زیاته برخه د هیواد کې د امنیت تامین. ۴ – د افغانستان د ویش او تجزیې مخنیوي. ۵ – د کوکنارو د کښت، سوداګري او قاچاق مخنیوی. ٦ – د خلکو د سر، مال، عزت او ابرو ساتل. ۷ – د میرمنو د حقونو اعاده او ساتنه. ۸ – د خپلو مالي امکاناتو په تناسب د بیا رغونې کارونه. او ۹ – د پوهنې برخه کې کار کول.

پر افغانستان د امریکا حمله او عواقب یې:

۱ – د یو خپلواک هیواد اشغال کول. ۲ - بشري حقونه تر پښو لاندې کېدل. ۳ – د فساد خپریدل. ۴ – د خلکو وژنه، د کورونو نړېدل او ذراعت تخریب. ۵ – د ولسي خلکو وژنه او ځورېدل. ٦ – د کوکنارو د کښت، قاچاق زیاتېدل. او ۷ – د میرمنو ضد کړني.

قاري دین محمد په ۵۵ دقیقو کې خپله وینا بشپړه کړه، چې د وینا پښتو متن یې د کتاب وروستۍ برخه کې شته.

دریېمویناوال مولوي عبدالسلام ضعیف و، هغه د افغان سولې اړوند مسوده او لیکلي نظر په څلورو پاڼو کې په پښتو او انگلیسي ژبه د کنفرانس گډونوالو ته وړاندي کړ، هراړخیزه د سولي اړوند مسوده وه او د کنفرانس د گډونوالو د خوښي او توجه وړ وگرځیدله. بشپړ متن د کتاب په وروستۍ برخه کې شته.

۱۱ نیمي بجې د غونډې لومړۍ برخه پای ته ورسېدله، د طالبانو استازي، غیر بهیر، معصوم ستانکزی، ضعیف صاحب، دکتور حسن او زه (لیکوال) د غونډې تر سالون لاندي برخه کې بل سالون ته ولاړو، یوه میرمن هم همدې سالون ته را دننه شوه، هغې تر پایه هیڅ خبره ونه کړه، او هیچا هم د هغې په اړه پوښتنه ونه کړه، چې دا میرمن څوک ده، ما (لیکوال) په غوږ کې ضعیف صاحب ته وویل: دا ناسته میرمن راته امریکایې ښکاري، او همدې غونډې ته راغلي وه، اوس دلته ناسته ده.

میاشتې وروسته، چې کله دکتور حسن کابل ته راغی، بیا ما (لیکوال) هغه ته وویل چې هغه ناسته میرمن ماته امریکایې ښکاریده، مګر تاسي معرفي نه کړه، هغه هیڅ هم ونه ویل.

ماسپښین یوه بجه د غونډې د لومړۍ برخې پاتې برخه پیل شوه، ټول ګډونوال بیا هم په سالون کې حاضر وو، او په پوره لیوالتیا یې خبرې اوریدې.

لومړی ویناوال د حزب اسلامي استازی غیرت بهیر وو، هغه لږ مقدماتي خبرې وکړې، او بیا یې وروسته د حکمتیار صاحب ۱۶ میاشتې وړاندې په رسنیو کې خپره شوې د سولې اړوند طرحه (۱۷ مادې) په انګریزي ژبه ګډونوالو ته وړاندې کړه. بشپړ متن یې د کتاب وروستۍ برخه کې دی[۱۰].

وروستی ویناوال د افغان حکومت استازی معصوم ستانکزی و، د سولې اړوند یې خبرې وکړې، سوله یې اړینه وبلله، پر دې یې ټینګار درلود چې طالبان باید د سولې مذاکرات له افغان حکومت سره پیل کړي. هغه په خپلو خبرو کې څرګنده کړه چې له طالبانو غواړي په نظام کې ګډون ولري.

معصوم ستانکزي له ځان سره کومه لیکلې طرحه نه درلودله او نه یې هم دسولې شورې اړوند لاسته راوړني وویلې. له بده مرغه چې هغه وخت ما (لیکوال) ونه شو کولای چې د هغه د خبرو یادښت ونیسم.

---

[۱۰] د حزب اسلامي افغانستان په ۱۵ مادو کې د سولې طرحه د ۲۰۱۰ ز کال د فبروري میاشت کې په کورنیو او بهرنیو رسنیو کې خپره شوې وه. او همدا طرحه د دوو مادو په زیاتوالي او لږ بدلون سره د ۲۰۱۲ جنوري میاشت کې بیا ځل کورنیو او بهرنیو رسینو ته په واک کې ورکول شوه او خپره شوه.

د غونډې لومړۍ برخه په ۲:۲۰ دقیقې پای ته ورسیدله، او لس دقیقې د چاي څښلو لپاره وخت وو.

د کنفرانس دویمه برخه له ۰۲:۳۰ تر ۵:۳۰ د سوالونو او ځوابونو له پاره وه، د همدې برخې پیل دکتور حسن کوناکاتا وکړ.

هغه افغان حکومت په فساد کې ښکېل وګاڼه، او د نړیوالو مرستې یې په افغانستان کې بې ځایه لګول شوې وبللې. همدارنګه دکتور حسن وویل چې افغان حکومت کې چارواکي په هره برخه کې په فساد کې ښکېل دي، چې دا هغه څه دي چې د افغان دولت او خلکو تر منځ یې فاصله زیاته کړي، او د نړیوالو باور یې پر افغان حکومت کم کړی دی.

معصوم ستانکزي د حسن ناکاتا خبرو ته غبرګون وښود، هغه له افغان حکومت څخه دفاع وکړه، ویې ویل چې شته، فساد به وي، خو په دومره لوړه کچه هم نه دي لکه چې دکتور حسن وویل.
د ګډونوالو له منځه یوه تن پوښتنه وکړه چې په افغانستان کې د پوهنې بهیر او په ځانګړي ډول د طالبانو تر واک لاندې سیمو کې څه ډول دی، ځکه داسې راپورونه شته چې طالبان مکتبونه سوځوي، او په خپلو سیمو کې ښوونې او روزنې ته اجازه نه ورکوي.
زه (لیکوال) او ضعیف صاحب څنګ په څنګ ناست وو، هغه ته مې وویل چې سوال خو د طالبانو مربوط دی، خو زه په دې برخه کې تازه او ډېر معلومات لرم، که بده نه وي، زه د سوال جواب ورکوم، ضعیف صاحب ویل، ښه کار دی، او قاري دین محمد حنیف ته هم ما (لیکوال) اشاره وکړه چې زه جواب ورکوم.

مطمئن: د پوهنې برخه کې چې کوم نړیوال راپورونه ورکول کیږي، او کوم څه چې په داخل کې لیدل کیږي، کاملاً فرق لري. جنوري ۲۰۱۱، د افغان حکومت د

پوهني وزير فاروق وردګ په بريتانيا کې د ۷۰ هيوادونو د پوهني وزيرانو په غونډه کې وويل:" افغانستان کې د مکتبونو سوځېدل يوازي طالبان نه کوي، بېلابېلې ډلې د خپلو شخصي ګټو او اهدافو ته د رسيدو په موخه دا کار کوي، ځينې ځايونه ښوونځي د خپلي اداري لخوا، ځينې ځايونه د امريکايانو او ناټو لخوا او ځينې ځايونه د طالبانو لخوا سوځول کيږي. داسي هم کيږي چې د ښوونځي استادان ددې لپاره چې معاشونه واخلي او دنده اجراء نه کړي، په سېمه کې ښوونځی سوځوي. "

زموږ د کلي ښوونځي په هلمند کې لومړی ځل (۲۰۰۵ ز کال) و چې وسوځول شو، مکتب د مخکېني والي شيرمحمد اخوندزاده کسانو وسوځاوو؛ ځکه چې نوی والي محمد داوود راغلي و تر څو هغه د امنيت په راوستلو کې پاتې وښيې.

ډيری ښوونځي د امريکايانو لخوا سوځول شوې، تر څو يې پړه پر طالبانو ور واچول شي، او ډير داسي دي چې ښوونځی اصلاً شتون نه لري، خو معاشونه يې د پوهني وزارت مامورين خپلو جيبونو ته اچوي، نو بيا دوی وايې چې دومره تعداد ښوونځي د نا امني له امله تړل شوې[11] .

[11] په ۲۰۱۳ ز کال کې د پوهني د وزير فاروق وردک سکرتر نعمت الله محمودي ته ما (ليکوال) د خوست ولايت انجنير نصرالله معرفي کړ، محمودي ادعا کوله چې په خوست کې يې نږدې ۴۰۰ ښوونځي د طالبانو لخوا تړل شوې، کله چې نصرالله له طالبانو سره خبره شريکه کړه، طالبانو د تړل شوو ښوونځيو لسټ وغوښت، هر څومره چې بيا له محمودي څخه د تړل شويو ښونځيو لسټ وغوښتل شو، هغه دا کار ونه کړ، وروسته ما (ليکوال) ته نصرالله وويل: " اصلاً تړلي ښوونځي نشته، دا

بل محصل پوښتنه وکړه چې د طالبانو تر واک لاندي سېمو کې اوس هم کوکنار په زیاته اندازه کرل کیږي، په دي اړه د طالبانو تګلاره څه ده؟

قاري دین محمد: موږ د خپل نظام پر مهال د کوکنارو کښت صفر کړ، خو نړیوالو هیڅ توجه ونه کړه، اوس هم د طالبانو تر واک لاندي سېمو کې دومره کوکناره نه کرل کیږي، څومره چې د افغان حکومت تر واک لاندي سېمو کې کرل کیږي. زموږ تګلاره پخوانۍ ده، د کوکنارو کښت نه پرېږدو، ولي اوس چې د افغان حکومت تر واک لاندي سېمو کې یې کښت کیږي، او که موږ بندیز ولګوو، د خلکو په حق کې دوه ګونی چلند کیږي.

یو بل ګډونوال: ولي طالبان له افغان حکومت سره د سولې خبرې نه کوي؟

قاري دین محمد: موږ سولې ته ژمن یو، سوله غواړو، د سولې خبرې له افغانانو سره کوو، همدا اوس هم جاپان ته د سولې خبرو لپاره راغلي یو. امریکا پر افغانستان حمله کړي، تر څو چې د هغوی اشغال ختم نه شي، او هغوی د خپلو پوځیانو د وتلو موافقه ونه کړي، افغان حکومت د خبرو واک نه لري.
بل ګډونوال: طالبان ولي د میرمنو سره زښت چلند کوي، او د میرمنو حقونه نه ورکوی.

قاري دین محمد: د طالبانو د نظام پر مهال د میرمنو حقونو ته توجه شوې وه، اسلام میرمنو ته حقونه ورکړي، او د اسلام په رڼا کې موږ د میرمنو حقونو ته په درنه سترګه ګورو، خو هغه حقونه چې لویدیځ یې وایې، ځینې یې د اسلام له نظره سم نه دي.

بل ګډونوال: داسي راپورونه شته چې د طالبانو په لیکو کې ماشومان د افغان حکومت پر ضد جګړه کوي.

---

ټول خیالي لستیونه دي چې د پوهنې وزارت لخوا ترتیب شوي او د یادو ښوونځیو په نوم د استادانو معاشونه او نورې تر لاسه کیدونکي پیسې خپلو جیبونو ته اچوي. "

قاري دین محمد: کله چې د طالبانو نظام وو، په جگړه کې ماشومانو ته اجازه نه ورکول کېدله، او هر وخت به له نظامي قطعاتو څخه څارنه کېدله، اوس هم د طالبانو تګلاره داده چې ماشومانو ته اجازه ورنه کول شي، او موږ په دې برخه کې پوره هڅه کړې. ولې د کابل اداري په لیکو کې د کوچنیانو د شتون راپورونه تاید شوي.

ضعیف صاحب سولې ته د رسیدو په لارو چارو باندې وږغیدی، او دا ډول غیرت بهیر هم د سولې اړوند خپل نظریات وویل.

له دې بحث وروسته، د غونډې ترتیبوکونکو لخوا، سولې ته د رسیدو لپاره مشترک ټکي وویل شول، او غونډه په ۵:۳۰ بجې پای ته ورسېده.

د غرمنۍ پر مهال او د غونډې په پای کې یو ځل بیا معصوم ستانکزي د طالبانو له استازو وغوښتل چې د څو شیبو لپاره په ځانګړي ډول ورسره کښینې او د افغان سولې اړوند خبرې ورسره وکړي، خو طالبانو ونه منله.



معصوم ستانکزی، اردغان، ضعیف، مطمئن، بهیر، قاري حنیف، حسن کوناکاتا

# ګډه ماښامنۍ په تاریخي هوټل کې

تر غونډې وروسته د ماښامنۍ لپاره د پوهنتون د ادارې لخوا موږ ټول افغانان، د ترکیې او فلسطین ځینې کسان د کیوټیو ډېر تاریخي د جاپان کلتوري خوړنځي ته بوتلل شوو.
له پخوانیو لرګیو جوړې شوې زینې کې موږ د هوټل دوېم پوړ ته ور وختلو، یو ښایسته اطاق و، چې لرګي پکې کارول شوې وو، اطاق په دوو برخو ویشل شوی و.
حسن کوناکاتا او د پوهنتون نور استادانو غوښتل چې دا ځل معصوم ستانکزی د طالبانو له استازو سره د ډوډۍ یو میز ته کښیني. له همدې کبله ما (لیکوال) دکتور صالح ته وویل چې موږ به په هغه بل ځای کې کینو، لږ ازاد بحث به له دې ترکي او فلسطیني ورونو سره وکړو، یو لوری مو بشپړ مشرانو ته پریښود. لومړی ځل وو چې معصوم ستانکزی د طالبانو د استازي قاري دین محمد مخامخ د ډوډۍ خوړلو میز تر شا کیناست، ضعیف صاحب، غیرت بهیر، د پوهنتون استاد، ترکی او بل کس هم ورسره کیناستل، ټول ۷ کسان د ډوډۍ میز ته کښیناستل.
موږ همدومره کسان همدلته بل جلا میز ته د ډوډۍ لپاره کیناستلو، د ډوډۍ خوړل پیل شول، زما (لیکوال) پام وو چې هلته د طالبانو استازي خبرې نه کولې، معصوم ستانکزي له غیرت بهیر او ضعیف صاحب سره خبرې کولې، زموږ خواته میز باندې موږ خنداوې کولې، او مجلس مو ښه ګرم کړی وو.
زما (پام) بیا هم د مشرانو د میز لور ته وو، دکتور صالح ته مې وویل چې دوی خو داسې ناست دي لکه چې سره خوابدي وي، ور ولاړ شوم، ور ږغ مې کړل چې ستاسې خواته خو کوم څه کم نه دي، بیا مې ورته وویل چې دا واښه (سبزي) لږ نور را وغواړم. ضعیف صاحب وخندل، ویې ویل موږ خو انسانان یو، واښه نه خورو، همدا د خبرو، خندا او ټوکو پیل وو، ضعیف

صاحب د واښو اړوند په زړه پوري ټوکه وکړه (له یاده مې وتلي)، اوس نو د میز شاوخوا ټولو افغانانو خندل، زموږ خنداوي په زوره شوې، قاري دین محمد، غیرت بهیر، ضعیف صاحب، معصوم ستانکزي هر یوه د خپلې سیمې ټوکې کولې، نور د جګړې او سیاست خبرې ختمې شوې. موږ ډیر زیات وخندل، هغه نور بهرنیان چې زموږ په خبرو نه پوهیدل، هغوی هیښ وو، چې د اخلک ولې خاندي، په داسې حال کې چې دلته دوی دښمنان سره ناست دي.

بیا وروسته دکتور صالح وویل چې دا بل میز ته ناست بهرنیان دومره تعجب کې وو، چې حیران وو، دا څه ډول افغانان دي چې هلته یو بل سره وژني، خو دلته یو میز ته ناست، او ټول لوري خندا کوي.

رښتیا خبره دا ده چې قاري دین محمد له معصوم ستانکزي سره خبرې نه کولې، خو د یو بل ټوکو ته یې خندل.







# د پژواک اژانس ناسم خبر

پژواک خبري اژانس Pajhwok Afghan News د غونډې اړوند راپور ورکړی وو چې د افغان حکومت استازو او طالبانو په جاپان کې د سولې مخامخ خبرې پیل کړي، موږ ټوله ورځ سترې تیره کړي وه، زه او ضعیف صاحب په یوه کوټه کې ناست وو چې دکتور صالح راغی، او د پژواک د خبر اړوند هغه ډیر خفه وو، ویل یې د طالبانو مشرانو قاري دین محمد سره اړیکه نیولې او هغوی شکمن دي چې کیدای شي همدا کار سهواً شوی وي [۱۲].

ما (لیکوال) پژواک خبري اژانس ته ایمیل واستاوی، له هغوی مې وغوښتل چې خبر سم کړي، او داسي څه نه دي شوي.

همدارنګه موږ له دکتور حسن کوناکاتا سره خبرې وکړې، هغوی په رسمي ډول د ډوشیشا پوهنتون ویب پاڼه کې خبر خپور کړ، او د پژواک راپور یې ناسم وباله، همدا رنګه یې د پژواک خبري اژانس ادارې ته ایمیل واستاوی چې خپل ناسم خبر سم کړي.

پژواک اژانس د داسي چا له خولې دا خبر خپور کړی وو چې اصلاً هغه کس ته په غونډه کې د ګډون اجازه هم نه وه ورکول شوې، خو هغه له خپله ځانه پژواک ته ویلي و چې د غونډې ګډونوال دی، او په ډوشیشا پوهنتون کې د طالبانو او حکومت د استازو ترمنځ مخامخ خبري پیل شوې.

---

[۱۲] کله چې زه بیرته کابل ته راغلم، متوکل صاحب هم په دي نظر و چې د طالبانو او معصوم ستانکزي ترمنځ په جاپان کې پټه او ځانګړي ناسته شوې.

همدا ماښام او سبا سهار بيا ځل هم معصوم ستانکزي له ضعيف صاحب او دکتور حسن څخه په ټينګار غوښتنه وکړه، که طالبان راضي کړي چې له ده سره ځانګړي ناسته وکړي. ضعيف صاحب هغه ته وويل: " ماته د طالبانو موقف معلوم دی، په هيڅ ډول او صورت ستاسي سره د سولي اړوند خبري نه کوي او نه هم په دي اړه درسره کښيني."

## تر غونډې يوه ورځ وروسته

د جون ۲۸مه ورځ، سهار چاى او ناشته مو هوټل کې وکړه، په همدې ورځ دکتور حسن د طالبانو له استازو او ضعيف صاحب څخه وغوښتل چې دده ملګرى ښاغلى اونو موتوهيرو Ono Motohiro د جاپان د سلاکارانو شورا غړى له ټوکيو ښار څخه راغلى، او غواړي له دوى سره وګوري. ضعيف صاحب او طالبانو ورسره وکتل.

يو بل کس چې اصل کې پاکستانى وو، هغه هم له ټوکيو ښار څخه همدلته راغلى و، هغه هم غوښتل چې له طالبانو، ضعيف صاحب او ډاکټر غيرت بهير سره وګوري. دکتور حسن له ټولو وغوښتل چې ورسره وګوري، خو يوازي بهيرصاحب ومنله چې له هغه سره ګوري.
د غرمي ډوډۍ لپاره د المغرب هيواد اصلي اوسيدونکو کسانو خوړنځي ته ولاړو، خواړه ډير لذيذ او په ځانګړي ډول المغربي چاى، هلته د ډوشيشا پوهنتون ځينې افغان محصلين او ځينې مسلمان جاپاني محصلين هم را بلل شوې وو.
له محصلينو سره د ډوډۍ پر مهال او بيا وروسته له ډوډۍ څخه خبرې وشوي، جاپاني مسلمان محصلين ډير مينه ناک وو، هغوى غوښتل چې ډير

څه واوري، خو همدا ورځ زموږ له جاپان څخه د ستنېدو ورځ وه، ولې له محصلینو سره بیا هم اړین مجلس وشو.

په همدې ورځ موږ د ځینې بریښنایې توکو اخیستلو لپاره بازار ته ولاړو، ولې هر څه گرانه وه، خو هر ملگري څه نا څه سودا وکړه، او بیرته هوټل ولاړو.



د طالبانو استازی قاري دین محمد حنیف

# بیرته را ستنېدل

د جون ۲۸مه ورځ تر ماسپښین قضاء موږ له افغان او جاپاني مسلمان محصلینو سره ناست وو، مازیگر مهال سودا ته ولاړو، او ماښام بیرته خپل د اوسیدو هوټل ته ولاړو، تر څو هوایي ډگر ته د تگ لپاره چمتووالي ونیسو.

له هوټل څخه هوایي ډگر ته د تگ لپاره د طالبانو استازو، غیرت بهیر او ما ضعیف صاحب ته ځانگړي موټران راغلي وو، غیرت بهیر وویل چې موږ درې واړه به په یوه گاډي کې کینو، په لاره به مجلس هم وکړو. طالبان په بېل موټر کې کیناستل.

دوه ساعته لاره وه، د حزب اسلامي او طالبانو ترمنځ د یو ځای کېدو خبرې وشوې، تر ډیره غیرت بهیر منله چې حکمتیار صاحب په ځینو مواردو کې تیروتنې کړي. له ضعیف صاحب څخه یې غوښتل چې د طالبانو او حزب اسلامي تر منځ د نږدېوالي کوشش وکړي.

ضعیف صاحب وویل: د امارت لپاره خو یو مشر معلوم وي، آیا حکمتیار به ملامحمد عمر اخوند د مشر په توگه ومني؟

غیرت بهیر: ډیر ځله چې له طالبانو سره خبرې شوې، ستونزه همدا ده، حکمتیار صاحب لا هم نه دی چمتو چې ملامحمد عمر اخوند د امیر په توگه ومني. هغه غواړي چې په ځینو وختونو او مواردو کې حزب اسلامي او طالبان په گډه کار وکړي.

ضعیف صاحب: حکمتیار به دي ته هم نه یې چمتو چې له حزب اسلامي څخه تیر او له طالبانو سره یو ځای شي.

غیرت بهیر: حکمتیار غواړي چې حزب اسلامي یو قوت وي، او له طالبانو سره دغه ډول کړنې ته هم چمتو نه دی.

زموږ د دوه ساعته مزل د بحث ډیره برخه همدا خبرې وي، چې وروسته بیا ضعیف صاحب ورته وویل چې اوس خو تاسي له نورو طالبانو سره هم اړیکه کې به یاست، له هغوی سره خبرې به کوئ، کله چې حکمتیار صاحب هم لیوالتیا وښودله، او موږ پوه شو چې اوس نږدیوالی شونی دی، هغه وخت به بیا خبرې کوو، ان شاء الله.[۱۳]

هوایي ډگر ته ورسیدو، په ۱۱:۴۰ د شپې زموږ الوتنه له کاناسی هوایي ډگر څخه دوبي ته وه، ټول ټال سفر تر ۱۰ ساعته زیات و. دوبۍ هوایي ډگر کې غیرت بهیر له هوایي ډگر څخه ښار ته ووتی، ما (لیکوال) او ضعیف صاحب په هوایي ډگر کې لږ سودا وکړه، چې بیا وروسته ضعیف صاحب قطر او زه کابل ته راغلم.

---

[۱۳] نومبر ۲۰۱۸ کې ضعیف صاحب ما (لیکوال) ته وویل: "کله چې زه د طالبانو د نظام پر مهال د دفاع وزارت اداري رئیس او سرپرست وم، حکمتیار صاحب زما سره اړیکه ونیوله، دوه ځله مو خبرې وشوې، هغه ویل چمتو یم چې له ملامحمد عمر مجاهد سره بیعت وکړم، او کوم شرط هم نه لرم، خو ټینگار یې درلود چې خپله له ملامحمد عمر مجاهد سره په ټلیفون خبرې وکړي.

کندهار ته ولاړم، ملامحمد عمر مجاهد ته مې د حکمتیار اړوند وویل، هغه ویل چې زه پوهیږم چې حکمتیار صاحب له ټاکنو څخه نه تیریږي، خو بیا هم چې تاسي (ضعیف) وایاست خبرې به ورسره وکړم.

کله چې حکمتیار او ملامحمد عمر اخوند زما پر سټلایټ ټلیفون خبرې وکړې، چې خبرې خلاصې شوې، ملامحمد عمر مجاهد وویل: ما خو ویل چې هغه له ټاکنو نه تیریږي، ویل یې چې مشروط بیعت کوم، دوه کاله وروسته به انتخابات کوئ.

بیا وروسته حکمتیار صاحب ما (ضعیف) ته ډیر زنگونه وهل، خو جواب مې ورنه کړ."

# د طالبانو استازي قاري دين محمد د رسمي بيانيې متن

د:

۱. د بهرنيو سرتېرو د وتلو،

۲. د افغانستان د لانجې حل او په هېواد کې سولې په تړاو

د افغانستان د اسلامي امارت دريځ.

ويندوی: د افغانستان د اسلامي امارت د سياسي دفتر غړی آدينه محمد [۱۴]

ځای: د ډوشيشا پوهنتون، اُساکا، جاپان.

نېټه: ۲۷ / ٦ / ۲۰۱۲ ز. کال

بسم الله الرحمن الرحيم

تر ټولو لومړی، د جاپان له حکومت په ځانګړې توګه د دوشيشا پوهنتون محترم رييس پروفيسور ايجي هاتا، د نړيوالو څېړنو پوهنځي رييس پروفيسور ډاکټر ماسا نوري نائټو او د دوشيشا پوهنتون استاد پروفيسور ډاکټر حسن کوناکاتا مننه کوو، چې د موضوع او شرايطو حساسيت په پام کې نيولو، په نړۍ کې د مسلمانانو د ستونزو او په ځانګړې توګه د افغانستان د کشالې د حل په موخه يې په خپل هېواد کې کنفرانس جوړ کړی او د ګډون لپاره يې د افغانستان اسلامي امارت ته هم بلنه ورکړې، هيله لرو چې نور اړخونه هم د حقيقت په لټه کې شي او د افغانستان د موضوع د حل په تړاو د واقعيتونو پر بنسټ ولاړې انګېرنې ولري او په همدې ډول اقدام وکړي.

---

[۱۴] پاسپورټ کې د قاري دين محمد بدل نوم وو، ځکه د هغه اصلي نوم د امريکا او ملګرو ملتونو په تورلسټ کې وو، د دواړو طالب استازو پاسپورټونه افغاني وو. افغان حکنوت کې فساد ډير و، ډيری طالب چارواکو، پرته له دي چې د پاسپورټ رياست ته حاضر شي، د کميشن کارانو په واسطه پاسپورټونه تر لاسه کړي وو، او حتی د ګاونډيو هيوادونو ويزې هم کميشنکارانو ورته وهلي.

## د طالبانو د تحریک د پیلېدو انګیزه

ټولو ته څرګنده ده، چې د غوایي د اومې ناوړې کودتا او د شوروي اتحاد تر ظالمانه تیري وروسته، افغان ولس د هېواد د جیدو علماوو له خوا د جهاد فتوا تر صدور وروسته، له خپلو معتقداتو، هېواد، ملي نوامیسو او ځمکنۍ بشپړتیا څخه د دفاع په موخه، د ساده او دودیزو وسایلو په کارونې سره د یو زبرځواک په وړاندې، چې په پرمختللو وسلو او ټکنالوژۍ سره سمبال و، جهاد یې پیل کړ. د افغان میړني ولس تر استقامت وروسته، د جاپان هېواد په ګډون نړیوالې ټولنې، د افغان مظلوم ولس لپاره هر اړخیزې مرستې چمتو کړې.

د افغانانانو د بې ساري سرښندنو او د نړیوالې ټولنې د مرستو په پایله کې، سیوسیالیستي زبرځواک دړې وړې او نړۍ یې له شره خلاصون وموند.

د مجاهدینو په بریالیتوب سره، افغان ولس د درېیو موخو په تمه وو:

۱ –اسلامي نظام.۲- ټولیز امنیت.۳ –د هېواد بیارغونه.

خو له بده مرغه، یو شمېر کسانو، تنظیمي اختلافونو ته په لمن وهلو سره، د یو بل په وړاندې ودرېدل، چې پایله یې وژنه، ورانې، پاټک سالاري او ملوک الطوایفي شوه، آن هېواد یې د تجزیې له ګواښ سره مخ کړ، د جهاد ټول ویاړونه له لاسه ووتل او د ولس هیلې پر ناهیلي بدلې شوې.

په دغه حساس پړاو کې یو شمېر علماء، مجاهدینو او د دیني مدرسو طالبانو د خپل دیني او ملي مسوولیت په درک کولو سره، د جهادي او مدبر شخصیت ملا محمدعمر مجاهد حفظه الله تر مشرۍ لاندې سره راټول شول او د دغه بې بندباریو او ناامنیو په وړاندې یو خوځښت یې پیل کړ، چې د جهادي قوماندانانو، روڼ آندو او یو شمېر جهادي تنظیمي مشرانو په ګډون، د ټول ولس له هرکلي او ملاتړ سره مخ شو او ملا محمدعمر مجاهد یې د افغانستان د امیرالمومنین په توګه غوره کړ، چې د خدای په مرسته او د خلکو په ملاتړ سره یې وکړای شول، چې تر زیاته بریده په لاندې توګه د خلکو هیلې پوره کړي:

## لاسته راوړنې:

۱ – د اسلامي نظام ټینګښت.۲ – د ناقانونه وسلو راټولول. ۳ – د افغانستان په ۹۰ سلنه خاوره کې د بشپړ امنیت ټینګښت.۴ – د تجزیې له خطره د هېواد ژغورل. ۵ – د نشه يي توکو د کرکیلې، سوداګرۍ او قاچاق بندول. ٦ – د خلکو د سر او مال، عزت او حیثیت خوندیتوب.۷ – د ښځو د حقونو اعاده او خوندیتوب، چې تر دې مخکې، د بدۍ تر نامه لاندې د خپلو خپلوانو د جرم او جنایت قرباني کېدي او د مېراث له حق څخه محرومې وي، امیرالمومنین حفظه الله دغه چارې د ځانګړو فرمانونو په وسیله منع کړې، باید یادونه وکړم، چې امیرالمومنین د يو خصوصي فرمان په ترځ کې، ښځې د رفع دعوا له قانون څخه چې ۳٦ کاله ترې تېر شوی وي، مستثنا کړلي، او دا امتیاز یوازې د ښځو لپاره وو، ځکه هغوی د ټولنې د مظلوم قشر په توګه کلونه کلونه له خپلو حقونو څخه محرومې شوی وي، او داسې کوم لوری نه و، چې د دوی ږغ واوري؛ تر ټولو مهمه دا ده، چې اسلامي امارت، د ښځو د کرامت نه ساتلو، او له سپکاوي څخه، چې تر دې مخکې په معمول ډول یې دوام درلود، مخنیوی وکړ.

۸ – له موجودو امکاناتو او کورني محدودو عوایدو سره سم بیارغونه، لکه څرنګه چې د جلال آباد – کابل، کابل – کندهار، کندهار – سپین بولدک سړکونو د قیر کولو چارې پیل شوې او له جګړې پاتې ورانیو د بیارغونې او ترمیمولو چارې د مرکز په ګډون د هېواد په ټولو ولایتونو کې جریان درلودې.

۹- پوهنه: د اقتصادي ستونزو او د نړیوالې ټولنې له نه مرستې سره سره، اسلامي امارت هغه محصلینو ته اعاشه او اباته ورکوله، چې د پوهنتونونو له ساحې او

حدودو څخه یې کورونه ۱۵ کیلو متره واټن درلود؛ باید یادونه وکړو، چې له اقتصادي ستونزو او ستونزمنو حالاتو سره سره، اسلامي امارت، بیا هم شاګردانو او محصلینو ته د وړیا زده کړو لړۍ ونه دروله.

د اسلامي امارت د واکمنې پرمهال (٦) پوهنتونونه ۲ انسټیټوټونه او ۲ د پیداګوژۍ تعلمي اداري عملاً فعالیت درلود، او تصمیم و، چې په راتلونکو ورځو کې دوه نور پوهنتونونه هم خپل فعالیت پیل کړي، چې چانس ورته پیدا نه شو.

د ښځینه زده کوونکو د ګډې زده کړې په برخه کې، یوازینۍ ستونزه دا وه، چې دا اسلامي امارت ته په مېراث پاتې، او له شرعي اصولو او افغاني دودونو سره یې چندان اړخ نه لګاوه، اسلامي امارت غوښتل، چې دغه ستونزې په تدریجي توګه حل کړي، لکه څرنګه چې د طب انسټیټوټ لوړ ټولګي او د زده کړې او نرسنګ لپاره، ځینې نور مرکزونه په بېلابېلو ولایتونو کې په ملکي او پوځي برخو کې په ځانګړو ځایونو کې عملاً فعال وو او لسګونو زرو نجونو د سویډن مؤسسې د ښوونیزې څانګې تر پوښښ لاندې زده کړې کولې. خو پورتني حقایق په رسنیو کې نه خپرېدل، رسنیو یوازې د منفي ټکو په خپرولو سره، د اسلامي امارت په وړاندې تبلیغات کول؛ لکه څرنګه چې دغه لړۍ اوس هم روانه ده. مور دا ادعا نه کوو، چې پورتنۍ اسانتیاوې د هېواد په کچه کافي وې، خو د هغه مهال تنګو شرایطو په پام کې نیولو سره، د پام وړ خبره ده.

## پر افغانستان د امریکا تېری او برید:

امریکا یوولس کاله مخې د ۲۰۰۱ ز. کال د اکتوبر میاشتې پر ۷ مه نېټه، د ټولو بشري موازینو او د هېوادونو حاکمیت ته د درناوي اصل پرخلاف، په سیمه کې د خپلو سیاسي او اقتصادي موخو د ترلاسه کولو لپاره، په بشپړه بې رحمۍ سره د افغانستان پر خپلواکه خاوره برید وکړ، چې له تروریزم سره یې هېڅ اړیکه نه لرله؛ په دې توګه د امریکا له خوا د افغانستان نېواک هېڅ راز منطقي توجیه نه درلوده؛ ځکه هېڅ کوم افغان د نورو په خاوره کې په کوم پوځي عملیاتو کې لاس نه درلود او نه هم امارت چاته اجازه ورکړې وه، چې د نورو هېوادونو په وړاندې د افغانستان خاوره وکاروي.

## د امریکا له غروره ډک برید پایلې:

دا دی د افغانستان پر خاوره د امریکا له تیرۍ څخه یوولس کلونه تیر شول او د تېرو یوولسو کلونو په بهیر کې څه تېر شوي، ډېری هغه حقایق او واقعیتونه، چې لویدیځو رسنیو پرې پرده غوړولې وه، اوس ټولو ته څرګند شوې؛ غواړم په دې برخه کې په لنډ ډول ستاسې پام لاندې ټکیو ته واړوم:

۱ – د یو خپلواک هېواد نېواک:

امریکایي نېواکګرو د ډیموکراسۍ، همکارۍ، بیارغونې، د سولې ټینګښت او له تروریزم سره د مبارزې تر شعار لاندې، یوازې د خپلو استثماري او استعماري موخو د ترلاسه کېدو لپاره، هڅې کړې، د پوځي اډو او پټو زندانونو جوړول، د تحمیلي تعهداتو لاسلیکول، او د امریکا نړیوال کنفرانسونه ټول د نېواک د تحکیم په موخه ترسره کېږي.

۲ – د بشري اصولو تر پښو لاندې کول:

امریکایي نېواکګرو او د دوی متحدینو، چې ځانونه د نړیوالې سولې او بشر حقونو مدافعین معرفي کوي، په عمل کې ثابته کړې، چې په واقعیت کې دوی پخپله د بشر حقونو ناقضین او سرغړونکي دي، چې خپلو استعماري موخو ته د رسېدو لپاره، له هېڅ راز جرم او جنایت څخه مخ نه اړوي.

۳ – د هېواد په کچه د فساد دودول او خپراوی:

امریکایانو له یوې خوا د افغانستان خلک له یو اسلامي مشروع نظام څخه محروم کړل او له بلې خوا یې د سولې، ثبات او امنیت نعمت ورڅخه واخیست، چې په پایله کې یې ولس، له مادي او معنوي اړخه درانه زیانونه ولیدل.

۴ – وژنه، د کورونو ورانول او د کروندو تخریب:

امریکا او متحدینو یې، له تروریزم سره د مبارزې تر ناموجه نامه لاندې، کلي، باغونه او آن ښارګوټي له منځه یوړل، همدا اوس هم امریکایان او متحدین یې د شپنیو عملیاتو او ړندو بمباریو له لارې، بې ګناه افغانان شهیدانوي. او په زرګونو افغانان یې د ګوانتنامو، بګرام، کندهار او د شینډنډ، ننګرهار، مزارشریف، خوست او نورو سیمو په اډو کې بندیان کړي او په بې رحمانه توګه بندیان ځوروي، چې په پایله کې یې لسګونه تنه شهیدان شوې او په سلګونو کسان معیوب شوي دي، امریکایانو آن د خلکو د دیني مقدساتو او د شهیدانو د پاکو جسدونو د سپکاوي مرتکب شوي، د واده او جنازې مراسم یې بمبارد کړي دي.

۵ – د ولس وژنې او ولس ځورونې پېل:

امریکا او متحدانو یې د جګړې په ډګر کې تر ناکامېدو وروسته، پر بېلابېلو دسیسو لاس پورې کړ، چې یو له هغو څخه د سیمه ییزو اربکیانو د جوړولو دسیسه وه؛ تر دې مخکې د پخواني شوروي اتحاد د تیري او اشغال پرمهال

او د وخت اجیرو رژیمونو له خوا هم د افغان ولس د ټوټې ټوټې کولو په موخه، له دغې ناکامه پروسې څخه کار اخیستل شوی و، چې تر اوسه پورې د هغه مهال د ملیشو دردونکې خاطرې د ولس په ذهنونو کې پاتې دي.

۶- د نشه یي توکو د تولید او قاچاق زیاتېدل او د مافیا تسلط:

د امریکا د نامشروع برید یوه پایله د نشه یي توکو د تولید او قاچاق زیاتوالی دی؛ د نړیوالو معتبرو سازمانونو د شمېرنو له مخې، افغانستان د نشه یي توکو د تولید په برخه کې لومړی ځای [۱۵] خپل کړ، او په داسې حال کې، چې امریکا پر افغانستان باندې د خپل ناروا برید یو مهم لامل، د نشه یي توکو له منځه وړل اعلاناوه، او ټول شاهد دي، چې اسلامي امارت د نشه یي توکو تولید او سوداګري له منځه وړې وه.

۷- د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي پیل او زیاتوالی:

پر افغانستان د امریکا تر تیري وروسته، د افغان ښځو د ښه کېدو پرځای، د هغوی حالت خراب شو، د راپورونو پر بنسټ هر کال نږدې ۲۳۰۰ ښځې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې پر ځان وژنې لاس پورې کوي، چې په دې ډله کې ځان وژنه او ځان سوزنه په ترتیب سره په لومړی او دویمه درجه کې راځي[۱۶].

[۱۵] د جون ۱۶مه ۲۰۱۲، د ملګرو ملتونو راپور ور کړ چې افغانستان د نشیي توکو لومړی درجه تولید کوونکی هیواد دی، او د نړی ۹۰٪ نشیې توکې تولیدوي. په ۲۰۱۱ ز کال کې په ټوله نړی کې ۷۰۰۰ ټنه نشیې توکې تولید شوې چې ۵۸۰۰ ټنه یې یوازې په افغانستان کې تولید شوې.

[۱۶] د عامې روغتیا وزارت د راپورونو پر بنیاد؛ په هیواد کې د میرمنو ځانوژنه لومړی مقام او د میرمنو ځان سوځونه هم ډېره شوې ده.

تاوتریخوالی او د ښځو پر حیثیت او کرامت تیری د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د ښځو له سترو ستونزو څخه دي، په ځانګړې توګه په دې وروستیو کلونو کې دغه ډول جنایت د اربکي وسله والو کسانو له خوا ترسره کېږي[۱۷].

## د امریکا د تیري په وړاندې ملي او مشروع مقاومت:

دا چې امریکا زموږ پر مېړنی ولس ناروا او نامشروع برید وکړ، تمه کېده، چې ټول ولس يې پر وړاندې ودرېږي، چې همداسې وشول، امریکا د نړۍ یو شمېر هېوادونه هم په دې جال کې له ځان سره اخته کړه، چې له بده مرغه د وخت تر تېرېدو وروسته هغوی دا درک کړه، چې حقیقت بل شی دی؛ که څه هم د عدل او انصاف او ژورتیا غوښتنه دا وه، چې هماغه مهال په دې اړه د پرېکړې کولو پرمهال، له احتیاط او هراړخیزې څېړنې څخه کار اخیستل شوی وای، او بیا د موضوع په تړاو پرېکړه شوې واي، چې داسې و نه شول، خو اوس هم فرصت له لاسه نه دی وتلی، چې د یو ازاد او خپلواک ولس د حقه حقونو د ضایع کولو پرځای، بېرته یې اعاده کړي.

د افغانستان خلک، د نوري نړۍ د خلکو په شان حق لري، چې د خپلې خاورې د خپلواکي او له خپلو ملي او دیني ارزښتونو څخه د دفاع په موخه، هڅې وکړي، که چېرې لاندې ټکو ته پاملرنه وشي، نو د حقیقت او واقعیت د درک په برخه کې به مرستندوی واقع شي:

۱ – د اسبابو په عالم کې، د یوې ډلې یا تنظیم او یا آن حکومت، بلکې حکومتونو مقاومت، د څلوېښتو حکومتونو پر وړاندې، چې تر ټولو مډرنه

[۱۷] ډسمبر ۲۰۱۸ کې بهرنیو او کورنیو رسنیو راپور ورکړ چې د فوټبال د فدراسیون رئیس کرام الدین کریم، د فوټبال په ځینو ښځینه لوبغاړو نجونو جنسي تیری کړی، ګارډین ورځپاڼې ته ځینو نجونو منلي وه چې پر دوی د فوټ بال د فدراسیون د مشر لخوا په زور جنسي تیری شوی. او د جون پر ۸مه ۲۰۱۹، د فوټبال نړیوال فدراسیون (فیفا) د همیش لپاره د فوټبال اړوند فعالیتونو څخه منع کړ.

ټکنالوژي او وسلې په خپل واک کې لري، له حقیقت څخه لرې ښکاري، خو موږ د یوې لسیزې په بهیر کې عملاً مشاهده کړه، چې د افغانستان اسلامي امارت له پوځي، سیاسي او اقتصادي محدودیت سره سره، چې پر وړاندې یې اعمال شوي، وکولای شو، چې د تېري کونکو (امریکا/ناټو) په وړاندې خپل فعال شتون په بېلابېلو برخو کې داسې په اثبات ورسوي، چې هېڅا یې تمه نه لرله، هغه څه، چې په خپل ذات کې، د جهاد او مجاهدینو پر ملي توب څرګند دلالت کوي.

۲ ـ د کابل اداره د امریکا او ناټو تړون له هر راز ملاتړ او مرستې څخه برخمن دی، خو د ولس له ملاتړ له ځان سره نه لري، نو پر دې نه دي توانېدلی، چې یو ملي او ټینګ حکومت رامنځته کړي.

د دې پرخلاف، اسلامي امارت د یوې لسیزې په موده کې له راز راز محدودیتونو سره سره، د تیري پر وړاندې د مقاومت په ډګرونو کې پر دې توانېدلی، او د خپل ولس د ملاتړ پر بنسټ مهمې لاسته راوړنې لري.

دښمن، د اسلامي امارت او ولس ترمنځ د واټن رامنځته کولو لپاره له هر راز دسیسې او چل ول څخه کار اخیستی دی؛ په ځانګړې توګه په فرهنګي ډګر کې چې شیبه په شیبه بې بنسټه او له زهرو ډک تبلیغات یې په دې برخه کې پر لاره اچولی او اچوي یې، خو بیا هم له نیکه مرغه خپلې موخې ته نه دی رسېدلی.

له هغه ځایه، چې ولس د اسلامي امارت په تړاو سم پوهاوی او درک لري، واقعیتونه او حقایق په خپلو سترګوویني، نو په پایله کې دې نتیجې ته رسېدلی، چې باید د خپلو رښتینو او مخلصو استازو همکارۍ ته ملا وتړي.

دا ښکاره ده، چې د تاریخ په اوږدو کې افغان میړنی ولس، هېڅکله هېڅ نېواکګر ځواک ته خپل سر نه دی ټیټ کړی، په دغه لسیزه کې هم ولس حق

او حقایق درک کړی، نو په دې توګه یې د مجاهدینو د اعاشې او اباتې، د اړتیاوو او ضرورتونو په پوره کولو کې یې د زړه له له اخلاصه مرسته کړې، او د هرې شیبې په تېرېدو سره، له مجاهدینو سره د خلکو او ولس اړیکې لا زیاته پیاوړتیا او غښتلتیا مومي.

۳ – موږ په پوره ډاډ سره ویلی شو، چې مجاهدین د هېواد په ۸۰٪ سلنه خاوره [۱۸] کې فعال حضور لري، ان د کابل ادارې په دوایرو او په مهمو او بنسټیزو ځانګو کې یې مجاهدین په خپلو جهادي فعالیتونو کې بوخت دي، او وخت په وخت د کابل ادارې په پوځي قطعاتو کې ټاکونکي عملیات په لاره اچوي. د ملي اردو په لیکو او په امنیتي ځانګو کې یې هم فعال حضور لري.

په دې وروستیو کې، د هېواد د مهمو ښارونو په حساسو او مهمو نقاطو کې د مجاهدینو ډله ییز بریالي عملیات د دې ښکارندویې کوي، چې ولس له مجاهدینو سره ژورې اړیکې لري؛ ځکه دغه ډول عملیات هېڅکله د ولس او یادو ادارو د کارکوونکو له همکارۍ او مرستې پرته په یوازې سر د مجاهدینو له خوا شونتیا نه لري.

۴– ډېر کله د دښمن د رسنیزو ارګانونو له خوا دغه خبر خپور شوی، چې د نېواکګرو په وړاندې یوازې ۳۰ زره مجاهدین [۱۹] پر جهاد بوخت دی او بس! که حقیقت همداسې وي، نو له همدغو ارګانونو څخه اورېدل کېږي، چې هغوی لږ تر لږه هره ورځ لس یا شل تنه مجاهدین وژني یا بندیانوي، نو پخپله د هغوی د فورمول له مخې، د تېرو یوولسو کلونو په بهیر کې، اوس

---

[۱۸] دا لوړه سلنه ده، زما (لیکوال) په نظر چې ۲۰۱۱ کې ممکن طالبانو د هیواد تر ۵۰ سلنه کمه خاوره په واک کې درلودله.

[۱۹] طالبان خپلو وسلوالو جنګیالیو ته د مجاهدینو نوم کاروي.

باید ډېر لږ شمېر مجاهدین ژوندي پاتې وای، خو د دې پرخلاف، د لومړي، دویمو او درېیمو کلونو په پرتله، د مجاهدینو شمېر په ځلونو زیات شوي او دوی په وارونو غښتلي شوي دي، چې دغه څه په خپله د جهاد پر ملي والي دلالت کوي.

## د روغې جوړې په اړه د افغانستان اسلامي امارت دریځ

د روان کال د جنوري پر درېیمه نېټه، اسلامي امارت د بېلې اعلامیې په ترڅ کې اعلان وکړ، چې د افغانستان سوله ییز حل او له امریکا سره د افهام او تفهیم لپاره چمتو دی، تر څو په بهر کې یو سیاسي دفتر جوړ کړي او اعلان یې وکړ، چې امریکا او متحدین یې نه شي کولی، د افغانستان مسئله د زور او قوې د استعمال له لارې حل کړي او یا افغان مسلمان ولس تابع کړي. تر دې مخکې، اسلامي امارت د خپل ځانګړی استازی له لارې د امریکا له استازو سره تفاهم ته رسېدلی و، چې امریکایي لوری د باور فضا د زمینه سازۍ په موخه باید څو اړخیز اقدامات ترسره کړي. خو له بده مرغه، د اسلامي امارت د اعلامیې تر خپرېدو څو میاشتې له تېرېدو سره سره، امریکا د باور جوړونې اقدامات نه دي ترسره کړی او په ورته وخت کې، د روغې جوړې پروسه یې نه ده بشپړه کړې، له کابل ادارې سره یې په اصطلاح ستراتیژیک تړون لاسلیک کړ[20]، چې دغه چاره پخپله د باورجوړونې او د روغې جوړې د پر خلاف کړنه ده.

[20] د امریکا دولسمشر اوباما او افغان ولسمشر حامد کرزي لخوا د مئ میاشتې ۲مه ۲۰۱۲ د تلپاتې ستراتیژیکې ملګرتیا تړون د شپې مهال په ارګ – کابل کې لاسلیک شو.

اسلامي امارت په وار وار څرګنده کړي، چې د افغانستان مسئله دوه اړخونه، بهرني اړخ او داخلي اړخ لري. بهرنی اړخ یې چې باید لومړی حل شي، د امریکا او اسلامي امارت پورې اړوند دی، او داخلي اړخ یې بیا پخپله افغانانونو پورې تړاو لري، ترڅو وکولی شي د افهام او تفهیم، انعطاف، یو بل منلو او په هېواد کې د اسلامي حکومت د رامنځته کولو لپاره د منلو وړ یو میکانیزم لپاره، لاره هواره کړي. د افغانستان د اسلامي امارت مشر، محترم ملا محمدعمر مجاهد حفظه الله د تېر کال د کوچني اختر په پیغام کې وایي:
" زموږ تګلاره دا ده، چې افغانستان د راتلونکي لپاره، د یو رښتینی اسلامي نظام لرونکی او د هېواد د ټولو اوسیدونکو لپاره د منلو او اعتبار وړ وي؛ په هغه کې د هېواد ټول قومونه او ملیتونه ونډه ولري او کار د کار اهل ته وسپارل شي، د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره اړیکې د متقابل درناوي پر بنسټ ولاړ او اسلامي او ملي دریځ ولري، او ټوله پاملرنه یې دا وي، چې د دېرشو کلونو جګړو زېږنده مادي او معنوي زیانونه، جبران کړي...
د دښمنانو د تبلیغاتو پرخلاف، اسلامي امارت د واک او سلطې په تړاو هېڅ کله هم انحصار غوښتونکي تګلاره نه لري؛ افغانستان لکه څرنګه چې د ټولو افغانانو کور دی، همدارنګه ټول افغانان یې په ساتنه او ابادولو کې د مسوولیت د ادا کولو حق لري؛ راتلونکي بدلونونه باید داسې چې د کمونیزم تر ماتې وروسته رامنځته شو او د هېواد د شتمنیو د چور او چپاول او د دولتي ادارو د هر اړخیز تخریب لامل شو، نه وي...
له کوم تبعیض پرته د هېواد مسلکي کدرونه او ملي سوداګر باید د دین او هېواد د خدمت لپاره وهڅول شي."

باید وویل شي، اوسمهال هم اسلامي امارت د افغانستان د مسئلې سوله ییز حل ته ژمن دی، خو که امریکا په رښتینې توګه عمل ونه کړي، او یوازې د افغانستان د نیواک د دوام لپاره پلمې وغواړي، او د ستراتیژیک تړون تر نامه لاندې، د افغانستان خلک له رښتینې ازادۍ څخه بې برخه کړي، دا پخپله د دې ښکارندویې کوي، چې امریکا په شعوري توګه د مسئلې د حل پر لاره نوي خنډونه رامنځته کوي.

البته اسلامي امارت د خپلې تګلارې پر بنسټ، چمتو دی، د امریکا په ګډون د نړۍ ټولو هېوادونو ته ډاډ ورکړي، چې د افغانستان له خاورې څخه هېڅ هېواد ته ضرر نه پېښېږي او په دې برخه کې موږ چمتو یو، د قضیې له ټولو اړخونو سره، د منلو وړ یو میکانیزم ته ورسېږو؛ لکه څرنګه چې د ۱۹/ ۵/ ۲۰۱۲ نېټې په تاریخي اعلامیه کې، چې د شیکاګو د کنفرانس تر جوړېدو مخکې صادره شوه، راغلی دی:

"اسلامي امارت، د بیا لپاره اعلاموي، چې نورو ته د ضرر رسولو کومه اجنډا نه لري او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چې د یو بل هېواد په زیان د افغانستان له خاورې څخه ګټه واخلي یا یې وکاروي. په دې توګه د امریکا په ګډون هېڅ یرغلګر هېواد ته هم اجازه نه ورکوي، چې د خپل امنیت په پلمه د افغانستان نیواک ته دوام ورکړي. "

## د نړۍ له ولسونو او دولتونو څخه د اسلامي امارت غوښتنه

اوسمهال، له تروریزم سره د جګړې تر نامه، زموږ د ولس پر وړاندې له ظلمه ډکه جګړه روانه ده. هره ورځ زموږ ماشومان، ښځې، زاړه او ځوانان د امریکا د ړندو بمباریو قرباني کېږي. له بده مرغه د لویدیځ یو شمېر رسنۍ په قصدي توګه په افغانستان کې له عیني او شتو واقعیتونو څخه د دغو هېوادونو خلک بې خبره ساتي او د خپلو ولسونو ترمنځ د تروریزم تر نامه یوه بې بنسټه ویره خپروي، ترڅو د افغانستان له جګړې څخه د هغوی ملاتړ خپل کړي، په دې توګه موږ د دغو هېوادونو له رسنیو څخه غواړو، ترڅو:

۱ - د اوسنۍ له نېواک او يرغل ډکه لوبه کې، چې د تروريزم تر نامه لاندې، جريان لري، ور ګډ نه شي او د دغو هېوادونو له ولسونو څخه هم غواړو، چې خپل د اقتدار خاوندان دې ته اړ باسي، ترڅو له دغه ظالمانه جګړې څخه لاس واخلي؛ خپله بوديجه د افغان ماشومانو او ښځو د وږلو پرځای، د خپلو خلکو د ژوندانه د ښه کېدو او پرمختيا په لاره کې ولګوي؛ لکه څرنګه چې د فرانسې ولس، د رايې ورکولو حق په کارولو سره، له افغانستان څخه د خپلو پوځونو د ايستلو په برخه کې، د ستاينې وړ او منطقي اقدام وکړ[۲۱].

۲- د اسلامي امارت حضور، يو انکار نه منونکی واقعيت دی، نړيواله ټولنه بايد دغه واقعيت ومني؛ نور د يو څو تنو د خوشالولو او بې بنسټه تعصب پر بنسټ ولاړ، خپل تنګ ليدلوري له مخې، بايد د افغانستان موجود واقعيتونه له پامه ونه غورځوي.

۳- نور بايد د اسلامي امارت پر وړاندې د تروريزم درواغو تورونو ته د پای ټکی کېښودل شي؛ دا ځکه چې اسلامي امارت له تروريزم سره کومه اړيکه نه لري او نه هم د نورو هېوادونو په کورنيو چارو کې د لاسوهنې کومه تګلاره تعقيبوي.

۴- اسلامي امارت، د نجونو او هلکانو د ښوونځيو سوځول او ورانول او د زده کوونکو د مسمولو عمل غندي[۲۲]. موږ د نړۍ له خلکو په ځانګړې توګه له

[۲۱] د مئ ۱۹مه ۲۰۱۲، د فرانسې ولسمشر فرانسوا اولاند په سپينه ماڼۍ کې له باراک اوباما سره تر ليدنې وروسته اعلان وکړ چې د روان کال تر پای پورې خپل ټول پوځيان له افغانستان څخه باسي.

د نومبر ۲۰مه ۲۰۱۲، د فرانسې ۴۰۰ پوځيان چې د کاپيسا د نجراب ولسوالۍ کې ميشت وو، نجراب يې پرېښود او فرانسې رسماً په افغانستان کې خپل جنګي ماموريت ختم اعلان کړ.

[۲۲] له ۲۰۱۰ تر ۲۰۱۸ ز کلونو په ښوونځيو کې د زده کوونکو مسموم کېدل ډېر شوي وو. او په ځانګړي ډول ۲۰۱۱ تر ۲۰۱۴ پورې د ښوونځيو د مسموم کيدو

ډله ییزو رسنیو څخه غواړو، چې نور اسلامي امارت، پر افغانستان د یرغلگرو هېوادونو د دولتي پالیسۍ د بې بنسټه تبلیغاتو قرباني نه کړي.

۵- د عدالت له پلي کېدو پرته، حق او حقیقت ته رسېدل ناشونی دی. د نړۍ له ولسونو او دولتونو څخه غواړو، چې د اسلامي امارت بڼغ باید د نړۍ په کچه واورېدل شي، د خپل نظر د بیانولو فرصت باید ورته ورکول شي، ترڅو وکولی شي، د حقایقو او واقعیتونو په تړاو خپل نظر نړیوالو ته ورسوي؛ لکه څرنگه چې دلته اوسمهال موږ ته فرصت راکړل شوی. باید یو اړخیز قضاوت او پرېکړه و نه شي؛ ځکه یواړخیزه پرېکړه او قضاوت د مسئلو حل لاره نه ده، بلکې تل د ظلم او د جگړې د دوام لامل گرځي.

٦ – د ملکي مرگ ژوبلې مسئله، د بشر تر ټولو مهمه مسئله ده او باید په بشپړ ډول په بې پرې توگه وڅېړل شي؛ له بده مرغه د بشري حقونو مؤسسې د ملکي مرگ ژوبلې په تړاو اسلامي امارت ښکېل گڼي؛ په داسې حال کې، چې د ملکي مرگ ژوبلې اساسي عامل پخپله امریکا ده، په قصدي او عملي توگه يې ترسره کوي؛ اسلامي امارت په دې برخه کې په وار وار دا وړاندیز کړی، چې په دې برخه کې د اسلامي امارت، ناټو او ملگرو ملتونو یو گډ درې اړخیز پلاوی وټاکل شي، ترڅو په افغانستان کې د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې په تړاو منصفانه او د واقعیت پر بنسټ څېړنه وشي؛ دا هغه څه دی، چې د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې کچې د راټیټېدو لامل گرځي، خو د دې پرخلاف امریکا دغه وړاندیز په څرگند ډول رد کړی او د بشري حقونو ادارو هم دغه وړاندیز ته لبیک ونه وایه؛ له همدې ځایه په ښه توگه څرگندېږي،

---

ډېري پیښې کېدلي، چې ډېر وخت نجوني زده کوونکي د ناپېژندانو کسانو لخوا مسموم کېدلي.

د جولای ۲مه ۲۰۱۲، په شبرغان کې د مصراباد د نجونو ښونځي ۲٦۰ زده کوونکي، او د بامیان مرکز کې د نجونو د ښوونځي ۸۰ زده کوونکې مسموم شوې وي.

چې څوک د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د مخنیوي په برخه کې ډېر زیات د مسوولیت احساس کوي؟ دا دی، موږ بیا هم همغه وړاندیز تکراروو، هیله ده، چې له هرکلي سره مخ شي.

۸- موږ له ټولو ولسونو، هېوادونو او منصفو کسانو څخه غوښتنه کوو، چې د افغانستان د خپلواکي او ازادي په برخه کې له افغان ولس څخه خپل سیاسي او اخلاقي ملاتړ ونه سپموي؛ په حقیقت کې، ولسونه دي، چې حکومتونه رامنځته کوي؛ په دې توګه د نړۍ حکومتونه باید د خپلو ولسونو ارادې ته تسلیم شي او د افغانستان د جګړې په تړاو د هغوی له غوښتنو سره سم، پرېکړه وکړي.

په پای کې موږ یو ځل بیا د جاپان له هېواد او په ځانګړې توګه د دوشیشا پوهنتون او ښاغلي هر یو پروفیسور ډکتور ایجي هاتا، پروفیسور ډاکټر ماسا نوري او پروفیسور ډاکټر حسن کوناکاتا څخه مننه کوو، چې زموږ لپاره یې زمینه برابره کړه، ترڅو د دغه فورم له لارې خپل نظریات له تاسې او نړیوالو سره شریک کړو.




د هیروشیما موزیم

# د ملا عبدالسلام ضعیف وینا

بسم الله الرحمن الرحیم

سوله یو نیک او ښه نوم دی چې د الله ج او درسول ص خوښ نوم دی، نو ځکه الله جل جلاله په قرانکریم کې هم د سولې نوم ځو ځایه ذکر کړی دی، د دي سره سره سوله د الله ج په مځکه کې د الله د بندگانو لپاره د الله ج د لوري یو بې ساري، لوی نعمت دی، او د بندگانو ورته هر وخت اشد ضرورت دی، سوله اول زموږ د افغانانو لپاره دوېم زموږ د ټولو گاونډیو لپاره او درېم د ټولي سیمې او ټولي نړۍ لپاره یو مبرم ضرورت دی، که په دغه هیواد کې چې د اسیایي هیوادونو د زړه حیثیت لري، سوله نه وي، نو بیا به سېمه او نړۍ هم ورسره په تشویش کې وي، ځکه چې زموږ هیواد د نوري نړۍ جز او غړی دی، موږ چې کله د سولې ذکرکوو په اوتوماتیک ډول سره دا سوال مخې ته راځي چې زموږ په وړاندي یوه لویه ستونزه پرته ده؛ کومه چې سولې او ټیکاو ته اړتیا لري، او موږ باید دا ستونزه هرو مرو حل کړو، زما په نظر د داسي ستونزي لپاره هر وخت دوه متضادي لاري لټول سوي دي، چې یو زور او بل یې مذاکره ده، خو دا په هغو اړخونو پوري اړه لري چې په دغو ستونزو کي را ښکیل وي، چې کومي لاري ته ترجیح ورکوي، دا چې زموږ په هیواد کې متاسفانه د زور مغروره او په نوي او عصري ټکنالوژۍ سمبال اړخ جنگ ته ترجیح ورکړي ده، کومه چې هغه دوینو تویولو خرابۍ او دښمنیو د راټوکولو پرته بله لاسته راوړنه نه لري، همدغه ناروا بې منطقه او ظالمانه ستراتیژي ته یې یولس کاله دوام ورکړی دی او تر اوسه پوري هم دوام لري، چې په همدي جنگ کې تر یولک او پنځوس زره زیات معصوم

افغانان په شهادت رسول سوي او ډيرکلي او کورونه يي د خاورو سره خاوري کړي دي او په لکونو افغانان يي د کوروونو پريښودلو ته اړکړي دي [۲۳].

دا چې د دې سرټمبه او بې ځايه زور او د خپلو زرگونو عسکرو د سرونو د بيې او د بلياردونو ډالرو د ضايع کولو سره سره دوی په دې سره ونه توانيدل چې خپل د زور سلطه، هدف او واکمني پر يوه خپلواکه هيواد ومني او په خپله ناکامي سره يې اقرر او اعتراف هم کړی دی، نو اوس د دې وخت را رسيدلی دی چې دوېمه لاره پلي کړای سي، چې هغه د معقوليت، منطق او د حل لاره ده، زما په نظر که په رښتيا سره ستونزه حل کول هدف وي، او په رښتيا سره زموږ په هيواد کې موجوده اجنبي او نابللي قوتونه او ورسره د هغوی په متو سره واکمن افغانان سولې ته رښتيني وې، نو په کار ده چې د دغه ستونزو بنسټيز علتونه وڅيړل سي، ترڅو د دغه ستونزې اصلي علت او مرض پيدا سي او بيا ورته درمل وکتل سي، که د دغه مرض په پوره ډول تشخيص ونه سي، گرانه به وې چې هره دوا او ستراتيژي دې ورته فايده وکړي.

د دې لپاره چې موږ اصلي موضوع ته ورسو په سيمه او افغانستان کې دوه ډوله سولې ته ضرورت دی، يوه بايد سمدستي او عاجله سوله وي چې په سيمه کې د جنگ مخه ونيول سي او وينې تويول ودرول سي، دا سوله زما په نظر داسې راتللای سي چې د جنگ روانه ستراتيژي د نظامې کنټروله و سياسې لاسونو ته واوړي او بيا په سياسي ستراتيژي باندې ورته د حل لاره پيدا کړل سي، که په دغه يوه ټکي کې تغير راسې، زه فکر کوم چې بيا ورته د

[۲۳] داچې تر جون ۲۰۱۲ ز کال پوري څومره بې گناه افغانان د امريکا لخوا وژل شوې او يا هم د کوروونو پريښودلو ته مجبوره شوې، دقيق ارقام شتون نه لري.

حل نوري لارې پیدا کیږي. زه په دې عقیده یم چې اوس هم د ډیرو خلکو او حکومتونو سره دغه فکر پیدا سوی دی، او دخیلو اړخونو ته هم دا ثابته سوې ده چې په جنگ باندې هدف ته د رسیدو لاره ډیره د ازغیو ډکه لاره ده، ځکه چې جنگ هم خسته کونکی او هم ډیر اوږد او طولاني سو، او د هرې ورځې په تیریدو سره نورمشکلات زیږوي.

دا ځکه، که د جنگ ستراتیژي روانه وي نو بیا هیڅ مانا نه لري چې د سولې خبره دې وسې، او نه د جنگ د دوام سره سوله راتللای سي.

که د جنگ هر طرف په دې فکرکې وي چې دوی په نظامې فشار او قوت سره په زوره میدان گټلای سې، او دې لارې ته ترجیح ورکوي، بیا نو د سولې خبرې هسې د وخت ضایع کول او د خلکو غولول دي.

که د جنگ ستراتیژي د سولې په ستراتیژي سره تغیر سي، بیا نو د نور پرمختگ لپاره لاره پرانیستل کیږي او ستراتیژي جوړیدلای سې.

ډیپلوماټیکې هڅې، د خلکو حق پیژندل او په متقابل احترام سره دا ستونزه هواریدلای سې، خو که دا کار هم وسي، بیا به هم دا یو موقت حل وي، ځکه چې د افغانستان اوږد جنگ هر څه د ځانه سره خوړلي دي، اقتصاد یو مخ تباه سوی دی، هر هغه بنیادي د عوایدو ځانگې چې دغه هیواد لرلې له بینه تللي دي، د اوبو سیسټم، د زراعت مځکې، برق، مالداري او صنایع ټوله د سره نوي کیده او کار غواړي، باید دا ټوله د حکومت د قوي میکانیزم په جوړیدو سره، د اقتصادي او بنیادي پروژو په پلي کیدو سره په پښو ودریږي، داسي یوه اشتباه باید بیا تکرار نه سي لکه د روسانو د وتلو وروسته چې تکرار

سوله، ځکه د روسانو د استعمار سره د افغانستان هر څه تباه سوی وه، ښارونه، کلي او کورونه، ولي او کانالونه، صنعتي فابریکي او تجارت ټوله د بینه تللی وه، حکومت هم فقط په نامه پاته وه او بس. تر دې چې یو څه هم پاته وه هغه د داسي چا لاسونو ته ولویده چې یا یې خرڅ او یایې په داخلي جنګونوکې استعمال کړه، خو که دا کار هم وسي، دا به د دایمې او سرتاسري سولې د راتلو لپاره بنسټ او بنیاد جوړ سې .

دوېمه سوله په دغه هیواد او سېمه کې اساسي او بنیادي سوله ده، چې دا سوله ډیرکار، ډیر مشترکات همدارنګه په سېمه کې د اعتماد فضا جوړول غواړې، که موږ د نړۍ تاریخ ته وګورو، هیڅ وخت داسي نړۍ نه ده پاته سوې چې په یو ځای کې دې ستونزه نه وي، داسي نړۍ موږ په راتلونکي وخت کې هم نسو لیدلای، چې هر څه د یوه هیواد، قشر او یوه قوت په خوښه سره عادي جریان ولري او هیڅ ستونزه دي نه وې، خو دا باید ووینو چې هره ستونزه باید په زور، قوت او سرټمبګۍ سره حل نکړو او په معقوله طریقه باید ورته د حل لاره پیدا سې.

زه په دې عقیده او باور نه یم چې په نړۍ کې دومره ستونزې سته، او دومره عمیق مشکلات سته چې د حل امکان یې نه سته، خو دومره ساده هم نه دی چې تش په خبرو دي حل سې، ژور فکر، عمیقه ستراتیژي او په اخلاص عمل غو اړي، په بنسټیز ډول د پخواني هند او افغانستان ترمنځ اوسنی پاکستان جوړول د هغه وخت د امپراتورۍ خپل ضرورت وه، دا چې دا کار څنګه وسو، دا د هغه وخت خبره وه، خو په همدې کارکې د لانجې ټکي په لوی لاس پاته او په نښه سوه، چې تر اوسه هم د یوه او بل هدف لپاره د هغو

ټکو څخه کله مشروع او کله غیر مشروع استفاده کیږي، د همدغو لانجو تر شا نو بیا بې شمیره لاسونه کارکوي، همدارنګه نور سېمېیز هیوادونه هم اوس په نوو هیلو را ټوکیږي چې ځان ته ځانګړی رول غواړي، دا هم د ستونزې یو بل اړخ دی چې هیڅ وخت د پامه نه سې غورځول کیدلای، بل اړخ ته نور ګاونډي هیوادونه چې خپلو مشروع حقونو سره د نامشروع حرص په لټه کې دي، خو بیا هم د دغسي تشویشونو او ستونزو د هوارولو لاره تر ټولو غوره، په ټینګ باور سېمېیز تفاهم کیدلای سي، عمده خبره په سېمه کې سیاسي ثبات او دسولې ډاډه فضا راوستل دي، چې دا کار به په سیاسي او اقتصادي لحاظ د ټولې سېمې د اوسیدونکو په ګټه وي.

دې هدف ته د رسیدو لپاره هم باید پوره کار وسي او هم پخه ستراتیژي په کار ولویږي، زما په نظر ددې هدف لپاره څو ګامونه چې ډېر ضرور دي، هغه دادې:

اول - د سولې د پاره د باور او اعتماد فضا ضرور ده، که د باور او اعتماد فضا جوړه نه سي، نو خبرو ته به هیڅ کله هم لاره نه پیداکیږي، د دې لپاره چې هم خبرو ته لاره پیدا سي او هم په ډاډه او شفافه توګه په مخ ولاړې سي باید هم د افغانستان اداره او ورسره اجنبي حاکم قوتونه لاندې ګامونه په عملي توګه واخلي.

الف ـ باید امریکا او ورسره د دوی متحدین قوتونه دا یقیني کړي چې دوی په افغانستان کې په نظامي توګه په هر نامه او تر هرعنوان لاندې چې وي نه پاته کیږي، او خپل اشغالي ستراتیژی به پای ته رسوي، ځکه چې دا بنیادي ستونزه ده، که دا ستونزه حل نه سي نو په نورو ستونزو کې پر مختګ نه سي کیدلای.

ب ـ که اول گام ته ژمنه وي، نو د دويم گام لپاره په کار ده چې درې ادرسه بايد جوړ سي، اول د کابل د ادارې لپاره، چې اوس يي معلوم کړی دی (سولې عالي شورا)، دويم د ذي دخلو اجنبي قوتونو لپاره چې اوس پاشلي دي، او دريم د وسلوال روان مقاومت لپاره، چې اوس يې بيخي نه لري.

دويم - په مطبوعاتو کې بايد د زهرو ډکه، د دښمن ژبه، د سولې په خوږه ژبه سره څه ناڅه بدله کړای سي.

دريم - هغه خنډونه چې مور د وړاندې هم د هغوی يادونه وکړه چې دمحروميت او محکوميت لاره يې نيولې ده، بايد د مخه څخه ليري کړل سي.

څلورم – د کابل اداره د روان مقاومت سره په توافق، بايد د ښو او خيرغوښتونکو بې پرې او مخلصو افغانانو په مرسته داسي يوه قوي ستراتيژي جوړه کړي، چې ټولو افغانانو ته د قبول وړ وي، کوم چې اوس بيخي وجود نه لري، او که وې هم، افغان شموله به نه وي.

پنځم ـ د خارجيانو زندانونه چې هر چيري او په هرنامه وي بايد وتړل سي، بنديان يي يا خوشي سي او يا بايد افغانستان ته حواله سي، همدارنگه د هغو بنديانو سره چې په مختلفو زندانو کې دي، سياسي بنديان وبلل سي او د هغوی سره سياسي برخورد وسي[٢٤].

---

[٢٤]باگرام زندان د امريکايې پوځيانو په تر ټولو غټې او مهمې اډې کې موقعيت لري، د زندان واکې د امريکايانو سره دی، ډيری افغانان پکې زنداني دي.
د ولسمشر کرزي په وخت کې له ياد زندان څخه په لوړ شمير کې شاوخوا دوه زره زندانيان خوشي شوو. په ياد زندان کې ۳۰۸۵ بنديان وو، ۸۴ داسي بنديان وو چې د خوشي کيدو دوسيې يې تکميل شوې وي، ولي امريکايانو يې دخوشي کيدو

ځومره چې زه د سېمې او افغانستان په وضعیت پوهېږم، او څومره چې د موضوع په حقیقت باندې زما علم سته، دلته په سېمو کې د ملتونو تر منځ کومه عمده ستونزه نه سته، ټول ملتونه غواړي چې په سولېیز ډول باندې، یو د بل په مرسته سره ژوند وکړي، په دغه سېمه کې په زرګونو کلونو دغو ملتونو ارام، سوکاله او سولېیز ژوند کړی دی، او بیا به هم په دغه سېمه کې اوسیږي، هر قوم د بل قوم په دروندوالي او اهمیت باندې ښه پوهیږي، هغوی ښخوا هم ژوندکاوه، اوس هم ژوند کوي، او بیا به هم ژوند کوي، خو عمده ستونزه د سیاسي واکمنانو او اشخاصو ترمنځ ده چې د هیڅ قوم او سېمې نمایندګي نه کوي، خو د قومونو یا برخو د نامه څخه هر وخت په یو ډول نه یو ډول استفاده کوي، همدارنګه هر وخت په سېمه کې نابللي د لیري واټن مېلمانه هم له دغه ستونزو څخه ګټه پورته کوي، د دې لپاره چې دغه سیاسي

---

مخالفت وکړ، او خوشي نه شول. د کرزي او امریکایانو ترمنځ پر دي هم ستونزه پیدا شوه چې د باګرام زندان واګې د امریکا لخوا باید افغانانو ته وسپارل شي. د سپتمبر ۱۰مه ۲۰۱۲ ز. کال د باګرام زندان چارې او مسؤلیت افغان لوري ته پېل شوې، او یکې پاتې بندیان وروسته پلچرخې زندان ته یوړل شول، باګرام زندان وتړل شو، ولي تور زندان لا هم د امریکایانو په واک کې پاتې او هلته یکې ځینې افغان بندیان ساتل کېدل.
کله چې ولسمشر غني واک ته ورسید، د باګرام زندان بیرته فعال شو، د زندان واکې د امریکایانو په لاس کې ورکول شوې او د پلچرخې څخه زندانیان ورته انتقال شول.
په ګوانتانامو او باګرام زندانو کې له زندانیانو سره ډېر ناوړه چلند، او سختي شکنجې ورکول شوې، په دې اړه ملاعبدالسلام ضعیف د ګوانتانامو انځور کتاب لیکلي، له حجرې تر پنجرې بل کتاب دی، او عبدالشکور دادرس په باګرام او کندهار کې د تور زندان اړوند هم په رسنیو کې څرګندونې کړي.

واکمنان او عمده اشخاص، همدارنګه نړیوال لوبغاړي څنګه دا ستونزه په دایمې توګه حل کړي، باید یو څه مثبت تغیرات او اقتصادي پرمختګونه وسي، داسي تغیرات او اقتصادي پرمختیا، چې د خلکو او حکومتونو تر منځ اړتیاوې او مشترکات ډیر کړي.

د مثال په توګه، د پراخو اقتصادي رقابتونو لپاره اقتصادي پروژې او ازاد تجارت زیات کړلای سي، د دغه تجارت او اقتصادي پروژو سره به د دې اړتیا ډیره سي چې ډیپلوماټیک روابط ډیر سي، د ډیپلوماټیکو روابطو د ډیروالي په صورت کې به د سیاسي راکړې ورکړې تعامل ډیر سي، چې دا پرمختګ به خپله د متقابل احترام او مشترک ضرورت اهمیت زیات کړي، همدارنګه به د خلکو تر منځ د دغو اړتیاوو په بنیاد تګ او راتګ زیات، او راکړه ورکړه ډیره سي، چې په دې کار سره به د ملتونو تر منځ فاصله او واټن را کم سي، خو بیا به هم د دغو اړتیاوو پر بنیاد او اساس باندي د دې ضرورت پیدا سي، چې په ترانزیټ او ویزو کې اسانتیا راسي، که په دغه سیمه کې اقتصاد په اساسي توګه قوي کړلای سي، او ټولنیز اقتصادي مشترک ماحول و رغول سي، نو دا پرمختګ او اقتصادي قوت به پر سیاسي او امنیتي ثبات باندي مستقیم او مثبت اثر وغورځوي، په همدې توګه باید نور مشترکات هم وکتل سي.

دویم تغیر چې باید په حکومتونو او سیاسي ستراتیژیو کې راسي، هغه د یو او بل هیواد په کورنیو چارو کې عدم مداخلت او متقابل احترام دی، اوس دغه ستونزه په نړیواله او سیمیزه توګه وجود لري، چې د داسي ستراتیژیو له کبله په خلکو کې هم امنیت خرابیږي او هم د بې اعتمادۍ او نه باور فضا جوړ

وې.که یو هیواد د بل هیواد په کورنیو چارو کې لاس وهنه کوې، نو بیا هیڅ وخت هغه بل هیواد د هغه په وړاندې بې تفاوته نه سي پاته کیدلای، که څه هم په اقتصادي او سیاسي توگه هغه ته ورته پوره قوت ونه لري، خو که سیاسي انډول او متقابل احترام نه وي، نو بیا به د هغه بل هیواد عکس العمل یوازي دا نه، چې منفي وي، بلکې ډیر خطرناکه به هم وي،که چیري داسي او دېته ورته تغیرات په حقیقي او رښتوني توگه راسي، نو دا به په امنیتي او اقتصادي، همدارنگه په سېمه کې په دایمې سوله باندي ډیره ښه اغیزه وکړي، همدارنگه به د هغو هیوادونو او اشخاصو د لاسوهنې مخه ونیسي، کوم چې د خپلو شخصي مفاداتو لپاره په لوی لاس غواړې سېمه بې ثباته کړې او د خلکو د غربت او اړتیاوو څخه ناوړه استفاده وکړې.




هیروشیما - جاپان

# د ډاکټر غیرت بهیر وینا

دافغانستان د کشالې د حل لپاره هر اړخیزه طرحه

د افغانستان د جګړې د ختم لپاره اړینه ده چې د دروغو ځای رښتیا ونیسي، او د افغانانو حقونو ته د مذهبي او عقیدوي ازادي په نظر کې نیولو سره درناوی وشي. افغانان پریښودل شي چې ازادي ټاکنې او خپلواک حکومت ولري.

همدې موخې ته د رسیدو لپاره موږ ځینې بیړني او دایمې حل لارې وړاندي کوو:

لومړی: واشنګټن او ماسکو دواړه مسؤل هیوادونه دي چې د بین الافغاني تفاهم لپاره لاره هواره او سمبیز هیوادونو، لکه ایران او پاکستان باندي فشار راوړي چې له بین الافغاني تفاهم څخه ملاتړ وکړي.

دویم: د افغان ډلو واک لرونکو استازو شورا غونډه دي د بهرنیو له ګډون او مداخلې پرته جوړه، تر څو په حالاتو خبرې وکړي، او لاندي ټکو باندي توافق وکړي.

الف: یو له بل سره مرسته، تر څو هیواد مو ازاد او له دې حالت څخه نجات ومومي.

ب: د تلپاتې سولې امنیت لپاره کار وکړي، چې جګړه په هیواد کې پای ومومي.

ج: د افغانانو خپلواکې ته درناوی وشي، له بهرني پوځیانو له هیواده د وتلو غوښتنه، او داچې بهرنیان د نورو له مداخلو او خپلمنځي جګړې مخنیوي کې را سره مرسته وکړي.

د: د ملي یووالي لپاره اړینه ده چې مساوات، ورورولي او قومي جوړښتونو ته درناوی ولرو.

ح: ولس ته لاره پرانستل شي چې د خپل خوښي او نماینده حکومت، چې مذهبي ارزښتونو ته ژمن، او د بهرنیو کړیو له لاسوهنې پرته وټاکي.

و: د واک سولېیز انتقال لپاره کار وشي، چې بیا ځل واک ته رسیدو لپاره ویني توی نه شي.

ز: هر گوند باید د ولس پریکړې ته احترام ولري، او ولس لخوا ورکړل شوې دنده /پریکړه ومني.

هـ: واک ته رسېدل د قانوني لارې شي، واک ته د رسیدو ټولې غیر قانوني لارې بندي شي، اجازه ورنه کول شي چې د بهرني ملاتړ او یا نظامي کودتاه د لارې څوک واک په خپل لاس کې ونیسي.

موخې ته د رسیدو لپاره، چې پورته اهدافو ته ورسیږو، لاندي ټکې مهم دي چې عملي شي.

۱- بهرني ځواکونه دي د شورا لخوا د تعین شوې مهالویش له مخې له افغانستان څخه ووځي.

۲ –بهرني پوځیان دي په بیړنې حالت سره ، بین الافغاني تفاهم پر مهال، د بشپړ وتلو د مهالویش تر وخت پوري له ښارونو او گڼ مېشتو سېمو څخه ووځي او په عسکري مراکزو کي دي ځای پر ځای شي.

۳ - د امنیت چاري دي په بشپړه توگه ملي اردو او پولیسو ته وسپارل شي، بهرني ځواکونه به د افغانستان په هیڅ گوټ کي او په هیڅ حالت کي په خپل سر د نظامي عملیاتو، د کورونو تلاشي او خلکو د نیولو حق نه لري .

۴ – اوسني حکومت دي ټول واکونه داسي لنډمهاله اداري ته وسپاري چې ټولو ښکېلو لوروته د منلو وړ وي، که پر لنډمهاله حکومت توافق نه کیږي، د اوسني حکومت تر څارنې لاندي دي ټاکنې وشي، ولي د ټاکنو په کمیسون کې به اړین او مثبت بدلون راوستل کیږي.

۵ – اوسني د ولسي جرګې وکیلان د ولس استازي نه دي، دوی خپلو منځو کې ستونزې لري، د پارلمان پر ځای دي د ملي امنیت شورا چې له ۷ تر ۱۵ غړي ولري جوړه شي. همدا د ګوندونو لخوا منل شوې شورا به په مهمو ملي مسایلو کي د وروستۍ پرېکړي واك لري، د دې شورې ځای به کابل او یا داسي ولایت کي وي چي امنیت ئې په بشپړه توګه د افغاني ځواکونو په لاس کي وي او هیڅ بهرنی ځواك په کي نه وي .

۶ - د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته به ولسمشریزي، د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو لپاره یو ځای، یو ځل او همهاله ټاکني تر سره کیږي. د ټاکنو اوسنی سیسټم له فساد څخه ډک او د افغانستان له شرایطو سره جوړ نه دی، باید تغیر پکې را شي، تر څو لږکي او ډیرکي خپل حقونه پکې مساوي تر لاسه کړي.

۷ - په ټاکنو کې د حکومت د کابینې غړي،والیان او لوړ پوړي چارواکي یوازي په هغه صورت کي د برخي اخیستو حق لري چي د ټاکنو تر نیټې شپږ میاشتي مخکي له خپلي دندې استعفا وکړي.

۸ - په لومړي منتخب حکومت کي به د هر لوري برخه د هغه د آراوو په تناسب وي، هر ګوند چې د ټولو رایو تر ۱۰ سلنې زیاتې رایې اخیستي وي، هغوی ته به د حکومت په تشکیل کې برخه ورکول کیږي او له شورى څخه

به د اعتماد رايه ترلاسه کوي، خو تر دې وروسته به بريمن لوری پر دې مکلف نه وي چې ايتلافي حکومت جوړ کړي .

۹ - هغه گوند يا انتخاباتي مجموعه به په راتلونکي انتخاباتو کي د برخي اخيستو حق لري چي په لومړي انتخاباتو کي يې تر لس په سلو کي زياتي رايې ترلاسه کړي وي .

۱۰ - په طرحه له توافق وروسته به په جگړو کي د ښکيلو لورو تر منځ بشپړ اوربند تأمين وي، ټول سياسي بنديان به خوشي کيږي، ټول لوري به ژمنه کوي چي له دې وروسته به قدرت ته د رسېدو لپاره ناروا لاري نه لټوي او نه به د خپل حريف او رقيب د ځپلو لپاره وسله کاروي.

۱۱ - لومړۍ منتخبه شوری به دا حق لري چي د دريو لورو له خوا اعلان شوی اساسي قوانين د شريعت په رڼا کې وڅېړي، يو له قانون څخه به د حزب اسلامي او يا طالبانو له لوري ورکول کيږي. همدا شورا به د هيواد د اساسي قانون په اړه وروستۍ پرېکړه کوي .

۱۲ - هيڅ بهرنی هيواد به دا حق نه لري چي په افغانستان کي زندان ولري، کوم افغان محاکمه او مجازات کړي، يا يې د محاکمې لپاره بهر ته انتقال او په بل ځای کي يې محبوس او محاکمه کړي.

۱۳ – هر څوک (بهرنی) چې په هيواد کې ژوند کوي، هغوی بايد د افغانستان قانون ومني، که له قانون څخه سرغړونه کوي، د قانون په رڼا کې به جزا ورکول کيږي.

۱۴ - په اختلاس، د مخدره موادو قاچاق، د ملي شتنمیو په غصب او په جنګي جنایاتو تورن کسان به شرعي محکمې ته سپارل کېږي او هیڅ لورى به له هغوى نه په څرګنده یا پټه توګه دفاع نه کوي .

۱۵ - د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته به، هیڅ وسلوالې ډلې او یا بهرني جنګیالي ته اجازه نه ورکول کیږي چې د افغانستان خاوره د خپل پټنځاى په توګه وکاروي.

۱٦ - د همدې طرحې له منلو وروسته، که کوم افغان لورى او یا ډله د روغې جوړې له دې میثاق سره مخالفت او د جګړې پر دوام ټینګار وکړي موږ ټول به په ګډه او تر هغه د جنګ غوښتونکو مقابله کوو چې خپل هیواد او ولس د هغوى له شر څخه وژغورو .

۱۷ – والله على ما نقول وکیل (الله په همدې میثاق –طرحې باندې شاهد نیسو).



غیرت بهیر د وینا پر مهال

# له وارسا ته

## باګرام پوځي اډې

## ته

## لېږدني او کتنې

## له پولنډې جنرال سره لیدنه

د ختيځې اروپا پولنډ هیواد هم د افغانستان په غزني کې د ولایتي بیا رغوني ډله Provincial Reconstruction Team (PRT) درلودله، هغوی ډیر زیات ظلمونه په غزني ښار کې کړي وو، ډیر بې ګناه ملکي افغانان یې شهیدان کړل.

وحید مژده زما (لیکوال) نوم په کابل کې د پولنډ سفارت کارکوونکو ته ورکړی وو، تر څو له افغانستان څخه پولنډ ته د څو تنو خبریالانو په ډله کې زه هم ورسره ولاړ شم، لومړی ځل مې د پولنډ سفارت د نظامي اتشې دوه تنو (اکتوبر ۲۰۱۳ ) سره د پخواني ډیپلومات او د سیاسي چارو شنونکي وحید مژده صاحب کور کې ولېدل، هغوی د افغانستان د جګړې اړوند پوښتنې درلودلې، همدارنګه د طالبانو چلند او تصویر یې په ډیر بد ډول د افغانستان له خلکو سره وړاندي کاوو. موږ تر یو ساعت ډیر وخت خبرې وکړي، هغو ته مې وویل چې امریکا او ناټو په افغانستان کې جګړه نه شي ګټلای، او دا جګړه یوازي له طالب سره نه ده، له افغان ولس سره ده، طالبان هغه ډول نه دي لکه چې تاسي یې وایاست، هغوی د افغان ټولنې برخه ده.
زما باور دا وو چې له دي لیدنې وروسته به بیا ځل له ما سره د پولنډ سفارت د نظامي اتشې کارکونکي اړیکه ونه نیسي، څو ورځې وروسته جنیسکې Col. Witold GNIECKI, D-y Defense Attaché, Embassy of Republic of Poland د ایمیل د لارې زما لنډ سوانح Curriculum Vitae وغوښتله، وروسته یې له ما څخه وغوښتل چې د دوی له هغه جنرال چې له وارسا څخه راځي، لیدنه وکړم.

د نومبر ۲۰۱۳، په وزیر اکبر خان مېنه کې ما (لیکوال) د پولنډ هیواد د دفاع وزیر له سلاکار، د پولنډ هیواد د ملي دفاع پوهنتون له رئیس/قومندان جنرال بوگوسلاو پیجک Gen. Boguslaw Pacek سره وکتل، ورسره یو ځای په افغانستان کې د پولنډ مخکینی سفیر لانگ Ambassador Lang هم ناست و، د افغانستان د امنیتي وضعیت اړوند زموږ بحث و [۲۵].

پولنډي جنرال د افغان چارواکو څخه د افغانستان د امنیت اړوند ډیرې خوږي خبرې اوریدلي وي، کله چې ما د افغانستان امنیتې وضعیت ورته انځور کړ، هغه څو ځله د خبرو منځ کې له خپلې چوکۍ څخه د غوسي له امله ولاړ شو، او زما څخه یې وغوښتل چې خپل نظریات کنټرول کړم.

د ملا محمد عمر مجاهد او حکمتیار په اړه د هغه څرگندونې ما رد کړي، پولنډی جنرال هغه وخت ډیر نا ارامه شو، چې ما (لیکوال) ورته وویل چې د ملي اردو عسکرو باندي ستاسي مصارف او لگښتونه به عبث ځکه وي، تاسي فکر کوئ چې همدوی به ستاسي هر امر په راتلونکي کې ومني، ولي دا افغانان دي، تاسي افغانان نه دي پېژندلي، همدوی به وي چې کله هم مناسب فرصت پیداکړي، د ناټو پوځیانو باندي به خپل توپکونه را اړوي، او هیڅکله به افغان اردو د ناټو باوري ملگري نه شي.

پولنډی جنرال له ډیرې غوسې له چوکۍ څخه ولاړ شو، ویې ویل، ستا خبرې ډیرې راباندي درنې تمامیږي،که خبرې دي کنټرول نه کړي، دا کار به ښه نه شي.

---

[۲۵] لانگ له ۲۰۰۹ تر ۲۰۱۲ ز کال په افغانستان کې د پولنډ سفیر و، نومبر ۲۰۱۸ کې د پولنډ د بهرنیو چارو مرستیال وزیر د اسیا، امریکا، افریقا او منځني ختیځ لپاره وټاکل شو.

رښتيا خبره داده چې زما سره څکه ويره پيدا شوه، چې زه يوازې د پولنډي نظامي کسانو منځ کې د دوی په حويلۍ کې ناست وم، دا نو هغه کلونه دي چې ناټو ځواکونو ډير ظلمونه کول، هڅه مې وکړه چې خبرې لږ نرمې کړم، کله چې پوه شوم چې د پولنډي جنرال توجه بيرته سمه شوه، هغه ته مې وويل:

پر تا زما خبرې سختې تماميږي، تاسي ټول وخت د افغان چارواکو څخه اوريدلي دي، او هغوی تاسي ته دروغ ويلي دي، تاسي مه نا ارامه کيږئ، زه يو لنډ مثال درته وايم، او که زما خبره موثق نه وه، بيا زما يوه خبره هم مه منئ، تاسي په غزني کې پي آر ټي هم لرئ، او هغوی ته به هم معلومات وي.

له کابل څخه کندهار لويه لاره باندې په هر يوه کيلو متر کې د ملي اردو يوه پوسته ده، د دوو پوستو ترمنځ، له هرې پوستې څخه ۵۰۰ متره ليرې، طالبان د سړک منځ کې دريږي، تالاشي کوي، او موټران دروي، په موټرانو کې حکومتي کسان لټوي او بيا يې له موټر څخه کښته کوي، خو ۵۰۰ متره يو او بل لورې ته دواړه د ملي اردو پوستې عسکر دا طالبانويني، ولې هيڅ ډز ورباندې نه کوي.

همغه اردو چې ناټو روزلي، هغوی نه غواړي چې د افغانستان په هيڅ ځای کې د زړه له تله له طالبانو سره جګړه وکړي، په ځينو ځايونو کې د طالبانو او اردو ترمنځ ځينې سيمئيز شفاهي توافقات شوې وي، او يو په بل بريد نه کوي، بلکې طالبانو ته يې د تګ راتګ لارې پرانستې پرې ايښې وي.
جنرال صاحب! کيدای شي تاسي يې ونه منئ، ولې په دې اړه تاسي د خپل پي آر ټي له کسانو څخه پوښتنه وکړئ، چې د کابل - کندهار په لويه لاره طالبان د ملي اردو دوو پوستو منځ کې را وځي يا نه؟

پولنډی جنرال فکر یوړ، هغه دا ځل پر ځان بده ونه منله، زموږ مجلس یو ساعت پلان شوی وو، دوه ساعته شو، او بیا درې ساعته ته وغځید. کله چې پولنډی جنرال له مجلس څخه ولاړیدی، ما (لیکوال) ته یې وویل:

غوښتل مې چې یو ساعت نور هم ستاسي خبرې واورم، زموږ وعده یو ساعت وه، خو دادې درې ساعتونو ته خبرې وغځیدي، بل مجلس لرم، او په کابل کې ډیر لږ وخت لرم، چې بیرته باید وارسا ته ولاړ شم، ما ستاسي خبرې په غور واوریدي، له دي مخکې مې له چا دا ډول سپیني خبرې نه وي اوریدلي، زما زړه ومنله چې تاسي رښتیا وایاست او د افغانستان امنیتي وضعیت اړوند مو رښتونی تصویر راته وړاندي کړ. که تاسي ومنئ چې یو ساعت نور هم له ښاغلي سفیر (مخکینی سفیر) سره د افغانستان پر حالاتو خبرې وکړئ، او زه به منتظر یم چې تاسي پولنډ کې بیا ځل ووینم.

له سفیر لانگ او ورسره بل تن سره موږ یو نیم ساعت نور هم مجلس درلود، او ماښام ناوخته زه د دوی له ځایه را ووتلم.

سفیر لانگ زما څخه وغوښتل چې نږدې ۵۰۰ حروفو شاوخوا کې د افغانستان د امنیتي او سیاسي وضعیت اړوند لیکنه په درې ژبه ورته وکړم، بیا وروسته هغه لیکنه د لانگ لخوا پولنډې ژبې ته ژباړل شوې وه، او جنرال یوگوسلاو ته هم لیږل شوې وه.[۲۶]

---

[۲۶] د لیکنې پښتو بڼه وروسته راځي.

## د پولنډ سفارت او زموږ ویزې

د سفارت د نظامي اتشې کسانو څو ځله زه او برهان عثمان سفارت ته وغوښتلو، له هغوی سره مو ناستې درلودلې، یو ځل یې د لنډې مودې لپاره د پولنډ ویزې راکړې، خو بیرته پلان تغیر وکړ، هغه ویزې لغوه او بیاځل یې نورې ویزې راته راکړې، کله چې په وروستي ځل موږ ته ویزې راکول کیدې، سفارت ته یې وغوښتلو، په همدې ورځ به ویزې راکوي او پاسپورټونه به راته تسلیم کوي.

زه (لیکوال) او برهان عثمان یو ځای، دارالامان سړک ، د سوداګرۍ وزارت ته نږدې د پولنډ سفارت ته ورغلو، زما کندهارۍ خولۍ پر سر وه، کله چې موږ د سفارت دروازې ته نږدې شو، هلته افغان امنیتي پلټونکي ولاړ وو، هغوی د لوګر پښتانه وه، چې تالاشي یې وکړه، غوښتل یې زما له سر څخه خولۍ پورته کړي، ما د هغه امنیتي کس لاس ونیو، هغه ته مې وویل چې زما خولۍ نه شي کتلای، ته خو پښتون یې، او تاته معلومیږي چې خولي او لنګوټه د یو چا له سر څخه پورته کول، سم کار نه دی، هغوی چې هر څومره وویل چې دا زموږ دنده ده، ولي ومې نه منله، زموږ جنجال زیات شو، د امنیتي کسانو قومندان راغی، هغه له ما وغوښتل چې اجازه ورکړم چې زما خولۍ وګوري [۲۷]، ومې نه منله، افغان امنیتي کسانو هیله وکړه چې زموږ دغه

---

[۲۷] د کابل په ګډون د افغانستان په ځینو لویو ښارونو کې د لنګوټې او خولۍ په مټ پر مهمو چارواکو بریدونه شوي وو، او تازه برید په خولۍ کې د ځای په ځای شوې انفجاري موادو په مټ په کابل کې د سولې عالي شورا په مشر پروفیسور برهان الدین رباني شوی وو، چې له امله یې هغه ووژل شو.

هر څه د ننه پولنډیان په کامرو کېویني، او د دوی لپاره دا ډول چلند زیان لري، ولي ما ورسره ونه منله، هغوی ته مې وویل چې په مخابره کې بړغ وکړي چې زما پاسپورټ له سفارت څخه را وباسي، زه پولنډ ته نه ځم.

د پولنډ د نظامي اتشې زموږ سر پېژندګلوی کس او د پولنډ دوه تنه امنیتي کسان له دروازې د باندي را ووتل، هغه زموږ اواز او د خولې د تالاشۍ پر سر زموږ ستونزه د دراوزې ها خوا لیدلی وه، پرته له دي چې پوښتنه وکړي، افغان امنیتي کسانو ته یې وویل چې ځئ ولاړ شئ، دوی موږ را غوښتي، د افغان ساتونکو قومندان ته یې وویل چې خلک ډیر مه تکلیف کوئ، موږ یې سفارت ته ننه ایستلو او هلته بیا د پولنډ امنیتي کسانو تالاشي وکړه.

دا ځل موږ پنځه تنه ټول (برهان عثمان د افغان تحلیلګرانو شبکې څخه، عبدالقدیر منصف د پژواک اژانس څخه، عبدالحمید کوهستانی د کلید رسنیز ګروپ څخه، احسان امیري د وال سټریټ ژورنال څخه، بهارت صابر د ازادۍ راډیو څخه او زه مطمئن ازاد لیکوال) د پولنډ سفارت کې ناست وو، د هیواد په روانو امنیتي ستونزو او سیاسي حالت مو لنډ بحث درلود، او بیا یې موږ ته ویزې په پاسپورټونو ووهلي، له سفارت څخه را ووتلو.

زموږ سره باید وحید مژده هم وای، خو دا چې څو ورځې مخکې ( ۱۰ نومبر ۲۰۱۳) د بهرنیو اډو پر ضد د ملي یووالي جبهې لخوا د امریکا سره د افغانستان لخوا د امنیتي تړون پر ضد، د کابل ښار کې په ممتاز محل کې د نږدې ۴۰۰۰ تنو لویه غونډه جوړه، او هلته له امریکا سره د امنیتي تړون د لاسلیک کېدو سخت مخالفت وشو. دا ډول په واشنګټن کې د افغان سفیر اکلیل حکیمي هغه لیک کاپي هم رسنیو ته ښکاره شوه چې د بهرنیو چارو

وزارت ته يې راپور ورکړي وو، چې امريکا هيڅ ډول د افغانستان غوښتنې په نظر کې نه نيسي، بلکې خپلې گټې يې د تړون په متن کې ځای پر ځای کړي.

له همدې امله د هغه وخت د افغانستان د امنيت شورا مشر ډاکټر رنگين دادفر سپنتا غوښتل چې وحيد مژده بايد بندي شي، ځکه د غونډې پر مهال د اکليل حکيمي د ليک متن د مژده صاحب لخوا رسنيو ته ولوستل شو.

په کورنيو ټلويزونو کې د مژده صاحب اړوند ډول ډول راپورونه ورکول کېدل، له طالبانو سره يې د خبرو ږغيز پيغام د امنيت ادارې رسنيو ته په واک کې ورکړ، د هغه پر انځورونو د X علامه کش شوې وي، او ملي خاين ورته ويل کېدی، د همدې ستونزې له امله مژده صاحب د پولنډ له سفر کولو څخه پاتې شو.[28]

[28] د نومبر پر ۲۸مه ۲۰۱۳، د بهرنيو اډو پر ضد د ملي يووالي جبهې د مژده صاحب په ملاتړ مطبوعاتي ناسته جوړه کړه، ويې ويل چې د جبهې وياند وحيد مژده د جبهې د مشرانو په اجازه له طالبان سره اړيکه نيولې.

# د کابل او باګرام پوځې اډې او هوایې ډګرونه

د ډسمبر ۴مه ۲۰۱۳ موږ ٦ تنه د کابل نظامي هوايي ډګر سره نږدې د پولنډیانو انتظار وو، کله چې پولنډي نظامي کسان راغلل، بهارت صابر له تلو معذورت وغوښت، ویې ویل چې کورنی مشکل ورته پیدا شوی.

د پولنډي عسکرو دوه سیټه د مرمۍ ضد درې موټرونه راغلي وو، موږ یې د کابل خواجه رواش نظامي هوایې ډګر ته ورسولو، هلته موږ لیدل چې د بېلابېلو هیوادونو پوځیان تلل او راتلل، ډلې ډلې امریکایې پوځیان نظامي پروازونو ته انتظار وو، له دي ځایه باګرام هوایې ډګر ته چورلکي او الوتکې الوتلي.

تر دې ځایه هیڅا هم زموږ څخه پوښتنه ونه کړه، چې چیرته ځئ او نه یې زموږ بکسونه تالاشي کړل، بلکې بکسونه زموږ سره وو.

لږ وروسته یوه لویه نظامي الوتکه راغله، سهار ۱۰:۱۵ بجې وي، موږ او ځینې د نورو هیوادونو پوځیان هغې الوتکې ته ور وختلو، په ۱۳ دقیقو کې یې باګرام هوایې اډې ته ورکشته کړو ، هلته په هوایې ډګر کې الوتکې ته نږدې لویې نظامي لارۍ موټر ولاړ وو، دلته کوچني نظامي موټران موږ هغه مهال ونه لیدل، موږ پنځه ملګري یې په یوه غټ موټر کې کینولو، د کښته کیدو اجازه نه وه، هغې دروازې ته یې راوستلو چې د بهرنیو ځواکونو د باګرام هوایې اډې د ننوتلو دروازه وه، همدلته یې موږ له موټر څخه کښته کړو، خو زموږ بکسونه لا هم په هغه لوی موټر کې پاتې وو، یوازې بهرنیانو دلته ولاړ وو، ځینو یې غوښتل چې اډې ته د ننه ننوځې، موږ هم انتظار کې ولاړ وو، زموږ سره دلته هیڅوک بلدي کس نه وو، یوازې هغه غټ موټر کې چلونکي

پوهیدی چې موږ باید چیرته یوړل شو، له نږدې ۴۵ دقیقې انتظار زموږ هره یوه د لاسونو د ګوتو او سترګو سکن او انځورونه واخیستل شول.

د سړک پر غاړو بهرني پوځیان پرته له وسلې ها خوا دیخوا پلې ګرځیدل، همدارنګه نظامي موټرانو هم پر سړک تګ او راتګ کاوو.

باګرام کې د پولنډي پوځیانو ځانګړي کوچنۍ اډې ته یې موږ وروړلو، هلته راته وویل شول چې پرته د پوځي له ملتیا څخه د باندې په اډه کې ګرځیدل خطر دی، تاسې که غواړئ چې تشناب او یا د بل ضرورت لپاره له اطاقه را ووځئ، باید چې کوم پوځي کس درسر روان وي، او که د پولنډي پوځیانو له همدې کوچنۍ اډې څخه په خپل سر کوم کس نږدې سړک ته ووځي، د ویشتلو خطر ورسره شته، له دې کوچنۍ اډې څخه په هیڅ صورت باید ونه وځئ.

دلته باګرام کې د ټولو هغو هیوادونو لپاره ځانګړي پوځي ځایونه وو چې د امریکا سره یې د افغانستان جګړې کې ملګرتیا کړې، د هر هیواد ځانګړی بیرغ به د هغوی پر اډه ځوړند و.

دویم منزل کې یې له کانټینرونو جوړه ودانۍ کې موږ په دوو کوټو کې ځای په ځای کړو، دا نظامي اطاقونه وو، غالباً چې د څلورو نفرو لپاره وو، زه، برهان او احسان امیري په یو اطاق کې وو، په همدې نظامي اطاق کې لوی ګروپونه ۲۴ ساعته لګېدلې وو، او ډیره زیاته رڼا یې کوله.

د غرمې ډوډۍ یې موږ ته راوړه، حلاله ډوډۍ وه، د ماسپښین لمانځه لپاره زه او برهان عثمان ووتلو، په همدې اډه کې دننه د پوځیانو لپاره تشنابونه وو، خو د اوداسه ځای نه وو، یو افغان چې همدلته یې دنده درلودله، هغه موږ ته د اوداسه

لپاره د اوبو ځای وښود، د تشنابونو په کوچني جوړ شوې ځای کې د لاس پریوللو لپاره ځایونه وو، موږ به هلته اودس هم وکړ، او د لمانځه لپاره کوم ځای نه وو، د باندي کوچنۍ چوترې (سترې) ته ورته یو ځای و، هلته به مو لمونځ وکړ، د مازیگر او ماښام لمانځه وخت کې موږ په همدې پوځې اډه کې د اوداسه ځایونو ته نږدې د باندي پاتې شو، بهرنی پوځیان به یو یو لېدل کېدل، هغه وخت چې تشناب ته به تلل، هلته ښځینه پوځیانې هم وي، هغوی هم لېدل کېدي، د ښځینه پوځیانو لپاره ځانگړې تشنابونه وو، د تشنابو یو لوري ته د نارینه پوځیانو او بل لوري ته د ښځینه پوځیانو لپاره دروازې وي، د تشنابونو دروازې نه وي، د دوو تشنابونو ترمنځ په ټیټه ارتفاع کې د دړې دیوال وو، تشناب ته د ننوتلو وخت کې د دراوزې پر ځای را ځوړند پرده باید کش شوې وای، چې بل څوک پوهیدلی وای چې دلته کوم کس شته، په همدې ځای کې د غسل کولو لپاره هم ورته ځایونه وو، چې د دروازې پر ځای بیا هم د پرده کارول کېدله.

احسان امیري چې د وال سټریټ ژورنال خبریال و، له دې مخکې یې له طلوع ټلویزون سره کار کاوه، د هزاره قوم څخه و، زده کړې یې په ایران کې کړې وي، لمونځ یې نه کاوو، او بده لا دا چې یو ځل موږ ټول د تشنابو ودانۍ ته یو ځای ولاړو، کله چې هغه له تشناب څخه را ووتی، همداسې بیرته اطاق ته ولاړی، حتی لاسونه یې هم نه پریمینځل.

ماښام ناوخته بیا پولنډی عسکر راغی، موږ ته یې وویل چې بکسونه مو در سره را واخلئ، دا وخت د غزني ولایت اشرف غیرت هم را رسیدلي وو، موږ ټول یې په لویه نظامي لارۍ موټر کې کښینولو، څو دقیقې مزل یې وکړ، ښه ډېر بهرني پوځیان له خپلو بکسونو او غوټو سره ولاړ وو، همدې ځای کې د هغو

پوځیانو بکسونه کتل کېدل چې هغوی به بیرته خپلو هیوادو ته په نظامي الوتکو کې سفر کاوو، بېلابېل کتارونه وو، موږ ته هم په یو کتار کې د دریدو لارښوونه وشوه، کافي ډېر وخت مو په کتار کې د بکسونو د کتلو او کنټرول لپاره انتظار وکړ. زموږ ۵ ملګرو سره یوازې لاسي بکسونه وه، تر کتلو وروسته یې هغه بکسونه بیرته موږ ته راکړل، موږ د دوی پر سیستم هیڅ پوه نه شوو، ځکه کومه نښه یې هم وربانديي ونه لګوله، او د پولنډي پوځیانو نظامي اډې ته راوړل شوو.



# پولنډ ته تګ

د ډسمبر ۵مه ورځ، سهار ۴:۳۰ موږ له خوبه را پاڅېدو، کښته بیا هم نظامي لویه لارۍ ولاړه وه، هوايي ډګر کې تور رنګه نظامي الوتکه چمتو وه، موږ هم ور پورته شوو، په شمار څو تنه پوځیان په الوتکه کې دننه ناست وو. له باګرام هوايي ډګر څخه الوتکې پر ۵:۴۵ سهار الوتنه وکړه، تر یو ساعت الوتنې وروسته د مزار شریف هوايي ډګر کې الوتکه کښته شوه، همداسي په چالان حالت کې تر لس زیات پولنډي پوځیان الوتکې ته را پورته شول.

الوتکې دننه د پوځیانو له پاره سمې چوکۍ نه درلودلې، ډېر زیات بار پکې وو، له رسیو جوړې لویې چوکۍ کې یو او بل لور ته موږ او پوځیان ناست وو، زموږ لپاره ناسته ځکه سخته وه چې دا ډول چوکۍ د نظامیانو لپاره وي، او الوتکې هم لوړ ږغ کاوو.

له ۵ ساعتو سفر وروسته الوتکې د تیلو اچولو په موخه په اذربایجان کې ناسته وکړه، ماسپښین مهال وو، الوتکې ته نږدې اذربایجاني پوځیان ولاړ وو، د پیلوټ له دروازې څخه زه هم ځمکې ته کښته شوم، د بوتل اوبه راسره وې، لاسونه او مخ مې پریولل.

ډېر زیات خسته شوې وو، ۵ ساعته نور الوتکې مزل وکړ، دا ځل د اوکراین په مشهور سرحدي ښار عدیسا کې الوتکې ناسته وکړه، موږ ګرده له الوتکې څخه کښته شوو، هلته په هوايي ډګر کې کوچنی بازار هم و، د اودس او لمونځ کولو مناسب ځای و،د ماښام لمونځونه مو همدلته اداء کړل.

له عدیساښار څخه د پولنډ تر دویم ستر ښار کراکوف پورې ۳ ساعته نور مزل وو، ماخوستن ناوخته موږ د کراکوف په هوايي ډګر کې کښته شوو. پلان داوو چې له دې ځای وارسا ته الوتنه وشي،یو ساعت د الوتکې لاره وه، مخکې له مخکې پیلوټ ویلي وو چې وارسا ته په لاره تیز باد او هوا ډیره طوفاني ده، موږ هڅه کوو چې الوتنه وکړو،خو که هوا همداسې طوفاني او تیز باد وو، بیا نه شو کولای چې وارسا ته همدا نن شپه الوتنه وکړو.

کراکوف هوايي ډګر کې یې موږ د پاسپورټ چیک او پولنډ ته د ننوتلو مهر لپاره ټرمینل ته یوړو، البته د یادونې وړ ده چې کله موږ له کابل څخه پولنډ ته راتلو، په کار دا وه چې هلته هم دکابل په هوايي ډګر کې له هیواده د وتلو مهر زموږ پر پاسپورټو وهل شوی وای، خو دا چې افغانستان بې مالکه هیواد و، دلته تر ۴۰ د زیاتو هیوادونو پوځیان راغلي وو، بې دیواله او بې دروازې هیواد وو، هیچا زموږ څخه پوښتنه نه له دې خوا او نه هم بیرته کابل ته د راتلو پر مهال وکړه، چې چیرته تللي واست، چا غوښتې واست او د کوم کار لپاره له هیواده وتلي واست، په کومه لار ولاړئ او په کومه لاره راغلئ.

غټ بس موټر کې یې یوازې موږ ۵ کسان کښینولو، شپه وه، بیا هم اوږد سفر وو، نږدې تر ۴ نیم ساعته مزل وروسته موږ د پولنډ پلازمینې وارسا ته ورسیدو، زموږ مخې ته د دفاع وزارت د ملکي برخې کارکوونکې بوګومیلا له پوځي بس موټر سره ولاړه وه، موږ ۱۴ ساعته په الوتکه کې او ۴ نیم ساعته په بس کې چې ټول ټال ۱۸نیم ساعته سفر، او له دې سره سره په باګرام، مزار، اذربایجان، اوکراین او کاراکوف کې څو ساعته انتظار هم وکړ، نږدې ۲۴ ساعته موږ سفر درلود، د کابل پر وخت د شپې درې بجې موږ وارسا ته ورسیدو.

د پولنډ د ملي دفاع پوهنتون اړوند هوټل ته يې بوتلو، د ماخوستن لمونځونه مو وکړل، او ويده شو، موږ ډاډه وو چې سهار به کوم مجلس نه وي؛ ځکه موږ سخت او اوږد سفر او ډير ستړي وو.



منځ کې ناست کس جنرال بوګوسلاو دی

## د پولنډ د ملي دفاع د پوهنتون له قومندان او جنرالانو سره ناسته

سهار یې زموږ د کوټو دروازې را وټکولې، ویې ویل چې ژر ځانونه د چای څښلو لپاره چمتو کړو، د وارسا په وخت تر ۸ بجې اوښتي وي، موږ د پوهنتون د خوړنځای په ځانګړي برخه کې د سهار ناشته وکړه، ویې ویل چې له همدې ځایه مخامخ مجلس ته ځو، ناوخته شوی، زموږ د ملګرو په ټینګار بیرته هوټل ته ولاړو، هغه ډیر نږدې و، ما (لیکوال) فکر کاوه چې نن ورځ به عادي د پېژندګلوي ناسته وي، پرته له چمتووالي، تر دي چې خپله لنګوټه مې هم نه وه تړلې، د مجلس ځای ته له بوګومیلا Bogumila، پیکوټ Piekut او ارټور Artur Webe سره روان شوو.

د پولنډ دملي دفاع پوهنتون مرکزي قومنداني کې د غونډې سالون و، د میزونو شاته د پاخه عمر پولنډي جنرالان ناست وو، لږ وروسته د یاد نظامي پوهنتون عمومي قومندان جنرال بوګوسلاو را دننه شو، له موږ سره یې ټینګ روغبړ وکړ، له لنډې احوال پوښتنې وروسته هغه د دریځ شاته ودریدی، او د افغانستان د شته وضعیت په اړه یې خبرې وکړي. هغه داسي خبرې وکړې چې له افغانستان څخه ورغلي خبریالانو ټولو تعجیب کاوو، چې پولنډی جنرال د افغانستان اړوند څومره ژور او مهم معلومات لري.

برهان عثمان وویل چې جنرال د افغانستان اړوند ډیر په زړه پوري معلومات وړاندي کړل، هغه ته مې پټ وویل چې زما لیکنه چې مې ورته لیږلي وه، ټول همهغه معلومات یې وړاندي کړل. (لیکنه وروسته راځي)

**جنرال بوگوسلاو** وویل: دفاع وزیر ته مې وویل چې د افغانستان څخه راغلیو خبریالانو سره ناسته مهمه ده، سمه ده چې تاسي د دفاع وزارت میلمانه یاست، خو کوربانه مو د پولنډ نظامي اکاډمي کسان دي. افغان خبریالانو ته په کار ده چې په رسنیزه برخه کې له پولنډ او اروپا سره مرسته وکړي.

زموږ اکاډمي د امنیت برخې سربېره په سیاسي او مهمو مسایلو کې مهم رول لري، د پولنډ لومړی وزیر هم کله همدلته راځي او د ځینو مسایلو اړوند مشوره کوي. د پولنډ او اروپا د امنیت اړوند همدا زموږ اکاډمي کار کوي.

د افغانستان او اوکراین پخوانیو لومړي وزیرانو همدلته روزنه لیدلې وه[۲۹]، موږ به له افغانانو سره اړیکه کې یو. پوهیږو چې غزني، کابل او باگرام کې څومره ستونزې دي او لا به هم ډېر وخت دوام کوي.

دا به د افغانستان کورنۍ ستونزې وي چې دوام به کوي، اړینه ده چې پولنډ او افغانستان له اروپا سره گډ کار وکړو، نن به تاسي د اکاډمۍ د سیاسي برخې له مشر سره هم ناسته وکړئ او له هغه سره به مو په راتلونکې کې اړیکي وي.

زما نظر دا وو چې موږ د اکاډمي له ادرسه له افغان خبریالانو سره هم رابطه ولرو، نه یوازي د افغانستان له سیاسي کسانو سره، موږ د نړیوالو اړیکو څانگه لرو، رئیس یې ناست دی، تر ۵۰ له ډېرو هیوادونو سره اړیکې لرو. همدلته ستاسي سره د مارکیټینگ څانگې رئیس، د ملي امنیت څانگې رئیس، د

---

[۲۹] ممکن د کمونیستي رژیمونو د حکومت د وخت کوم لومړي وزیر به پولنډ کې زده کړې کړې وي، ځکه هغه وخت پولنډ د وارسا تړون غړی او له شوروي اتحاد سره ملگری هیواد و.

کمپیوټري جګړې د څانګي رئیس د نړیوالو محصلینو د تبادلې څانګې ټول رئیسان ناست دي.

موږ پر دي کار کوو چې خپلې ستونزې څه ډول حل او له اروپا سره کوم ډول اړیکې ولرو. راتلونکي کې به ناټو زموږ سره د پوځیانو روزنه کې مرسته ولري، اوس مهال انلاین مرسته دوام لري. موږ به روزنیز مواد پښتو او دري ته هم وژباړو، په افغانستان کې د مسلکی کدرونو ستونزه شته. او له ۲۰۱۴ ز کال وروسته به موږ په علمي برخه کې له افغانستان سره مرسته وکړو. زموږ لپاره درې ټکي مهم دي:

۱ –د افغانستان په ادراو کې مسلکي توب. ۲ - له ازادو خبریالانو سره اړیکې او د هغوی رول ډیر مهم دی. ۳–د ولسي جرګې او علمی کسانو سره اړیکې ولرو.

جنرال بوګوسلاو له موږ ټولو سره ګروپي انځور واخیست، ، ویې ویل چې د دفاعي پوهنتون له جنرالانو سره تاسي ناستې ته دوام ورکړئ، هغه له سالون څخه ووت.

لږ وروسته زه له سالون څخه د باندي وغوښتل شوم، د پولنډ د ملي دفاع پوهنتون قومنداني ته، هلته د پوهنتون قومندان جنرال بوګوسلاو ناست وو، هغه بیا ځل له ما سره روغبړ وکړ، یو بل مشر کس هم ولاړ و، ماته یې د پوهنتون اړوند له برونز څخه جوړ، او یو بل مډال راکړل، چې تر دي مهاله هم زه د هغو مډالو په ارزښت نه یم پوهیدلی، ورسره یې د دوی د کرسمرس د ورځو ځانګړي تحفه هم راته ډالی کړه، په داسي حال کې چې زموږ نور ملګري دلته نه وو، او هغوی له هغو د پاخه عمر جنرالانو سره مجلس او خبرې درلودلې.

بیرته د مجلس سالون ته راغلم، د افغانستان اړوند، په افغانستان کې د ناټو د غړو هیوادو د شتون اړوند مو بحث درلود، زموږ سره په ډله کې د غزني ولایت اوسیدونکي اشرف او احسان امیري د پولنډي او په ټوله کې د ناټو پوځیانو ډیر بې ځایه او زیات صفتونه کول، ولي هر پولنډی جنرال پوهیدی چې دوی دروغ وایې، موږ د ناټو پوځیانو شتون په افغانستان کې د جګړې د دوام لامل ګانه، برهان صیب ډیر له احتیاطه ډک نظر، حتی ډیري لږ خبرې یې وکړي، منصف صاحب ښه و، حقایق یې وویل، او کوهستاني صاحب د خبرو پر مهال پوره توازن ساتی، په هیڅ کوم لوري (امریکا/ناټو، طالبان او افغان حکومت) باندي یې منفي نیوکې نه کولي.

سهار ۱۰:۳۰ زموږ ناسته پای ته ورسیده، پکې مهم همغه د پوهنتون د قومندان وینا وه، او جنرالانو زیاته کړه چې غواړي په غزني کې د خپلو پوځیانو د کړنو څیړنه او ارزیابي وکړي، تر څو په راتلونکې کې د هغو تیروتنو مخه ونیول شي چې د دوی پوځیانو په غزني کې کړي دي.

هواء ډیره زیاته سړه وه، د ژمي سختې ورځې او د زیات یخ موسم وو، ډیره زیاته واوره شوې وه، له واورې سره سره تیز باد جریان درلود، دومره ساړه چې موږ یې اټکل هم نه وو کړی.

# د ملي امنيت بيرو له مرستيال مشر سره ناسته

په همدې ورځ، د ډسمبر ٦مه، ۱۱ بجې موږ د پولنډ د ملي امنيت د بيرو له مرستيال مشر زبيگنيوف ولوسوويچ Zbigniew Wlosowicz سره ناسته درلودله.

د ملي امنيت د بيرو مرستيال مشر: زموږ اداره د جنوري ۳۱مه ۱۹۹۱ کې جوړه شوه، ولسمشر ته په کورنيو او بهرنيو امنيتي چارو کې مشورې ورکوو او په رڼا کې يې هغه پريکړې کوي. داچې په غزني کې دي پولنډي پوځيان ميشت شي، دا پريکړه په خپله ولسمشر کړي او دفاع وزرات ورسره تايد کړي وه.

پولنډ کې امنيتي شورا هم شته، ولسمشر يې مشرې کوي، دفاع، کورنيو چارو، ماليې وزيران او ځينې نور وزيران، پارلمان او سنا مجلسو غړي، او په پارلمان کې د احزابو مشران هم د دې شورا غړي دي. د غونډې سکرټريټ زموږ دفتر کوي.

د امنيتي چارو اړوند پريکړې ولسمشر چې اعلی سرقومندان دی، د پولنډ عمومي نظامي قومندان (دفاع وزير) او نور پوځي مشران کوي. ولسمشر ته د ځينو قوانينو وړانديز او له منځه وړلو حق قانون ورکړی دی، بهرنيو هيوادونو ته سفيران هم ولسمشر ټاکي او له ټولو وزارتونو سره نږدې کار کوي.
له ۲۵ کلونو را په دې خوا د پولنډ سياسي وضعيت تغير کړی، چې وروسته بيا د ناټو [۳۰] او اروپايي ټولنې غړی هيواد وگڼل شو ، مخکې له هغه يې له روسيې سره اړيکې وې.
موږ په لاندې برخو کې کار او پرمختگ کړی:

[۳۰] پولنډ دمارچ ۱۲مه ۱۹۹۹ کال کې د ناټو غړی هيواد ومنل شو، او ۱ مئ ۲۰۰۴ د اروپايي ټولنې غړی هيواد ومنل شو. له هغه مخکې (۱۹۵۵ تر ۱۹۹۱ز کال) پوري د وارسا پکټ غړی هيواد و، د وارسا پکټ مشرې پخواني شوروې اتحاد کوله.

۱-تخنیکي برخه (هوايي ځواک، د معلوماتو سیستم) پرمختګ. ۲-د قوماندې او کنټرول سیستم. ۳-د نظامیانو د ښوونې او روزنې برخه کې پرمختګ.

زموږ په راتلونکې تګلارو کې یوه داده چې له افغانستان سره نږدې اړیکې ولرو، په دې اړه مو خپل سپین کتاب White Book کې خپله تګلاره روښانه کړې.

داچې افغانستان څه ډول پرمختګ کولای شي، په دې اړه څېړنه او کار کول په کار ده، زموږ او افغانستان ځینې ستونزې یو ډول دي، پولنډ د لومړۍ جګړې پر مهال ۱۲۳ کلونه د ځمکې له نقشې وتلی هیواد وو. مګر کار مو وکړ او په تیرو ۲۵ کلونو کې موږ ډیر پرمختګ کړی، تغیر مو کړی.

موږ غواړو چې پوه شو چې افغانستان څه ډول مشکلات لري، تر ۱۰ زیات کلونه کیږي چې زموږ پوځیان هلته شتون لري، دا زموږ ملي مسایل او په خلکو پوري یې اړه درلودله، موږ ځکه افغانستان کې وو چې د نړیوال امنیت راوستلو مسئله وه، پر موږ فشار وو، تر څو غزني ته خپل پوځیان ولیږو. زموږ پوځیانو هڅه کړې چې هلته له خلکو سره مرسته وکړي. زه غواړم چې پوه شم چې افغانان زموږ د پوځیانو اړوند څه فکر کوي، څه نظر لري، زموږ د پوځیانو شتون ته مثبت او یا منفي ګوري. او له دې ټولو خبرو سره سره ۲۰۱۴ ز کال د افغانستان لپاره ډیر مهم دی، چې افغانان په دې اړه ژور فکر وکړي، او د ښې راتلونکې په اړه سمه تګلاره غوره کړي.

**مطمئن**: د افغانستان ډیر خلک نالوستي دي، هغوی ټولو بهرنیو پوځیانو ته امریکایان او یا هم انګریزان وايي، هغوی نه پوهیږي چې د پولنډ ځواکونه بېل دي او د ناټو تر چتر لاندې افغانستان ته راغلي، حتی په لیري پرتو سیمو کې ځیني پخواني افغان سپین ږیري اوس هم بهرنیو پوځیانو ته د شورویانو نوم کاروي.

که پولنډي ځواکونه په غزني کې له خلکو سره مرسته هم کوي، خو د سیمې خلک په دې آند دي چې دوی د افغانستان د اشغال لپاره راغلي، کله چې د اشغال په سترګه پوځیانو ته وکتل شي، که هغوی هر څومره مرسته وکړي، خلکو ته د منلو وړ نه وي.

اوس چې امریکا/ناټو غواړي په افغانستان کې نظامي اډې ولري، د اډو غوښتل او سولې ته رسیدو مسایل یو له بل سره ضد دي.

امریکا/ناټو په افغانستان کې پوځي اډې غواړي، که پولنډ په دغسي یو حالت کې د ناټو غړی هیواد وي، پرته له شکه چې د افغانانو اړیکې به ورسره خرابې وي.

موږ غواړو چې د ناټو غړي هیوادونه د افغانستان سره په ډیپلوماټیک او اقتصادي برخه کې مرسته وکړي، د افغانستان د کانونو په استخراج کې له موږ سره مرسته وکړي.

د ښوونې روزنه برخه کې په ملکي برخه کې موږ اړتیا لرو، په نظامي برخه کې د ناټو لخوا د افغان پوځیانو روزنه په اوږد مهال کې ستونزې موږ ته لرلای شي.

په تیرو ۱۲ کلونو کې زموږ ډیر خلک د امریکا/ناټو لخوا ووژل شول، ژوبل شول، بې ځایه شول، ولې بیا هم په بنسټیز ډول د بیا رغونې برخه کې وړ کار نه دی شوی. د امریکا/ناټو په شتون کې یوه ځانګړې ډله خلک شتمن شوې او نور عام ولس غریب دی.

پولنډ او د ناټو غړو هیوادونو ته په کار ده چې د افغانانو له دود څخه ځان خبر کړی، ما (لیکوال) ته یو مشر افغان (استاد محمد زمان مزمل) کیسه کوله: "د ننګرهار د شینوارو ولسوالۍ کې یوې کورنۍ له بلې کورنۍ سره شخړه کړې وه، د یوې کورنۍ یې یو کس ورته وژلی و، کله چې روسانو پر افغانستان حمله وکړه، دوی پاکستان ته مهاجر شول، د روسانو تر وتلو وروسته دواړه کورنۍ بیرته د ننګرهار ولایت شینوارو ولسوالۍ ته راغلې، خو

د مقتول د کورنۍ یو ځوان کشمیر ته له هندوانو سره د جګړې لپاره تللی و، کله چې موده وروسته هغه خپل کورته راغی، سهار مهال چې یې پلار خپل زوی ولید، روغبړ یې ورسره ونه کړ، او هیڅ یې د هغه پوښتنه ونه کړه. زوی یې بیا وروسته له پلار څخه پوښتنه وکړه چې په کومه خبره او کوم عمل ورڅخه خفه دی. پلار یې ورته وویل چې ته (زوی مې) ماته کشمیر له هندوانو مه ازادوه، نر شه، ولاړ شه د خپل تره بدل (قتل) دي واخله، همدومره خبره وه، هغه کس چې له هندوانو سره په سپېڅلې جګړې یې عقیده درلودله، اوس یې د پلار یوې خبرې د کلیوالو قتل ته مجبوره کړ، تر څو د خپل وژل شوې تره غچ واخلي.

له کوره یې ټوپک را واخیست، د قاتل مخې ته یې کمین ونیو، کله چې قاتل راغی، له هغه سره دوه نور کسان د نورو قومونو هم ملګري وو، درې واړه یې ځای په ځای ووژل، پلارته ورغی، چې قاتل او دوه نور کسان مې ورسره ووژل، پلار یې په تندي مچ کړ، ورته ویې ویل چې لس تنه دي وژلي وي هم ښه کار دي کړی، خو چې خپل وار (غچ) دي پرې نه ښود. "

کله چې ما (لیکوال) پورته کیسه پولنډیانو ته وکړه، هغوی ډېر تعجب کې شول، ورته زیاته مې کړه چې افغانان سل کلونه وروسته هم خپل غچ نه پرېږدي او انتقام اخلي.

تاسي پوهېږئ چې د ننګرهار په خوګیاڼو ولسوالي کې د یوې کورنۍ تر ۱۰ زیات کسان امریکا/ناټو وژلي دی، آیا هغوی به د خپلو مړو غچ اخیستل نه غواړي، همدارنګه په کلیو کې ډېری افغانان چې د امریکا/ناټو پوځیانو لخوا وژل کیږي، د کورنۍ نور غړي یې د غچ اخیستلو په موخه جګړې ته لاس کوي، او له امریکا/ناټو + افغان حکومت سره جګړه کوي.

موږ افغانان ویره لرو چې راتلونکي کې به چین او بیا ځل روسیه هم قوي شي، او زموږ لپاره به خطر وي. له روسانو سره د افغانانو د جګړې پر مهال هند او

پاکستان د اټومي وسلو څښتنان شول، دا ځل د امریکا سره د افغانانو د جګړې له امله به ایران او وروسته سعودي عربستان د اټومي وسلو څښتنان کیږي.

له امریکا سره د افغانانو جګړه د اقتصاد او پیسوګټلو لپاره نه ده، چې ځینې کسان د جګړې په دوام کې معاشونه او پیسې تر لاسه کړي، سمه ده، دافغان حکومت لور ته به دا وي، خو هغه افغانان چې له امریکا/ناټو او افغان حکومت سره جګړه کوي، د هغوی جګړه فکري، نظري او مذهبي رنګ لري.

په پای کې زما (مطمئن) وړاندیز دادي چې امریکا/ناټو دي د جګړې تګلاره پر سیاسي تګلاره بدله کړي، او د افغانستان کشاله دي له سیاسي پلوه حل شي.

سمه ده زما خبرې به سختې وي، خو ما غوښتل چې تاسي ته هغه څه ووایم چې رښتیا دي، د رښتوني معلوماتو پر بنسټ کیدای شي سمه تګلاره غوره شي، او د ناسمو معلوماتو پر بنسټ کیدای شې غلطه تګلاره وکارول شي، کوم چې په تیرو ۱۲ کلونو کې امریکا/ناټو ورسره مخ ده، دوی ته غلط معلومات ورکول شوي او ورکول کیږي.

**منصف**: غواړو چې موږ پوه شو چې تاسي د پولنډ نظامي ماموریت تر کومه ځایه بریالی ارزوئ، که بریالی نه وی، لاملونه یې څه دي؟

**زبیګنیوف**: دا چې موږ هم د ناټو غړی هیواد  یو، افغانستان ته مو پوځیان لیږلي دي، تر څو چې افغانان خپله خپل مشکل حل نه کړي، نور یې ورته نه شي حل کولای.

له ۳۰ زیاتو کلونو جګړې اوس باید هلته مثبت بدلون راشي، د افغانستان حالت پېچلی دی، ستونزمنه ده چې د حل لاره اسانه ورته پیدا شي. پولنډ له ۲۰۱۴ ز کال وروسته له افغانستان څخه د خپلو پوځیانو د وتلو پلان لري.

د پولنډ ولسمشر وایې چې له ۲۰۱۴ کال وروسته داسي څه نه ښکاري چې موږ نور پوځیان هلته ور ولیږو، لږ پوځیان چې غزني کې پاتې دي، هغوی به

له بېلابېلو لارو له خلکو سره مرستې کوي. تر دې مهاله هم ډېرې مرستې شوې، پولنډي پوځيان هڅه کوي چې د افغانستان امنيت ښه شي.
په افغانستان کې پولنډي پوځيان ووژل شول، هلته بېلابېل قومونه ژوند کوي، امنيت راتلل اسانه نه دی، په کار ده چې افغانانو ته د ماهي ورکول (امنيت راوستلو) پر ځای د ماهي د نيولو (امنيت را وستلو) چل ور زده کړو. افغانستان به له ۲۰۱۴ ز کال وروسته هم نړيوالو مرستو ته اړتيا ولري.
له افغانستان سره مرسته شوې ډالر شخصي جيبونو ته ولاړل، رشوت اخيستل زيات دي، دلته د اروپا وګړي له افغانستان سره توپير لري، خلک وايي د دې پرځای چې چاته پخه ډوډۍ ورکړو، ښه داده چې تنور جوړول او ډوډۍ پخول ور زده کړو، تر څو پخپله اوړه سم لانده او ډوډۍ ورڅخه پخه کړي.

په افغانستان کې د نيستمنو شمير تر شتمنو ډېر زيات دی، غريب خلک د دې توپير نه شي کولای چې څوک، طالب، امريکا يا روسان ښه دي. په دې فکر په کار دی چې څه ډول د افغانانو حالت ښه شي، افغانان خپلمنځي ستونزې لري.

په تيرو څه باندې دريو لسيزو کې ډېری افغانان له منځه تللي دي، تاريخ ليکي چې له افغانانو سره مرسته نه بلکې هر وخت ورسره دښمني پالل شوې.

که امريکا/ناټو پوځاين هلته پاتې کيږي، دا ستونزمنه ده، ځکه افغانان يې نه غواړي. ممکن کورنۍ جګړه هم پيل شي، همدا اوس امريکا ستونزه لري، هغوی غواړي يو شمير پوځيان يې هلته پاتې وي.

ماته ډېره د مايوسې او نهيلۍ او تعجب خبره وه، چې ډېری افغانان مې افغانستان کې وليدل، هغوی ويل؛ غواړي له افغانستان څخه کوم بل بهرنی هيواد ته ووځي. موږ پولنډيان هم نورو هيوادونو ته ځو، خو بيرته خپل هيواد ته راځو او له هيواد سره مينه لرو.

بل هیواد ته ورتلل، زه پوهیږم، دا ډیره بده ده چې موږ درځو او بیا بیرته نه را ځو.[۳۱]

**منصف**: دا معنی چې د نړیوالو ماموریت په افغانستان کې کامیاب نه وو.

**زبیگنیوف**: دا معنی چې افغانستان کې کار نه دی شوی، نه غواړم چې نتیجه ګیري وکړم، وروسته به هر څه معلوم شي. پولنډیان چې غزني ولایت کي دي، هلته چې ما له افغانانو سره خبرې کړي، هغوی راته ویلي چې د پولنډیانو کارونه مثبت دي.

له ما څخه په غزني کې ډیرو افغانانو پوښتنه کوله چې تاسي ولي طالبان نه وژنئ؟ دا مشکله ده چې پولنډي پوځیان پوه شي چې څوک طالب او څوک طالب نه دی. او څوک دوست کوم یو دښمن دی.[۳۲]

دا هم ستونزمنه ده چې وویل شي چې د افغانستان دننه څوک (کومه ډله بهرني) ښه او څوک (کومه ډله بهرني) بد دي، خپله افغانان پوهیږي او دوی یې درک کولای شي، زموږ پوځیان په غزني کې د خلکو د مرستې لپاره ورغلي وو، نه د ګډوډۍ له پاره.

په غزني کې زموږ له ۳۰۰۰ زیات پوځیان وو، هغوی د امنیت راوستلو توان درلود، خو چې هغه کارونه شوې وای چې هلته په سېمه کې خلکو غوښتل. له خلکو سره د مرستو د ډول اړوند ستونزمنه ده چې پولنډ پریکړه وکړي، څه

---

[۳۱] هدف یې دا وو چې پوځیان افغانستان ته ورلیږو، او بیرته یې بیا نه راولو، هلته پاتې کېدل یې غواړو، دا بده خبره ده.

[۳۲] نه یوازي غزني، بلکې د افغانستان په ډیرو پښتون میشت ولایتونو کې بهرنیو پوځیانو ملکي افغانان ډیر وخت د شپې چاپو پر مهال او یا هم د بمبارد پر مهال د طالبانو په نوم وژل. همدارنګه دوی ځینې وختونه د ورځې هم ملکي افغانان د طالب په تور تر برید لاندې را وستي.

چې يې درلودل هغه يې کړي، په کار وه او ده چې له افغانانو سره زياتي ولسي مرستي وشي، نه نظامي مرستي.

**احسان اميري**: که له افغانستان سره د امريکا/ناټو امنيتي تړون BSA لاسليک نه شي، پولنډيان به څه کوي؟ موږ اړتيا لرو چې له امريکا/ناټو سره امنيتي تړون لاسليک شي، ډير افغانان د امنيتي تړون د لاسليک کولو ملاتړ کوي.

د طالبانو ښخ کړل شوې ماينونه چې پر خلکو چاودنې کوي، پولنډيانو يې د شنډولو برخه کې څه کړي؟ په کار ده چې د ماينونو د چاودلو لپاره افغان پوځيانو ته روزنه ورکول شي، چې له ۲۰۱۴ ز. کال وروسته هغوی د ماين خنثی کولو وړتيا ولري.

**مطمئن**: اميري صاحب زموږ له هزاره ورونو څخه دی، دوی د امريکا/ناټو پوځيانو په شتون کې ډيره ګټه وکړه، د دوی سيمې په تيرو ۱۲ کلونو کې په امن کې پاتې شوي، د دوی خلک د امريکا او ناټو لخوا نه دي وژل شوې، بلکې دوی له ناټو/امريکا سره مرسته کړې.

جګړه د افغانستان په جنوب، ختيځ او جنوب ختيځ کې دوام لري[۳۳]، هلته ډيری پښتانه قومونه ژوند کوي، له امريکا/ناټو سره د جګړې ډير قربانيان پښتانه دي. زموږ هزاره ورونه چې اقليت دي، په تيرو ۱۲ کلونو کې د اکثريت قوم حقونه هم دوی ته ورکول شوي. دوی ستاسي (ناټو) لپاره ډير ښه خلک دی، امريکا/ناټو په افغانستان کې ۹ اډې غوښتي (باګرام هوايي او پوځي اډه، کابل هوايي اډه، کندهار هوايي او پوځي اډه، شينډنډ هوايي او پوځي اډه، هرات هوايي ډګر، جلال اباد هوايي او پوځي اډه، د هلمند شوراو پوځي اډه، ګرديز کې هوايي او پوځي اډه، مزار کې پوځي او هوايي اډه) خو د هزاره قوم خلکو

[۳۳] تر دي مهاله جګړه د افغانستان په شمالي ولايتونو کې کمه وه، چې وروسته کلونو کې بيا جګړو د هيواد په شمال کې هم زور واخيست.

ویل چې باید امریکا/ناټو ته لس اډې ورکول شي، او موږ غواړو چې امریکا په بامیان (د هزاره قوم مرکزي ولایت) کې هم پوځي اډه ولري.

دوی (هزاره ورونه) نه پوهیږي چې کله د امریکا اډه کوم ځای ته نږدې وي، بیا نو امریکایان په خپل سر را ووځي هلته د هغې سیمې میرمنې هم په امن کې نه وي، ښه مثال یې د جاپان په اوکیناوا جزیره کې د امریکا پوځي اډه ده چې هر وخت جاپانیان لاریونونه کوي چې د امریکا پوځي اډه دي د خلکو د اوسیدو له ځایه بل ځای ته انتقال شي، دلته امریکایې پوځیان په نجونو جنسي تیری کوي، خو امریکایان دا خبره له جاپان حکومت سره نه مني[۳٤]. داچې د جاپان لومړي وزیر یوشیهیکو (۲سپتمبر ۲۰۱۱ تر ۲٦ ډسمبر ۲۰۱۲) له خپل ولس سره ژمنه کړې وه، چې د امریکا یاده اډه به بل ځای ته انتقال کوي، ولې هغه ونه توانېد، او پایله داچې له خپلې چوکۍ یې استعفی ورکړه.

**زبیګنیوف**: زه تصمیم نیونکی نه یم، حامد کرزی پوهیږي چې نور یې واک په ختمیدو دی، امریکا هم په بد حالت کې ده، د امنیتي تړون پر سر ستونزه د امریکا او حامد کرزي تر منځ د افغانانو لپاره بده ده. امریکا په افغانستان کې ډیر زیان لیدلی، ډیره پانګونه یې هلته کړې، نه غواړي دا هر څه په اسانه له لاسه ورکړي. دا ډول د کرزي لپاره هم راتلونکی افغانستان دی نه امریکا.

په ٦ زره او یا هم له دې زیات څو زره امریکایې پوځیانو افغانستان نه ساتل کیږي، هلته د کانونو او معدنو مسئله ده، که کرزی غواړي چې افغانستان ته

---

[۳٤] کله چې ما دا خبرې کولې، زموږ افغانانو ماته په پښتو ویل چې همدومره بس ده، نور لازم نه ده، موږ له بهرنیانو سره خبرو کې ناست یو، هغوی ته ما وویل چې غواړم امیري صاحب او پولنډیان دواړه پوه شي. امیري باید دوی ته ځان معرفي کړي، چې څوک دی، او ولې دا خبره کوي، امیري باید ونه وایې چې افغانان د امریکا/ناټو پوځي اډې غواړي. له دې ناستې وروسته بیا ځل په نورو مجلسونو کې امیري نه یوازې د اډو خبره ونه کړه، بلکې په خبرو کولو کې یې هم ډیر احتیاط کاوو.

وفادار وي، باید انعطاف ومني. امریکا ته په افغانستان کې شتون ډیر مهم دی، هغوی هلته ډیرې پیسې لګولي او مرسته یې کړي، نور هیوادونه دومره مالي مرسته نه کوي[۳۵].

دا تیروتنه ده چې وویل شي چې یو لور ته طالب او بل لورته ناټو او ورسره افغان عسکر دي، افغانان بهرنیو پوځیانو ته احترام نه لري. دا د افغانانو مذهبي او عادتي ستونزه نه ده، بلکې د افغانانو تاریخ همداسي دی، چې بهرنیان نه مني. په کار ده چې بهرنیان دا درک کړي، او هغوی ته واضح شي.

افغانان په کوم ځانګړي یونیفورم کې جګړه نه کوي، او د جګړې لپاره هم عادي وسایل کاروي، په لبنان، سوریه او ځینو نورو هیوادونو کې هم دا ډول ده.

هر هغه څوک چې د ولس مرسته له ځان سره ونه لري، ګټونکی نه دی، او زه نه پوهیږم چې کوم یو ښه [۳۶] دی او څه وکړي.

---

[۳۵] پر ۲۰ مارچ ۲۰۱۸ ملا عبدالسلام ضعیف د امریکا د پوځ لوی درسیز جوزیف ډنفورډ Joseph Francis Dunford سره په کابل کې ناسته درلودله، ډنفوډډ ور څخه پوښتلې و: "که طالبان واک ته ورسیږي، او په سېمو کې کنټرول تر لاسه کړي، هغوی به په سېمه کې د امریکایې کمپنیو ګټې ونه ګواښي، د امریکایې کمپنو امنیت به څه ډول شي، آیا امریکایې کمپنیو ته به په سېمه کې د کار کولو اجازه ورکړي؟"

ډنفورډ ته ضعیف ویلې و: "همدا خبره باید له طالبانو سره وشي، زه ډاډه یم چې طالبان په دي برخه کې مخالفت نه کوي، ځکه زموږ هیواد او سېمه کې معدنونه او نه استخراج شوې کانونه شتون لري، او موږ یې استخراج نه شو کولای، اړتیا ده چې د کوم بل هیواد کمپنۍ د معادنو د استخراج لپاره دلته کار وکړي، او دا زموږ ضرورت او دواړو هیوادونو په ګټه دی."

[۳۶] نه پوهیږم هدف یې افغان حکومت او طالبان وو، او یا دا چې ناټو تر چتر لاندي هیوادونه.

موږ ټول پوهیږو، که تاسي زما دکورنۍ غړی ووژنئ، هر ډول هڅه کوم چې غچ واخلم، دا د هر چا لپاره همداسي ده، چې د خپلې کورنۍ د غړي وار واخلي.

زه د افغانستان د ستونزې د حل لپاره سیاسي، اقتصادي او ډیپلوماټیکې هڅې ښه گڼم.

**برهان**: تاسي د افغانستان په اړه ډیر ښه معلومات لرئ، داچې څینې هیوادونه دویم ځل لپاره د افغانستان په جگړه کې داخل دي [37]، هغوی له تیر او اوس څخه کومه تجربه تر لاسه کړي؟

پولنډ د ناټو غړو هیوادو چوکاټ کې څه ډول رول لوبولی چې بیا ځل هغه تجربه تکرار نه شي.

**زبیگنیوف**: د پخواني شوروي اتحاد پر افغانستان د حملې پر مهال؛ له روسانو سره په افغانستان کې زموږ پوځیان نه وو، زه له تاسي پوښتنه کوم چې د حل کومه ښه لاره ده، زه د پولنډ په اړه ښه پوهیږم، نه د افغانستان په اړه.

زموږ افغانانو ناسته د پولنډ د ملي امنیت د بیرو له مرستیال مشر سره تر ټاکلي وخت زیاته شوه، پلان کې وه چې موږ نیم ساعت خبرې ور سره ولرو، ولې ناستې تر یو ساعت هم زیات وخت ونیو.

د غرمي ډوډۍ مو د ملي دفاع پوهنتون د خوړنځای په ځانگړې ځای کې وخوړله، زموږ لپاره یې حلاله ډوډۍ چمتو کړي وه، او هلته موږ د پوهنتون محصلین په کښته پوړ کې لېدل چې له هر یوه سره یې د خوړو غاب و.

زموږ کوربنو ټینگار درلود چې ډوډۍ خوړل ژر وشي، ولي موږ د ماسپښین لمونځ هم وکړ، په سره هواء کې بیا ځل د پوهنتون قومنداني ته ورغلو.

---

[37] کله چې پخواني شوروي اتحاد پر افغانستان حمله (۱۹۷۹) وکړه، هغه وخت پولنډ د وراسا پکټ ټرون کې له روسانو سره ملگری هیواد وو.

## د دفاع وزارت له ځینو رئیسانو سره ناسته

رښتیا هم موږ ډېر خسته شوې وو، پرون ورځ مو نږدې ۲۴ ساعته د الوتکې او بس مزل کړی وو، د شپې مو خوب ته ډېر وخت نه وو پیدا کړي، او سهار له چای څښلو وروسته سمدستې مو لومړۍ ناسته د پوهنتون له قوماندان او مشرانو سره او بیا ور پسې د ملي امنیت له مرستیال مشر سره، او د ناستې پر مهال ډېرې خبرې هم کړې وې.

داچې پولنډي کوربنو همداسې ترتیب کړی وو، موږ نه شوای کولای چې د هغوی غوښتنه له پامه وغورځوو، له ستړیا سره سره د پوهنتون د قوماندانۍ په لور ورسره روان وو.

په سالون کې دا ځل د دفاع وزارت څو تنه رئیسان او مشران د میزونو شاته ناست وو، زموږ انتظار یې کاوو، له روغبړ وروسته سمدستې مجلس پیل شو، په ټولو مجلسونو کې؛ د پوهنتون لخوا یو افغان ژباړن له موږ سره شتون درلود، هغه په دري ښه پوهیدی، خو پښتو یې ښه نه وه، داچې زموږ ټول ملګري په انګریزي پوهیدل، د هغه لپاره مو کار اسانه کړی و، ولې بیا هم ځینې وختونه یې د پولنډیانو پولنډي خبرې موږ ته په دري ژبه ژباړلې.

د دفاع وزارت د معلوماتو او رسنیو رئیس او د مطبوعاتي ټیم مشر جانوسز والچاک Navy Capt. Janusz Walczak ، د دفاع وزارت د رسنیو او معلوماتو د څانګې مشر ډاریوسز کریسک Col. Dariusz Kryszk، د دفاع وزرات ویاند، ، د ورځپاڼې رئیس او یو بل پوځي هم ناست وو.

**جانوسز**: په افغانستان کې خپله دنده مهمه ګڼو، زموږ او ستاسې تاریخ یو دی، زموږ پوځیان یوازې دمرستې لپاره درغلي، کوم بل هدف نه لري. د پولنډ پوځیان د افغانستان د امنیت په اړه لږ پوهیږي، په ۲۰۱۴ کې یې

ماموریت ختمیږي، کله چې زموږ پوځیان له افغانستان څخه ووځي، کوم کارونه باید موږ وکړو چې افغانان زموږ په اړه ښه فکر وکړي. او کوم منفي کارونه چې زموږ پوځیانو هلته کړي وي، هغه راته په ګوته کړئ.

**منصف**: د منفي او مثبت ټکو اړوند به خبرې کوو، خو زه په ټوله کې د نړیوالو پوځیانو په اړه خبره کوم، د ملکي افغانانو وژنه زیاته ده، که چیرته په تیروتنه یې کولای، بیا به هم موږ منلي وای.

ما (لیکوال) نه غوښتل چې دا ځل زه ډیرې خبرې وکړم، خو داچې له منصف صاحب وروسته سمدستي زه ناست وم، نو د ټولو سترګې ماته وي، او زموږ ملګرو هم وویل چې زه خبرې وکړم، سخته وه، او سختې خبرې مو تر منځ وشوي.

**مطمئن**: زه د امریکا/ناټو پوځیانو په اړه خبرې کوم، په ځانګړي ډول د پولنډي پوځیانو اړوند څه نه وایم، موږ غواړو چې تاسي ته رښتیا خبرې وکړو، که موږ رښتیا ونه وایو، نو خپل مسؤلیت به مو نه وي اداء کړی، او رښتیا ویل اسانه هم نه وي، سخت به وي، خو غواړو چې وایې ورئ.

امریکا/ناټو پوځیانو ته په افغانستان کې د دښمن په سترګه کتل کیږي، د افغانانو تاریخ دادی چې بهرني پوځیان نه خوښوي. د افغانستان جغرافیه داسي نه ده لکه د جاپان یا کوم بل هیواد چې امریکایې پوځیان پکې وي. په تیرو ۱۲ کلونو کې امریکا/ناټو پوځیان ونه توانېدل چې افغانستان کې امنیت راولي، له دي وروسته یې هم نه شي راوستلای.
افغانستان له پاکستان سره ستونزه لري، د ډیورنډ کرښه ده، او امریکا د ډیورنډ اړوند د پاکستان له غوښتنې څخه ننګه کوي. افغانانو ته خپلواکي تر هر څه زیات ارزښت لري، او پوهیږي چې جاپان کې امریکایې پوځیان څه ډول کړني له جاپانیانو سره کوي، چې نتیجه کې یې د جاپان لومړی وزیر یوشیهیکو مجبوره شو چې له خپلې چوکۍ څخه استعفی ورکړي. خو

امریکا د خپلې پوځې اډې بل ځای ته انتقال لپاره چمتو نه وه چې د استوګنې له ځایه یې وباسي.

رسنۍ ربښتیا نه وایې، حامد کرزی غواړي چې خپل واک وساتي او امریکا غواړي په افغانستان کې خپله ماتې پټه کړي.

د راتلونکي ۲۰۱۴ ز کال ولسمشریزې ټاکنې، له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کېدل، د سولې سره په ضد کې کړنې دي. زموږ ګاونډي هیوادونه غواړي چې امریکا د ډیر وخت لپاره په دام کې ګیر پاتې شي. که امریکا په افغانستان کې پر خپل پوځې شتون ټینګار کوي، په دي معنی چې هغوی جګړه اوږدول غواړي، او جګړه ګټلای هم نه شي.

له امریکا / ناټو سره د افغانانو جګړه فکري بنسټ لري، اقتصادي اړخ نه لري، افغانان له مذهبي اړخه ځان مسؤل ګڼي چې د بهرنیو ځواکونو مقابل کې د هیواد د ازادي لپاره جګړه وکړي.

د اروپا او امریکا تر منځ توپیر شته، افغانان په دي توپیر پوهیږي، د اروپایانو مجبوریت دي چې افغان جګړه کې بوخت دي.

امریکا غواړي چې په افغانستان کې هم د عراق په څیر مذهبي جګړې ته لمن ووهي، د سني او شیعه تر منځ جګړې وشي، کله چې په دي برخه کې ونه توانېدل، بیا یې د اربکیانو په نوم غیر مسؤل وسلوال جوړ کړل، او دا ډول د پخوانی جنګسالار عبدالرشید دوستم ملاتړ کوي چې جګړې وکړي.

د ولسي جرګې ډیر وکیلان خپلو سیمو ته د ناامني له امله نه شي تلای، خو خلک طالبانو ته په خپلو کلیو کې ځای ورکوي.

د سولې شورا مشر استاد رباني باندي د کابل په مصؤنه سیمه کې برید کیږي، وژل کیږي، ارګ ته څیرمه د سي آی اې مرکز باندي طالبان حمله

کوي (۲۰۱۲ ز. کال)، او دا ډول د ملي امنیت رئیس اسداله خالد باندي په کابل کې د هغه په میلمستون کې حمله کوي.

که ناټو هر څومره مرستي وکړي، تر څو چې زموږ ملکي افغانان وژل کیږي، موږ د دوی دغه ډول مرستو ته ښه نه شو ویلای، موږ غواړو چې افغانان له وژلو څخه خلاص شي.

د ناټو لپاره د افغان پوځیانو لخوا د دوی پر پوځیانو حملي بله لویه ستونزه ده، همدارنگه د نامعلومو وسلوالو لخوا په کابل ښار کې د سوداگرو تښتونه هم ستونزه ده، چې افغان امنیتي کسان هم پکې لاس لري.

د کوکنارو کښت د طالبانو وخت کې صفر ته را ټیټ شو، خو د امریکا/ناټو پوځیانو په شتون کې د هر تیر کال په نسبت د کوکنارو کښت زیاتیږي، همدارنگه د نشیې توکو قاچاق هم زیات شوی.

**ډاریوسز**: د نشي توکو له قاچاق څخه طالبان گټه پورته کوي، له دي لاري پیسې تر لاسه کوي.

**مطمئن**: تر ۲۰۰٦ ز کال پورې ټولې هغه سیمې چې د کوکنارو کښت پکې کیدی د دولت تر واک لاندي وي، او د کوکنارو د کښت لسمه برخه دولتي چارواکو له بزگرانو ټولوله. د کوکنارو د کښت نه اړولو بدل کې هم په ولسوالیو کې دولتي چارواکو پیسې له بزگرانو اخیستي او کښتونه یې ورته پریښودل، کوم کروندگر چې به پیسې ور نه کړي د هغه کښت به یې ورته په ټکتر باندي له منځه وړی.

د نشیې توکو قاچاق کې افغان چارواکي، امریکایې او ناټو جنرالان او حتی د ملگرو ملتونو لوړ پوړي چارواکي ښکېل دي او قاچاق کوي.

**ډاریوسز**: تاسي بې ځایه تورونه لگوئ، دا هیڅوک درسره نه مني چې ناټو جنرالان دي د نشیې توکو په قاچاق کې برخه ولري، تاسي خپلو څرگندونو

ته ځیر شئ، دا ډول څرگندونې تاسي ته تاوان رسولای شي، موږ په دې برخه کې له تاسي سره جدي برخورد ته اړ کیږو، تاسي باید داسي څرگندونې ونه کړئ چې بې ځایه تور ولگوئ.[۳۸]

**مطمئن**: همدا ستونزه ده چې رښتیا معلومات په ډیرو بد لگیږي، زه د خپلې خبرې لپاره ثبوتونه وړاندې کوم، یو ځل چې په ۲۰۱۲ ز کال کې د امریکایي پوځیانو پر موټر ځانمرگی برید وشو، امریکایي پوځیانو غوښتل هوایي ډگر ته ولاړ شي، او له هغه ځایه ممکن امریکا ته به تلل، پر لاره د برید پر مهال د هغوی له موټر څخه د هیروینو سپینې خلطې هم عیني شاهدانو لیدلي او رسنیو ته یې همدا وویل.

په نړیوالو رسنیو کې هم دا راپورونه راغلل چې ناټو جنرالان او د ملگرو ملتونو لوړ پوړي کارکوونکي له افغانستان څخه د نشیي توکو په قاچاق کې لاس لري.

**جانوسز**: زه غواړم چې تاسي خپلې څرگندونې تصحیح کړئ، تاسي دا حق نه لرئ چې پر ناټو جنرالانو او د ملگرو ملتونو په کارکوونکو تور پوري کړئ چې د نشیي توکو په قاچاق کې لاس لري. دا مسئله زموږ له پاره جدي ده، او تاسي باید خپلې څرگندونې بیرته واخلئ.

**مطمئن**: ما چې کومې خبرې وکړي، دا سمې دي، تاسي یې باید په اړه معلومات ولرئ، زه له خپلو څرگندونو نه په شا کیږم، که په تاسي بدي لگیږي، بیا نو په کار نه وه چې له موږ څخه مو پوښتنه کړې وای.

[۳۸] زما څخه د رئیسانو نومونه هیر دی، غالباً چې همدا جدي برخورد دفاع وزارت د نشراتو رئیس وکړ، او نورو رئیسانو هم د هغه خبرې تایدولې، او ټینگار یې کاوو چې په دې اړه زه (لیکوال) باید د څرگندونو پر وخت له ډیر احتیاط څخه کار واخلم.

**ډاریوسز**: زه په کلکه له تاسي غواړم چې په نشيي توکو کې د ناټو جنرالانو د ښکېلتیا اړوند ثبوت وړاندي کړئ، که ثبوت وړاندي نه کړئ، بیا به دا ډول ښرگندوني ستاسي لپاره ښې نه وي.

**مطمئن**: زه به تاسي ته هغه راپورونه وښیم چې نړیوالو رسنیو په دې اړه خپاره کړي، او تاسي ته په کار ده چې هغه راپورونه ولولئ، موږ د رښتیا ویلو کې هیڅ ډول ویره نه لرو.[۳۹]

---

[۳۹] اوسمهال (مارچ ۲۰۱۹) نږدې ۳,۵ میلیونه افغانان په نشيي توکو  اخته دي، چې تر یو میلیون زیات ماشومان، تر یو میلیون کم ښځې او نږدې ۱,۵ میلیونه یې سړي دي.

مواد مخدر په قاچاق کې د لوړ پوړو چارواکو لاس لرل ځینو رسینو راپور کړي، چې د مخکیني ولسمشر کرزي ورور احمد ولي کرزي، د ولسي جرگې غړی ظاهر قدیر، د ولسي جرگې غړي فوزیه کوفي او گڼ شمیر نور د شمال ولایتونو چارواکي دي.

همدارنگه د مواد مخدر په قاچاق کې بهرنیو رسنیو د امریکایې او ناټو جنرالانو لاس لرل هم راپور ورکړي دی.

**نیویارک ټایمز په ۲۰۰۹** کې راپور ورکړ چې دفاع وزیر او د کرزي لومړی مرستیال مارشال فهیم د هیروینو په قاچاق کې لاس لري.

https://www.nytimes.com/۲۰۰۹/۰۸/۲۷/world/asia/۲۷kabul.html

۲۰۱٦ کې امریکایې ورځپاڼو راپور ورکړ چې سي آی اې له افغانستان څخه د هیریونو قاچاق کې لاس لري.

https://www.veteranstoday.com/۲۰۱٦/۰٦/۰٤/the-cia-continues-trafficking-drugs-from-afghanistan/

**بي بي سي ۲۰۱۵ کال راپور:** د افغانستان د نفوس ۱۱ سلنه په نشيي توکو روږدي دي چې د نړۍ په سطحه د معتادينو لوړه کچه ده. او د پوليسو ۱۲ تر ۱۴ سلنه کسان په چرسو روږدې دي.

د افغانستان د روغتيا وزرات د راپور له مخې په ۲۰۰۵ کال کې معتادين ۹۲۰ زره، په ۲۰۰۹ کال کې له يو ميليون زيات او په ۲۰۱۴ کال کې درې ميلونه کسان وو.

په معتادينو کې له يو ميليون زيات يې کوچنيان دي.

http://www.bbc.com/persian/blogs/۲۰۱۵/۰۵/۱۵۰۵۱٦_zs_addiction_surge_afghanistan

**بي بي سي جون ۲۰۱۸:** افغانستان کې د ۳،۵ ميليونه مواد مخدر معتاد کسانو جمله کې اته لکه يې ښځې دي.

http://www.bbc.com/persian/٤٤٦١٥٤٨٥

**د ويکيپيډيا راپور:** د نړۍ ۹۰ سلنه کوکنار افغانستان کې کښت کيږي

د نړيوال مارکيټونو ۹۳ سلنه د افغانستان افيوم جوړوي. او کلنی خرڅلاو يې تر ۴ بيليونه رسيږي.

۲۰۱۷ کال کې ۴ لکه کسان د افيومو کارو بار باندي په افغانستان کې بوخت وو.

https://en.wikipedia.org/wiki/Opium_production_in_Afghanistan

**د ګارډين راپور:** ۲۰۱۷ ز کال په افغانستان کې د کوکنارو کښت په نړيواله کچه لوړ وو.او تر دي وخت امريکا ۸،٦ بيليونه ډالر د کوکنارو کښت د کنټرول لپاره مصرف کړي وو.

په ۲۰۱۷ کې ۳۲۸ زره هکتاره (۱۲٦۵ مايل مربع) ځمکه باندي کوکنار کرل شوی وو.

https://www.theguardian.com/world/۲۰۱۸/jun/۱٤/us-anti-narcotic-afghanistan-opium-costly-failure-official-report

**د افغانستان د تحلیلګرانو شبکه:** په سل کې ۲۰ سلنه خالصه ګټه، په کابل کې د هیروینو خرڅونکي امنیتي کسانو ته ورکوي، او امنیتي کسان اجازه ورکوي چې هیروین په ښکاره په معتادینو خرڅ کړي.

۲۰۰۹ کال کې یو میلیون کسان په نشیي توکو روږدي وو، په ۲۰۱۳ کال کې ۱,٦ میلیونه ته دا تعداد ورسید.

https://www.afghanistan-analysts.org/dari pashto/%D۹٪BE%D۹٪۸٤-%D۸٪B۳٪D۹٪۸۸٪D۸٪AE%D۸٪AA%D۹٪۸۷-%DB٪۸C%D۸٪A۷-%D۸٪B٤٪D۹٪۸۷٪D۸٪B۱٪DA%A۹-%D۹٪۸٥٪D۸٪B۹٪D۸٪AA%D۸٪A۷٪D۸٪AF%DB٪۸C%D۹٪۸٦%D۸٪۹F/

**الټرنټیو نیوز :** سي آی اې د افغانستان د کوکنارو کښت زیاتولو کې مهم رول درلودل، همدا کار یې په ویتنام او همدارنګه افغانستان کې وکړ چې څه ډول د کوکنارو کښت زیات شي، او د هیروینو په قاچاق کې سي آی اې ښکېله وه.

https://www.collective-evolution.com/۲۰۱۷/۰٦/۲۲/how-the-cia-operated-a-drug-smuggling-airline-for-heroin-the-۹۱۱-connection/

**روسي ورځپاڼه:** روسانو شک درلود چې امریکا او ناټو د افغانستان د هیریونو کنټرول نه کوي، بلکې وده یې ورکړې ده.

https://russia-insider.com/en/lavrov-calls-out-natos-high-tolerance-drug-trafficking/ri۱۹۳٤٥

کله چې علي احمد جلالي د کورنیو چارو وزیر و، هغه وویل چې د دولت نږدې ۲۰۰ لوړ پوړي کسان او ډیر مهم مشران د مواد مخدر په قاچاق کې لاس لري.

د دفاع وزارت د رئيسانو او زما (ليکوال) ترمنځ بحث جدي شو، هغوی ټول په خپلو چوکيو کې د جديت په ډول ښوريدل او عصباني کېدل، هر څومره چې يې له ما څخه وغوښتل چې د نشيې توکو قاچاق کې د ناټو جنرالانو د ښکيلتيا له خبرې په شا شم او بيرته يې واخلم، ما ونه منله، او د هغوی غوسه وار په وار زياتېدله.

داچې د بحث له جنجالي کيدو مخه نيول شوې وي، زموږ افغان ملګرو هم مداخله وکړه، او يو بل د دفاع وزارت چارواکي خبرې پېل کړې، هغه وويل:

" ټاکني يوه فرهنګي مسئله ده، که په خپل وخت ونه شي، د ډيموکراسي اصول تر پښو لاندي کيږي، په هر ډول چې وي بايد ټاکنې وشي.

په افغانستان کې د همدې اصولو د عملي کېدو په موخه تر دي مهاله ۴۳ پولنډي پوځيان وژل شوي، هغوی د خلکو لپاره د ښه امنيت او ښې راتلونکې لپاره وژل شوي.

په تير کال کې زموږ پوځيانو په غزني کې د ۵۰۰ ملکي افغان رنځورو درملنه کړی، زه په افغانستان کې ۱٦ مياشتي د خبريال په توګه پاتې شوی يم، په ۲۰۰۳ ز کال کې به له کابل څخه غزني ته يوازې، پرته له امنيتي کسانو څخه تلم، په کابل کې اوسيدم، داسي لکه چې زه په اروپا کې يوازي ګرځيدم، مګر اوس په ۲۰۱۳ ز کال کې امنيت خراب شوی، او يوازي ګرځيدلای نه شو. د ټولو لپاره امنيت مهم دی، د امنيت کليمه ډيره مهمه ده".

**ډاريوسز** : له امريکا سر امنيتي تړون د افغانستان په ګټه دی، افغانانو ته په کار ده چې له امريکا سره د امنيتي تړون مخالفت ونه کړي، ځکه د امريکايي پوځيانو شتون د افغانستان د امنيت او اقتصاد لپاره مهم دی.

---

https://۸am.af/j۸am/index.php?option=com_content&view=article&id=۲٦۱٦۲:۱۳۹۱-۰٤-۰٤-۱٦-۱۲-۰٦&catid=۳&Itemid=۲۸۰

پولنډ له څو کلونو راهیسي غواړي چې امریکا په پولنډ کې پوځې اډې ولري، او په تکرار مو ورڅخه غوښتې چې دلته یوه پوځي اډه چې ۴۰۰۰ او یا حد اقل ۲۰۰۰ امریکایې پوځیان پکې وي، جوړه کړي، ځکه همدا امریکایې پوځي اډه به زموږ پر اقتصاد مستقیم مثبت تاثیرات ولري[٤٠].

**مطمئن**: افغانان له امریکا سره د امنیتي تړون مخالفت کوي، او امریکایې پوځیان چې کوم هیواد ته ننوتلي، هلته یې نا امني را وستلې، ستاسي لپاره ښه ده چې راشي، خو زموږ مذهبي او کلتوري ارزښتونه اجازه نه راکوي، چې امریکایې پوځیان د افغانستان په کوڅو کې ازاد وګرځي.

**اشرف غیرت**: زه د غزني ولایت اوسیدونکی یم، د پولنډي پوځیانو په ارزښت ښه پوهیږم، موږ له پولنډیانو مننه کوو چې خپل اولادونه یې د غزني امنیت ساتلو لپاره را لیږلي دي. هغه ولسوالۍ چې امنیت یې له پولنډي پوځیانو سره وو، هلته یې د ۲۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت پروژې عملي کړي او بشپړې کړي دي. د امنیت تر څنګ پولنډي پوځیانو په بیا رغونه کې هم زیات کار کړی دی. کله چې څوک په غزني ښار کې د پولنډي پوځیانو نښه (لوګو) ویني، پوهیږي چې دوی د بیا رغونې استازولي کوي.

---

[٤٠] کله چې جورش ډبلیو بوش په واک کې و، له هغه وخت څخه پولنډ له امریکا غوښتنه کوله چې پولنډ کې دایمې پوځې اډه جوړه کړي، تر څو پولنډ، لیتوانیا، لتوني / لاتویا، استونیا، رومانیا او اوکراین د روسیې له پوځي تهدید او مداخلې څخه خوندي وي.

کله چې روسیې له اوکراین څخه د کریمیا سیمه جلا او د روسیې خاوره یې وبلله، هلته یې روسیې ځواکونه ولیږل (فبروري ۲۰۱۴)، د کریمیا خلکو د مارچ ۱۷مه ۲۰۱۴، د ټولپوښتنې او ریفرنډم د لارې رایه ورکړه چې کریمیا په روسیې پسې وتړل شي.

امریکا پولنډ کې دننه او ځینو نورو سیمو ته خپل ۵۰۰۰ پوځیان د روسانو د تهدید کمولو او ختیځې اروپا هیوادونو سره د مرستې په موخه واستول.

په ۲۰۱۹ ز کال کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په امر پولنډ کې ۲۰۰ امریکایې پوځیان ځای په ځای شول.

زه متاثیر یم افغانستن کې ۴۳ پولنډي پوځیانو قرباني (مړي) ورکړي ده، مګر د دوی قربانی بې ځایه نه ده ، دوی د امنیت د تأمین پخاطر وژل شوي. د افغانستان او په ځانګړي ډول د غزني خلک د پولنډیانو قرباني هیڅکله هم نه هیروي.

په تیرو ۱۲ کلونو کې په افغانستان کې دوامداره جګړه روانه ده، د ځینو هیوادونو پوځیانو تیروتنې کړي دي، ولي د پولنډي پوځیانو تیروتنې نظر نورو ته کمې دي.

په راتلونکې کې هم د پولنډ هیواد د مرستو غوښتنه کوو، په ځانګړي ډول د اردو تجهیز، په اقتصادي او ډیپلوماټیک برخو کې.

**جانوسز**: له تاسي (اشرف) څخه مننه کوم، موږ هم په افغانستان کې تر زیات فشار لاندي یو، ځینې دردناکې پیښې شوي، ولي دا چې امینت راغلی، ښه ده، او لاسته راوړنه ده.

**کوهستانی**: د ناټو غړو هیوادو ته په کار ده چې له افغانستان سره اقتصادي او تخنیکې برخو کې مرستې وکړي، زه د پولنډیانو د ودانیزو پروژو اړوند معلومات نه لرم او نه پوهیږم، خو په ولایتونو کې د ولایتي بیا رغوني ډلو PRT لخوا جوړې شوې پروژې اکثریت یې خرابي، بي کیفیته او ښه تاثیر یې نه درلود.

د افغانانو دیني او مذهبې چارو ته دي توجه وشي، ځینې وخت چې په بهرنیو ځواکونو حمله شوې، هغوی له سپیو سره مسجد ته ننوتلي دي، د دوی دغه ډول عمل؛ له دوی سره د افغانانو نفرت پیداکړی او زیات کړی دی.

**پولنډی رئیس**: زموږ هر پولنډی پوځي چې افغانستان ته ځي، هغه ته ٦ میاشتي د افغانانو د کلتور اړوند روزنه ورکول کیږي، دا زما له نظره هم ډیره غلطه ده چې د ناټو پوځیان دغه ډول تیروتنې کوي.

**پولنډی میرمن**: په افغانستان کې د خبریالانو دنده څه ډول ده، د بیان ازادي لري؟

**احسان امیري**: که یوازې منفي وایو، مثبت شیان نه وایو، دا هم ظلم دی، په تیرو ۱۲ کلونو کې زیاتې لاسته راوړنې لرو، نږدې ۲ میلیونه نجونې او هلوکان ښوونځیو ته ځي، روغتیا برخه کې ډیر کار شوی دی، سړکونه پاخه شوې، ولي تر دي ټولو افغانانو ته امنیت ډیر ارزښت لري.

هغه وخت چې طالبانو ارګ ته نږدې ، اریایانا هوټل باندې حمله کوله، ما له طلوع ټلویزون سره کار کاوو، خبریال وم، زه د جګړې سیمې ته ډیر نږدې ورغلی وم، کله چې برید کوونکو طالبانو ولیدم چې خبریال یم، هغوی ماته وویل چې له دې ځایه لیرې شه، تر څو له خطر څخه وساتل شم، ما لیدل چې طالبانو څه ډول د ولسمشر ساتونکي له منځه وړل. کله چې جګړه ختمه شوه [٤١]، بیا وروسته موږ د ایساف کسانو لخوا د برید ساحې ته پرې نه ښودل شوو.

**مطمئن**: رسنۍ یو څه وایې خو هلته چې موږ کوم څه په سترګو وینو، هغه بل څه دي، د بیان ازادي یوازې هغوی لري چې د لویدیځ په ګټه کار کوي، ازادو رسنیو او خبریالانو ته د بیان ازادي حق نه شته، تر دې چې د مرګ اخطار ورکول کیږي [٤٢].

---

[٤١] طالبانو ارګ ته نږدې د امریکا د سي آی اې مرکز (اریانا هوټل) باندې (۲۵ جون ۲۰۱۳) برید وکړ، د امریکایي پوځیانو په یونیفورم او ورته مرمۍ ضد موټرانو کې یې دې مهم ځای ته ځان را رسولی وو، هلته چې هیڅ دولتي لوړ پوړی چارواکی هم پرته د ارګ له اجازې نه شي ورتلای، او په کابل کې تر ټولو د امنیت له اړخه مهمه او د ګډو پوځیانو لخوا ساتل کیدونکې سیمه ده. په همدې سیمه کې د ولسمشر ځانګړې امنیتي کسان هم د امنیت ساتلو په موخه ولاړ وي، او د هر شي څارنه په ډیر دقت سره کوي.

[٤٢] زه لیکوال دوه (نومبر ۲۰۱٦ او جولای ۲۰۱۷) ځله له دې امله بندي شوم چې ولي په رسنیو کې ځمکني حقیقتونه وایم.

په هلمند کې عبدالصمد روحاني ځکه ووژل (۸ جون ۲۰۰۸) شو چې بي بي سي ته يې رښتيا راپورونه چمتو کول، نقشبندي په هلمند کې د خپلې رښتونولۍ قرباني شو، همدارنګه اميد خپلواک په ارزګان کې ځکه ووژل شو (۲۹ جولای ۲۰۱۱) چې له ارزګان څخه يې رښتيا راپورونه ورکول، اميد او روحانی طالبانو نه دي وژلي، دواړه د حکومت تر کنټرول لاندي سيمو، يو د ترينکوټ ښار کې او بل لښکرګاه ښار کې ووژل شول، ويل کيږي چې روحانی د سيمئيزو لوړ پوړو دولتي چارواکو په سپارښتنه وژل شوي او اميد خو د بهرنيو ځواکونو لخوا تر پيژندل کيدو وروسته وژل شوی دی.

زه خپل هم له طالبانو او هم له حکومت څخه متضرر شوی يم، حکومت اصلاً شته نه، طالبان په ولس کې دي، همدا جګړه د ولس له منځه کوي، او ولس ورسره ملګری دی.

**برهان عثمان:** ۲۰۰۹ ز کال کې مې يوه څيړنيزه ليکنه کوله، چې د پاڅون په اصلي ريښو باندي وپوهيږو، ځکه تر ۲۰۰۳ کال پوري امينت ښه وو، د حکومت مقابل کې جګړه او پاڅون نه وو پيل شوی. موږ پوه شوو چې يوه طبقه خلک احساس کوي چې حکومت کې نشته او دوی ته يې حقونه نه دي ورکول شوي.

د دفاع وزارت له رئيسانو سره زموږ افغانانو ناسته او خبرې ډيرې ښې نه وې، هغوی تمه درلودله چې د اشرف غيرت په خير به د ناټو او په ځانګړې ډول د پولنډي پوځيانو ښه ووايو.

رښتيا خبره داده چې زما سره هم يو ډول ويره وه، چې سختي خبرې مې وکړي، که د ناټو جنرالانو په نشيې توکو کې د ښکيلتيا اړوند ثبوت وړاندي نه کړم، کيدای شي ستونزه راته جوړه شي.

د مجلس له ختم وروسته زه تر ټولو ژر له سالون څخه ووتلم، بيړه مې وه چې د ماښام لمونځ اداء کړم، د مازيګر لمونځ مې مخکې اداء کړی و.

کله چې ما لمونځ خلاص کړ، ګورم چې د معلوماتو او رسنیو مشر ډاریوسز انتظار دی، او ماته یې اشاره وکړه چې ور نږدې شم، دا هغه کس دی چې د خبرو پر مهال یې له ماسره تر ټولو نورو پولنډي رئیسانو ډیر زیات جدیت کاوو، او هم ده یو ډول ګوتخنډنه هم کوله، که خپل نظریات اصلاح نه کړم، نو ستونزه به راته پیدا شي.

ډاریوسز ته چې ور نږدې شوم، هغه په غیږ کې ټینګ ونیولم، په غوږ کې یې راته وویل: " ډیر راته ګران یې، خبرو دي خوند را کاوو، هلته مجلس وو، ما باید همدا ډول برخورد کړی وای.

مورږ پولنډیان ستاسي پوروړي یو، همدا تاسي افغانانو مورږ ته له روسانو څخه ازادي راکړي ده، اوس به بیا همدا تاسي افغانان مورږ د امریکا له یکه تازي څخه خلاصوئ."

پولنډي جنرال ډیر وخت په غیږ کې ټینګ نیولی وم، ویل یې تاسي ته انتظار وم، او بیا یې له ما سره مخه ښه وکړه، نور پولنډیان له ده مخکې وتلي وو.

په همدې ورځ ماښام ډوډۍ بیا هم د پوهنتون ځیني د پاخه عمر جنرالان او د سفیر لانګ سره مورږ درلودله، بیا د افغانستان پر سیاسي حالاتو باندي خبرې وشوې، پولنډیانو ویل چې د پولنډ خلک ډیر میلمه پال دي، او هر وخت چې سترخوان هواروي، د یوه نفر ځای او خواړه اضافه باید هلته وي، ځکه کیدای شي یو ناڅاپه کوم میلمه راشي، په همدې ورځ یې هم د پخواني دود د تازه کېدو په موخه یوه چوکۍ او یو ځای خالي پریښودلی وو، د هرې چوکۍ مخې ته په میز لیکل شوې نومونه ایښودل شوې وو، خو د یوې چوکۍ مخکې میز باندي نوم نه لیدل کېدی، پولنډیانو د همدې دود کیسه کوله چې سفیر لانګ را ننوتی، او ټولو په خندا وویل چې دادی میلمه را پیدا شو. رښتیا هم د سفیر لانګ راتګ د هغه لخوا تاید نه وو، بلکې هغه غوښتل چې له مورږ سره وګوري، هغه د پولنډ بهرنیو چارو وزات کې د افغانستان د میز مسؤل و، له دي مخکې په افغانستان او ایران کې د پولنډ سفیر پاتي شوی وو، په فارسي ژبه یې روانې خبرې کولي [۴۳].

---

[۴۳] لانګ اوس مهال د پولنډ د بهرنیو چارو مرستیال وزیر دی.

# د پولنډ پوځي موزیم

د ډسمبر ۷مه ورځ وه، یوساعت وخت وو چې موږ باید د پولنډ نظامي موزیم څخه لیدنه وکړو، موزیم ته نږدې له موټر څخه کوز شوو، موزیم ته په ورننوتلو لومړی سترګي په یو کوچني ټانک باندي لګېدلي، دا ټانک په نظامي موزیم کې تر ټولو مهم ځای کې درول شوی وو، او په یوه لنډه ټوټه د ټانک لنډ تاریخ هم ورباندي لیکل شوی وو، نور معلومات د شیشې په بند کړي ځای کې لیکل شوی وو.

موږ ته یې د ټانک په اړه معلومات راکول، خو پر موږ یې ښه تاثیر ونه کړ، موږ یو ډول د خپلې کمزورۍ احساس وکړ، دا هغه ټانک وو چې د پولنډ او شوروي جګړې پر مهال د پولنډي ځواکونو څخه د پخواني شوروي اتحاد ځواکونو د جګړې پر مهال (۱۹۱۹ تر ۱۹۱۲ز کال) نیولی وو، چې بیا روسانو غازي امان الله خان ته په ۱۹۲۳ ز کال تحفه کې ورکړي و.

د کورنۍ جګړې پر مهال هم دا ټانک د ملي دفاع وزرات په چوکاټ کې ساتل شوی وو، ځکه ډېر تاریخي ټانک وو، او د جګړې په ډګر کې ډېر مؤثر نه و.

د طالبانو د نظام پر مهال هم یاد ټانک روغ ساتل شوی وو، کله چې امریکا پر افغانستان حمله وکړه، حامد کرزی واک ته ورسید، په اکټوبر ۲۰۱۲ کې یاد ټانک پولنډ هیواد ته د ولسمشر حامد کرزي، مرستیال ولسمشر مارشال فهیم او دفاع وزیر بسم الله محمدي لخوا د ملي ګټو په نظر کې نه نیولو، د یو ډول شخصي معاملي په نتیجه کې وسپارل شو.

هغه ټانک چې د ختیځي اروپا ددې مهم هیواد پولنډ د پوځي موزیم تر ټولو په ښه موقعیت کې درول شوی، هغه ټانک چې په موزیم کې تر ټولو نورو نظامي تجهیزاتو د قدر وړ و.

موزیم کې دننه د پولنډ د پخوانیو جنګیالیو قومندانانو انځورونه لګېدلي وو، همدا رنګه پخوا وختونو کې د پولنډي پوځیانو او پولنډ د خلکو د جګړو کولو د الاتو نمونې ایښودل شوې وي.

تر ټول په زړه پوري دا هم وه، چې د پولنډ په ازادي کې په هغه سېمه کې مسلمانو اوسیدونکو هم برخه اخیستې وه، او د مسلمانو جنګیالیو تمثیلي نمونې هم په موزیم کې ایښودل شوې وي.

په یوه انځور کې ښودل شوې وو چې پولنډي پوځیانو د شورویانو یونیفورم کاپي کړي او هغه ډول یونیفورم یې اغوستي وو، تر څو د شوروي پوځیانو منځ کې ور ننوځي، ولي خپله پولنډیانو سره پېژندل، په دي یونیفورم کې غالباً چې د شوروي اتحاد لوګو نه وه، نور کټ مټ هغه ډول وو، او یا خو یې بل توپیر درلود، تر څو پولنډي پوځیان یو بل سره وپېژني.

په موزیم کې ډول ډول پخواني توپوکونه، توپانچې، واړه توپونه او ډیری د ټانکونو نمونې ایښودل شوې وي، په زړه پورې نمایش وو، کولای شي چې د انټرنیټ د لارې هم د پولنډ موزیم وګورئ.

افغانستان چې د جګړو اوږد تاریخ لري، په معاصر وخت کې یې له انګریزانو سره جګړې او هغوی ته ماتې ورکول، له پخواني شوروي اتحاد سره جګړې او هغوی ته ماتې ورکول، همدا اوس د امریکا/ناټو تر ۴۰ زیاتو هیوادونو سره جګړې او هغوی ته ماتې ورکول، خو د امریکا/ناټو له خوا لا ماتې نه منل، که ددغو جګړو اړوند یو وړوکي پوځي موزیم جوړ شوی وای، دا به را تلونکو نسلونو ته زموږ تاریخ په ښه ډول وړاندي کولای.

په همدې ورځ موږ له ډوډۍ خوړلو او ماسپښین لمونځ کولو وروسته د پولنډ دویم لوی او تاریخي ښار کراکوف په لور روان شوو، موږ د کورنیو استخباراتو موټر بدرګه کولو، نږدې ۴ ساعته مزل و، کارکوف ښار ته ماښام

ورسیدو، د ښار ډیری ودانۍ یې پخوانۍ وي، او په نوي موډرن ډول باندې نه وي جوړې شوي، موږ یې هم یوه پخواني تاریخي دولتي هوټل ته ور وستو، دا هوټل د دولتي میلمنو لپاره وو، ډیري لویې او غټې کوټې یې درلودلې، همدا هوټل په پخوانۍ بڼه ساتل شوی وو، خو د نوي ټیکنالوژي اسانتیاوي هم پکې چمتو شوې وي.

موږ چې له کابل څخه تلو، هم پولنډي کسانو راته ویلي وو چې پولنډ کې ډیر زیات احتیاط وکړو، خبرو او کړنو کې، ځکه هلته که کومه ستونزه تاسي هر یوه ته پېښه شي، راتلونکې وخت کې بیا تاسي اروپا ته سفر نه شئ کولای.

موږ ٦ تنه وو، دوه نفره باید په یوه اطاق کې وای، ما انتظار کاوو چې احسان امیري د کوم بل کس سره ولاړ شي، ځکه زموږ پاسپورټونه یې را څخه واخیستل او د هوټل اداري دوه کسان پرته له دې چې ویې پېژني سره یو ځای کول.

منصف او کوهستانی یو اطاق کې، ورپسې ما یو ډول ارتور ته وهم ویل چې برهان عثمان له ما سره اطاق کې شي، ولي برهان او اشرف بل اطاق ته شول، او امیري ماته را پاتې شو.

په باګرام کې چې ما د امیري بې لمانځي لېدلې وه، د هغه بې ځایه حرکات او بې ځایه خبرې، مثلاً باګرام هوایې او پوځې اډه کې یې ویل چې وادہ مې ځکه تر اوسه نه دی کړی، غواړم داسي نجلۍ پیدا کړم، چې زما د مېل مطابق په بازار کې را سره وګرځي او پر ما یې لاس اچولی وي، جامې یې هم زما په خوښه عصري وي.

برهان او اشرف ته مې وویل چې له تاسي یو زما سره اطاق کې شئ، خو هیچا هم اصلاً نه غوښتل چې امیري یې د اطاق ملګری شي، ارتور ته ور ولاړ شوم، هغه ته مې وویل چې زه نه غواړم امیري زما سره په یو اطاق کې و

اوسي، دا نو داسي وخت دی چې زموږ د کوټې کیله یې هم را اخیستي او موږ ته یې ویلي چې امیري او مطمئن په یوه اطاق کې دي.

لومړی خو ارټور فکر وکړ چې ټوکې کوم، ولي وروسته مې هغه پوه کړ چې زه نه غواړم چې دا هلک زما سره یو ځای وي، هغوی وپوښتل چې ولي؟ ومې ویل چې د ولي خبره نه ده، زه نه غواړم چې هغه زما سره وي. ماته کوم بل ملګری را کړئ، او دی بل چا سره ملګری کړئ، خو چې ارټور د نورو ملګرو خوله بوی کړه، یوه هم نه غوښتل چې امیري دي ورسره د اطاق ملګری شي.

خدای مه کړه دا نه چې هغه د بل قوم و، اخلاق یې ښه نه و، او بل داچې ډیري او بې معنی خبرې یې کولې، چې وروسته بیا پولنډیانو هم هغه وپېژاندی او کله کله به یې مسخرې هم ورباندي کولې.

اشرف دي خیر یوسي، هغه ویل سمه ده، برهان عثمان او تاسي (مطمئن) یو ځای، زه او امیري به اطاق کې سره ملګري شو، خو کله چې اشرف لومړۍ شپه له امیري سره تیره کړه، دوېمه او درېمه شپه یې زموږ اطاق کې را سره وکړه.



د دفاع وزارت رئیسان

# د مالګې کان

د ډسمبر ۸مه ورځ وه، له سهار چای او ناشتې وروسته ، اته بجې موږ د کاراکوف ښار ته نږدې د ویلیکزکا Wieliczka د مالګي کان ته روان شوو، نږدې یو ساعت د موټر لاره وه، بیا هم له موږ سره مخکې د پولیسو او وروسته د استخباراتو موټر روان وو، په اروپا کې ډېر کم داسې وي چې له کوم چا سره دي د پولیسو او استخباراتو موټر په بدرګه وګرځي، ځکه هلته امنیت دی، او هلته ترافیکي ستونزه هم نه وي. نه پوهېږو چې ولې دوی دا کار کاوو.

د ویلیکزکا د مالګي کان داسې نه وو چې له دي معدن څخه خلکو مالګه را ایسته، بلکي له کان څخه مخکې وختونو کې مالګه ایستل شوي وه، ډېر کوچنی کان وو، غټ نه وو، خو اوس یې په کان کې دننه د مالګي له خپلو ډیرو ودانۍ جوړې کړي وي، هلته پکې کوچنی بازار، کلیسا (د عیسویانو لوی پاپ جان پال هم د همدې کلیسا د لیدو لپاره همدې ځای ته ورغلی وو)، د لامبلو لپاره حوض، د کراکوف ځینې تاریخې نمونې، اډیټوریوم او ډول ډول کوچني د سیاحت ځایونه جوړ شوې وو، چې له دې لارې دوی ښه عاید تر لاسه کاو، لارښوونکو وویل چې د مالګي د ایستلو څو برابره عاید اوس د همدې سیاحت ځای څخه تر لاسه کوي.

موږ په پښو باندې نږدې سلګونه متره لاندې کښته شوو، ټول ټال یاد کان ۳۲۷ متره لاندې په ځمکه کې دی، ډلې ډلې کسان به د کان دننه کښته کېدل، او یو تن لارښود به ورسره و، تر څو د کان هر برخه ورته تشریح کړي، په همدې کان کې ډېر مشر لارښود زموږ سره ګرځېدی، هغه له ټوکو سربېره ډېر حوصله هم درلودله، هیڅ بیړه یې نه درلودله، زموږ د هر ملګري پوښتنو ته یې ځواب وایه.

کوچني بازار ته ورسیدو، ایس کریم او نور د خوړو توکې پکې وو، هتیو کې یې میرمنو کار کاوو، د کان لیدونکو ډله کې یوه میرمن چې ماشوم یې په

غیږ کې و، همدې کوچني بازار ته راغله، په زړه پورې وه، له هټیو ټولې میرمنې ورته را ووتلي او د ماشوم سره یې مینه کوله، شاو خوا وربانديي را ټولې وي، کله به یوې په غیږ کې ماشوم واخیست او کله بلې، په نوبت هرې یوې ورسره مینه ښکاره کوله.
زه (لیکوال) حیران وم، چې دي ماشوم کې کوم کمال دی، یا دا د غټې کورنۍ سیلاني ښځه ده چې همدلته راغلي، یا کومه بله خبره ده. له برهان عثمان مې پوښتنه وکړه چې ولي میرمنې له هټیو را بهر شوې او په نوبت دا ماشوم په غیږ کې اخلي، له هغه سره مینه کوي.

برهان وويل: " لویدیځ کې میرمنې ډیر کم ماشومان زیږوي، د دوی کورنۍ کوچنۍ دي، او ماشومان پکې کم وي، له همدې امله ده چې په خپلو کورنیو کې ماشوم نه لري، کله چې داسي ماشوم چیرته ویني، نو بیا دوی ورسره محبت او مینه کوي."

موږ د مالګي له کان څخه بیرته د راختو پر مهال په لفټ کې را پورته شوو، هلته دوه لفټونه وو، او چې کله به لیدونکو د کان لیدل بشپړ کړل، له همدې کوچني بازار لیدو وروسته بیا په لفټ کې بیرته پورته کېدل، لفټ دومره تیز وو، چې په څو ثانیو کې یې لس متره فاصله وهله.

د بیرته را ستنیدو پر مهال، واوره هلته پر سړکونو پرته وه، زموږ د موټر چلونکی سپین ژیری وو، خو ډیر تکړه وه، پر لاره څړوبی وو، یو ناڅاپه تر موږ مخکې د پولیسو موټر بریک وواهه، او زموږ موټروان هم پر بریک پښې ور ټینګې کړي، موټر جټکه وخوړه ودرید، په دي حال کې له موږ سره سپرو پولنډیانو (ارټور او بوګومیلا) نارې کړي، هغوی ویرېدل، او د هغوی د چغو له امله چلونکي وويل چې بخښنه غواړم. سمدستي ما (لیکوال) ورته وويل: ستونزه نشته، موږ بلد یو، په افغانستان کې دا ډول پیښې عادي دي. له دي خبرې سره ویریدلو پولنډیانو دومره زیات وخندل چې بیا بیا به یې ویل: ستونزه نشته، دا ډول پیښې په افغانستان کې عادي دي.

# تاريخي ودانۍ او ښار

زموږ هوټل ته نږدې د کاراکوف ښار يوه تاريخې ودانۍ پرته وه، پخوانۍ جوړه وه، د غرمې له ډوډۍ وروسته همهغه ودانۍ ته ورغلو، په لوړ ځای باندي اباده وه، او د ليدو لپاره يې خلک ورته را تلل، د پولنډيانو لپاره په دي لويه ودانۍ کې دننه مذهبي ځای هم وو، موږ پکې وگرځېدو، له هغه ځايه ښار ته ولاړو، چې ملگري سودا وکړي.

يو لوی مارکيټ ته ورغلو، زموږ ملگرو ډيره څه وا نه خيستل، چينايې شيان پکې ډير وو، او بيه يې هم لوړه وه، بيا هم يوه ملگري نږدې د ۱۰۰ ډالرو په ارزښت سودا وکړه، په دي لوی مارکيټ Moll کې موږ ډير وگرځېدو، دوکانونه په رنگا رنگ بريښنايې گروپونو ښايسته شوې وو، هر ځای د عيسويانو د کرسمس درختې ولاړي وي، ځکه د ډسمبر پر ۲۵مه د دوی د کرسمس د جشن ورځ وه.

کله چې موږ بيرته له دي لوی مارکيټ څخه را وتلو، ارټور زموږ ملگرو ته مخ راواړاوه، ويې وويل: " څنگه شو، د پولنډ نجوني مو خوښې شوې که نه، ومو ليدلې، ښايسته وي که نه؟"

زموږ ملگرو يوه هم ځواب ورنه کړ، چې نجونې ښايسته دي يا بدرنگه، بيا هغه وويل: " ژمی دی، نجونو خپل اندامونه پټ کړي، نه ښکاري. "

ما (ليکوال) ملگرو ته وويل چې امريکا او لويديځ غواړي زموږ ټولنه هم داسي شي لکه همدوی، چې دا خبره دوی لپاره هيڅ شرم نه ده، بلکې پر دي

وياړي چې نجونو ته يې خلک وګوري او د دوی نجوني نور خلک خوښې او اړيکې ورسره ونيسي.

ماښام د ډوډۍ پر مهال، دا ځل بيا احسان اميري بې نزاکتي وکړه، له ارټور څخه يې د پولنډ د نجونو اړوند پوښتنه وکړه، او څه بې شرمه خبره يې وکړه، پولنډۍ نجلۍ بوګوميلا هم زموږ سره د ډوډۍ ميز ته ناسته وه.

احسان اميري ته مې په انګريزي ژبه، تر څو زمو کوربانه پولنډيان هم زما پر خبره پوه شي، وويل چې بيا ځل دا ډول بې نزاکتې ونه کړي، او ارټور ته مې وويل چې موږ ټول دغسي نه يو، اميري ته مې وويل چې بل وخت زموږ مخکې دا ډول پوښتنې او بحث ونه کړي.




د افغانستان ټانک، د پولنډ په پوځي موزيم کې

# جاګيالونسکي پوهنتون

د ډسمبر ۹مه ورځ وه، سهار ۱۰ بجې د جاګيالونسکي پوهنتون ته ورغلو، د کراکوف تر ټولو تاريخي پوهنتون، زړه پخوانۍ ودانۍ يې وه، داسې دروازه چې د ډېرو محصلينو په يو وخت ننوتلو لپاره مناسبه نه وه، ولې د ودانۍ د ننه د اوس مهال پرمختللي وسايل کارول شوي وو. پوهنتون کې زموږ سره ناستې ته محصلين او د پوهنتون استادان را بلل شوې وو، په يو نسبتاً وړوکي سالون کې نږدې ۲۰ کسان ناست وو، موږ ٦ افغانان هم ورغلو. د افغانستان په اوسني وضعيت مو لنډه رڼا واچوله، همدا رنګه د پوهنې بهير، د ناټو پوځيانو او نشيې توکو اړوند مو لنډې يادونې وکړې. د پوهنتون محصلينو او استادانو پوښتنې پېل کړې.

لومړۍ پوښتنه يې دا وه چې د رسنيو حالت او ازادي، د طالبانو وخت او اوس وخت کې څه ډول ده.

**مطمئن**: د طالبانو وخت کې رسنۍ کمې وې، هغوی يوازې کابل شريعت ږغ راډيو درلوده، او دا ډول يې ځينې ورځپاڼې او مجلې خپرولې، په کور دننه هغه وخت، د خراب اقتصاد له امله په شخصي سکټور کې رسنۍ نه وې، ولې بيا هم ځينو افغانانو ځانګړې مجلې خپرولې او په کابل او ولايتونو کې توزيع کېدلې، په ټوله کې ويلای شو، چې رسنۍ د طالبانو واک کې وې. او د رسنيو ازادي محدوده وه.

د امريکا تر حملې وروسته رسنيو برخه کې پرمختګ يو ناڅاپه وه، پلان شوی او زموږ د هيواد له اقتصاد سره برابر پرمختګ نه وو.

د امريکا سره د تړون لپاره د دوديزې لويې جرګې (نومبر ۲۰۱۱ ) پر مهال، له تړون سره مخالف نظر لرونکو ته په رسنيو کې تر ډېره اجازه نه ورکول کېدله،

یوازې هغه نظریات او خبرونه خپرېدل چې د امریکا او افغانستان د نابرابر تړون ملاتړ به یې کاوو.

ډیری رسنیو ته د امریکا د نړیوالې پرمختیایې ادارې USAID له بودجې څخه پیسې ورکول کېدلې، دا خپلواکې او په خپلو امکاناتو ولاړې رسنۍ نه وې، کله چې امریکایانو ورباندې مرستې بندې کړې، ډیری رسنیو خپل فعالیتونه وتړل.

د ژوندون ټلویزون خپرونې د لنډ مهال لپاره د افغان حکومت لخوا بندې شوې، ډیری خبریالان له دې کبله وتښتول شول چې هغوی د روان امنیتي وضعیت او په حکومت کې د ننه د فساد او اختلاس اړوند رښتیا راپورونه چمتو کول او وړاندې کول. روحاني په هلمند کې او امید په ارزگان کې ووژل شول.

بل خوا بیا ځینې خبریالان لیرې پرتو سیمو ته تللي او هلته یې د حکمتیار سره مرکې کړې، همدا ډول یې د طالبانو اړوند راپورونه چمتو کړي دي.

**منصف:** د رسنیو برخه کې ازادي راغلې، خو تر ډیره له هرې رسنۍ سره د کوم مشخص مرسته کوونکي هیواد لخوا مرسته کیږي.

**احسان امیري:** د رسنیو برخه کې ډیر پرمختګ شوی، او خبریالان تر ډیره د حکومت لور ته له تهدیدو سره مخ وي، طالبان که پوه شي چې د رسنۍ خبریال دی، هغوی کیدای شي ډیرې ستونزې ورته پیدا نه کړي.

یو ځل موږ له کندز څخه د کابل لور ته را روان وو، طالبانو ونیولم، موږ د طلوع ټلویزون ادارې ته د ټلیفون په واسطه خبر ورکړ، زموږ ادارې د طالبانو له ویاند ذبیح الله مجاهد سره اړیکه نیولې وه، کله چې هغوی اطمناني شوي وو چې زه د طلوع ټلویزون کارکوونکی یم، زه او موټر چلوونکی یې بیرته عمومي سړک ته خپل موټر ته راوستلو او پرې یې ښودو.

**د محصل پوښتنه:** د امریکا او افغانستان ترمنځ د امنیتي تړون د لاسلیک په اړه تاسې څه وایاست.

**مطمئن**: له امریکا سره د افغانستان د امنیتي تړون اړوند د افغان ولس له مخالفت سربیره، سېمئیز هیوادونه هم مخالفت لري، او که افغانستان ورسره اړې ومني، په دې معنی چې زموږ سره په اړیکو کې به د سېمې د هیوادونو هم ستونزې راځي، او نا امني به دوام کوي.

امنیتي تړون د هغوی لپاره ښه دی چې له امریکا سره ملګرتیا ولري، او د امریکا پوځي ملګرتوب غواړي، مګر ددې لپاره چې امریکا زموږ خلک راته ووژني، امنیتي تړون موږ ور سره نه منو. او امنیتي تړون له هغوی سره چې د امریکایې پوځیانو مقابل کې جګړه کوي، کومه معنی نه لري، او نه هم کومه ګټه لري.

**د محصل پوښتنه**: داچې په افغانستان کې د کوکنارو زیات کښت کیږي، د کوکنارو د کښت کمېدو او یا له منځه وړلو لپاره کومه بدیله لاره شته.

**مطمئن**: په تیرو کلونو کې د کوکنارو د کښت له منځه وړلو لپاره اساسي کار نه دی شوي، د کوکنارو د کښت له منځه وړلو لپاره په میلیونو ډالرو مصرف کې فساد شوی.

هلمند کې د پنبې/ پختې فابریکه ده، او پنبه هغه کښت دی چې قیمت یې لوړ شي کیدای شي د کوکنارو د کښت مقابله وکړي، خو افغان حکومت او بهرنیانو د پنبې فابریکې په پښو دریدو او قوي کېدو لپاره هیڅ کوم کار نه دی کړی، هغه فابریکه اوس له رکود سره مخ ده.

دا چې د کوکنارو قیمت لوړ دی، خلکو خپل باغونه له منځه یوړل او د کوکنارو لپاره یې ځمکې هوارې کړي، او د کوکنارو د کښت د کمېدو او کنټرول لپاره کوم منظم او سم پلان هم شتون نه لري.

**د محصلې پوښتنه**: په افغانستان کې د امریکا/ناټو په شتون کې د ژوند په ټولو برخو کې کوم پرمختګ شوی دی.

**مطمئن**: پرته له شکه چې د زده کړو په برخه کې ښه پرمختګ شوی، کمیت زیات شوی، خو کیفیت یې ټیټ راغلی دی. د رسنیو برخه کې موږ مخکې خبرې وکړې.

افغانستان ډیرې اوبه لري، او د بریښنا بندونه جوړېدای شي، خو له تاجکستان سره د بریښنا د واردلو قرارداد شوی، پخوا په افغانستان کې د رسنیو او بریښنا برخه کې ستونزې وې، اوس هلته ډیر ټلویزونونه او راډیو ګانې فعالیت کوي، همدارنګه ټولنیزو رسنیو کې ډیر افغانان بوخت دي.

موږ ته تر هر څه د خپلو خلکو امنیت مهم دی، نه یوازې دا چې د امریکا او افغان ځواکونو په وړاندې طالبان جګړه کوي، بلکې پر بهرنیو ځواکونو د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو کسان په خپل پوځی یونیفورم کې بریدونه کوي، او بهرني پوځیان وژني.

د کابل – کندهار سړک جوړ شو، خو کیفیت یې ښه نه و، اوس خراب دی، همدارنګه د کندهار – هرات سړک.

فساد په هره برخه کې شته، حتی د رسنیو برخه کې، ما (لیکوال) ته د ژوندون ټلویزون د سیاسي بحثونو چلونکې وویل چې د افغان مشرانو لخوا د پیسو او کور را کولو وړاندیز راته وشو، تر څو د هغوی په ګټه په خپل سیاسي بحثونو کې بحث وکړم.

**د محصلي پوښتنه**: د افغانستان راتلونکی څه ډول وینئ؟

زموږ ګردو ملګرو همدې پوښتنې ته ځواب ووایه، منصف، برهان او کوهستاني داسي ځواب ووایه چې د افغانستان راتلونکی، که سوله ونه شي، ښه به نه وي.
اشرف او احسان امیري وویل چې د نړیوالو په مرستو او شتون کې افغانستان پرمختګ کړی او راتلونکې کې به امنیت ښه شي، او موږ د لا زیات پرمختګ تمه لرو.

دا چې ولې دا ځل ما (لیکوال) زیاتو پوښتنو ته ځواب ووایه، ملګرو همداسي توافق کړی وو، تر څو زموږ بحث جنجالي نه شي، تر دي چې خپله اشرف غیرت هم احسان امیري ته ویلي و چې بې ځایه بحث ته بیا ځل زمینه مساعده نه شي، او اشرف غیرت دا ځل زموږ ډیر زیات لحاظ وساتی، د پولنډ پوځیانو د شتون او د هغوی د صفت خبرې یې ونه کړي، دا ډول احسان امیري له امریکا سره د افغانستان د امنیتي تړون په اړه هیڅ هم ونه ویل.



د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال د پولنډیانو وژل شوې پوځیانو یادګار

# بیرته کابل ته را ستنېدل

د ډسمبر ۱۰مه ورځ، د سهار له چای څښلو وروسته، نږدې لس بجې موږ له هوټل څخه ووتلو، له کراکوف Krakow ښار څخه د پولنډ یو بل ښار روسواپ Wroclaw ته روان شوو، په لاره لوی دښتونه وو، او ټول دښتونه د ژمي په دې یخ موسم کې تک شنه وو، ډېر کم داسي ځای به و چې کښت دې ور باندې نه وي شوی. په زړه پوري دا وه چې هلته ما د روانو اوبو ویالی ونه لېدلي، له پولنډي ارټور څخه مې پوښتنه وکړه، چې د دې ځمکو د اوبو سیسټم څه ډول دی، هغه وویل: "پولنډ کې ډېر زیات بارانونه کېږي، همدا کښتونه د باران په اوبو باندې کېږي او حاصل ته رسېږي. "

له درې ساعته مزل وروسته موږ د روسواپ ښار ته ورسیدو، له ښار څخه د باندې، چې موږ لا ښار ته نه وو ننوتلي، د همدې ښار نظامي هوایې ډګر وو، او ښار څو کیلومتره نور هم له دې ځایه لیرې پروت وو، افغان ژباړن چې په همدې ښار کې یې کورنۍ اوسیدله، هغه له موږ څخه رخصت شو، پولنډی ارټور هم را څخه پاتې شو، خو بوګومیلا پوځي اډې ته را سره ولاړه.

د ماسپښین له یوې بجې وخت اوښتی و، د انتظار لپاره کوچنی اطاق و، پرته له احسان امیري، موږ ټولو اودسونه او لمونځونه وکړل، هوا سړه وه، مزل مو کړی وو، ملګري وږې وو، خو دلته هوټل نه و، ښه و چې بوګومیلا وار له مخه غم خوړلی و، له کراکوف ښار څخه یې ورسره عادي ډوډۍ (حلال برګر) را اخیستي وو، او دلته یې موږ ته را کړل.

زموږ پر پاسپورټونو باید د پولنډ هیواد د وتلو مهر لګول شوی وای، دا کار ونه شو، موږ خپلې پولنډۍ کوربه ته وویل چې کیدای شي په راتلونکې کې دا یوه ستونزه وي، هغې چې پوښتنه وکړه، د پوځي هوایې اډې کسانو ورته وویل چې دا یواځې پوځي هوایې ډګر دی، که تاسې غواړې چې پر

پاسپورټونو مهر ولګول شي، باید ملکي هوايي ډګر ته ورشئ، همهغه وو چې زموږ ټولو پاسپورټونه بوګوميلا، چې خپله هم پوځي وه، ملکي هوايي ډګر ته يوړل، او هلته يې له پولنډ څخه د وتلو مهر ورباندي لګولی وو.

زموږ د بکسونو چيک کولو هم ډیر وخت ونیوی، په دي هوايي ډګرکې يواځي پوځيان اوسېدل، ملکي کسان له دې ځايه نه تلل، داچې موږ د دفاع وزارت مېلمانه وو، نو په پوځي الوتکو کې يې زموږ د تګ او راتګ ترتيب نيولی وو، بل داچې پولنډيان ډير ټينګ او سخت خلک هم دي، که موږ يې په ملکي الوتکو کې پولنډ ته وړلای، څو زره ډالر مصرف به راتلي، دا چې پولنډ ته نظامي تلونکي نظامي الوتکې د ناټو وي، او تيل يې هم په هوايي ډګرونو کې د امريکا له حسابه ورکول کېدل، همدا لامل به هم وو چې موږ يې په نظامي الوتکه کې يوړو او بيرته راوړلو.

دلته د بکسونو د کتلو لپاره پرمختللي سيستم شتون نه درلود، بل دا چې پوځيان له دغه ډول تالاشي سره بلد هم نه وو، زموږ د ځينو ملګرو بکسونه يې ټول په يوه خيرن ميز باندي خالي کړل او وکتل.

مازيګر ناوخته شو، چې لويه نظامي الوتکه راغله، موږ او پولنډي پوځيان يو ځای ور پورته شوو، بوګوميلا هم را سره الوتکې ته وختله، دا ځل مو ولېدل چې د الوتکې په مخکينۍ برخه کې په شمار څو دانې سمې چوکۍ نصب شوې، موږ ملګري په همهغه چوکيو کې کيناستلو، لويې او مسترح چوکۍ وې.

ممکن د امنيتي ملحوظاتو له امله او يا داچې پلان به بدل شوې وي، موږ ته ويل شوې وو چې کابل ته په لاره يو ځل الوتکه ناسته کوي، کله چې مزل له ۵ او ۷ ساعتونو واوښت، پوه شوو چې ناسته به ونه شي، لس ساعته وروسته موږ د کابل نظامي هوايي ډګر کې له الوتکې څخه کوز شوو. دغه نظامي هوايي ډګر د کابل ملکي هوايي ډګر ته ډير نږدې دی، سره نښتې دي.

موږ له الوتکې څخه کښته شو، پولنډي پوځیان او زموږ کوربنه په الوتکې کې پاتې شول، له دې ځایه الوتکې باګرام هوايې ډګر ته الوتنه کوله.

داچې موږ له کابل څخه د تګ پر مهال، له افغانستان څخه د وتلو مهر په پاسپورټو نه وو وهلی، نو هیواد ته د بیرته ننوتلو مهر ته هم اړتیا نه وه.

موږ ملګرو خپلو منځو کې وویل: افغانستان څومره خوار ملک دی، د بهرنیو نظامي هوايې ډګر څخه هر ځای ته تګ او له هر ځای څخه راتګ، له هیچا پوښتنه نه کیږي، او نه د دې پوښتنه کیږي، چې له دي هوايې پوځي اډو څخه کوم شیان بیرته دوی خپلو هیوادونو ته انتقال کوي، ځکه دلته هیڅ افغان پوځیانو د پوښتنې او یا دلته د اوسیدو حق نه درلود. یوازي په باګرام کې مزدوري کوونکي افغانانو ته، د امریکایانو د اصولو مراعت کولو سره اجازه ورکول کیږي، کله چې کار وکړي، بیرته په پوځي او یا هم د قراردادي په ځانګړو موټرونو کې له هوايې ډګرونو څخه ایستل کیږي. موږ ۵ ملګري یې هم په پوځي موټرونو کې له هوايې ډګر څخه د باندي را وایستلو.

څو ورځې وروسته د پولنډ سفارت لخوا موږ ټولو ته میلمستیا وشوه، او د سفر په اړوند مو معلومات ورسره شریک کړل.

# د پولنډې جنرال پوښتنو ته ځوابونه

ډېر ځله زما څخه پولنډي جنرال بوگوسلاو وغوښتل چې په غزني کې د دوی د پوځیانو د شتون په اړه یو څه ورته ولیکم، د هغه د ډېر ټینگار له امله مې د پوښتنو ځوابونه په لاندي ډول ورته واستول.

جنرال بوگوسلاو!

تمه ده چې تاسي به ښه یاست، بخښنه کوئ چې په وخت مې ستاسي پوښتنو ته جواب ونه شو ویلای.

څرنگه چې تاسي پوهیږئ چې د افغانستان په لیري پرتو سیمو کې ډېر خلک نالوستي دي، هغوی د بهرنیو پوځیانو اړوند نه پوهیږي چې د کوم هیواد پوځیان دي. هغوی اوریدلي او پوهیږي چې امریکا پر افغانستان تیری او یرغل کړی.

ځینې لوستي، چارواکي او په سیمه کې ځینې طالبان د ولایتي بیا رغوني (پي آر ټي) او بهرنیو پوځیانو اړوند پوهیږي، چې د کوم هیواد دي. ولي په غزني کې د پولنډ هیواد د پوځیانو اړوند عام ولس نه پوهیږي، هغوی ټولو بهرنیانو ته د امریکایانو په سترگه گوري.

پښتو کې متل دی وایي (رښتیا ویل ترخه وي)، زما یاد دي چې ستاسي سره په لومړي لیدنه کې زما څرگندونو تاسي حیران کړي واست، ځکه زما څرگندونو د هغه څه سره توپیر درلود، کوم چې تاسي له چارواکو او دولت پلوه کسانو اوریدلي وو.

دا ځل به هم تاسي زما د څرګندونو اړوند تعجب وکړئ، ولي زما عادت دی چې رښتيا وايم، او باوري يم چې تاريخ او تاسي به د وخت په تيريدو زما څرګندونې سمې وبولئ.

ستاسي د لومړي پوښتني په ځواب کې: د پولنډي پوځيانو په شتون کې امنيت يوازي په غزني ښار او پي آر ټي ته نږدې سيمه کې ښه وو، ولي امنيت د ښار شاوخوا سيمو او ولسواليو کې ښه نه وو، هلته هر وخت امنيتي پيښې کيدي، حتی د پولنډي پوځيانو پي آر ټي ته نږدې د کندهار –کابل پر لويه لاره .

ستاسي لپاره تريخ حقيقت دی چې ملکي خلک او افغان ټولنه، نه پخوا او نه هم اوس د بهرنيو پوځيانو سره مرستندويه دي، ټولو ته د يرغلګرو په سترګه کتل کيږي.

د طالبانو او مجاهدينو وخت، حتی د کمونستي رژيم په وخت کې هم امنيت په غزني کې ښه و، خو اوس مهال او د پولنډي پوځيانو د شتون پر مهال امنيت تر پخوا ښه نه و. ځکه روسيې پوځيان چې د افغان کمونست دولت تر شا ولاړ وو، د هغوی ملاتړ يې کاوو، روسانو د افغانانو کلتور ته ځينې وخت درناوی کاوه، هغوی بې وسلې ماشومان، ميرمنې او سپين ږيرې ځينې وختونه نه وژل، هغوی د واده پر مراسمو بمبارد نه کاوو، او په سپو يې په خپلو کورنو کې ميرمنې او سړي نه داړل او نه ويرول.

کله چې پولنډي پوځيان غزني ته ولاړل، افغانانو هغوی ته د يرغلګرو په سترګه کتل او مرسته يې ورسره نه کوله، له همدې امله امنيتي وضعيت لا زيات خراب شو.

تر اوس مهال لږ تر لږه امنيتي حالت په غزني ښار او ښار ته نږدې سيمو کې په نسبي ډول ښه و، کله چې پولنډي پوځيان له غزني ښار څخه ووتل، امنيتي حالت نور هم خراب شو، اوسمهال د غزني ښار تر ولسواليو هم ناامنه دی.

په کار ده چې پوه شو، بهرني ځواکونه افغان ولس ته پايداره امنيت نه شي راوستلای، ممکن د لنډ وخت لپاره په محدودو سيمو کې تر خپل شتون پوري نسبي امنيت راولي، ولي له سيمې څخه د دوی پر وتلو، سمدستي حالت خرابيږي، ځکه ولس دوی ته د يرغلگرو او د دوی تر واک لاندي سيمو کې اوسيدونکو ته د بهرنيانو د ملاتړو په سترگه گوري، همدا کړنه د افغانانو ترمنځ د ستونزو لامل هم شوی.

سمه ده ځينې ډلو ته به د بهرنيو ځواکونو په شتون کې گټه رسيږي، ولي دا به ډير لږ او هغوی د ولس استازولي هم نه کوي.

د دوېمې پوښتنې ځواب: د غزني خلک وايې چې د پولنډي ځواکونو د شتون پر مهال له ستونزو سره مخ وو، ځکه هغوی شپنۍ چاپې وهلي، او ډير ځله پولنډي پوځيانو ملکي او يوازي تر شک لاندي خلک نيول، په داسي حال کې چې زندانيانو ته پولنډي پوځيانو ځورونې هم ورکولي. همدارنگه د پولنډي پوځيانو په شتون کې د ملکي افغانانو پر ځايونو حملې او بمبادر بله ستونزه وه.

په ټوله کې د پولنډي پوځيانو شتون په سيمه کې د افغانو پر ژوند کوم د پام وړ مثبت اغيز نه درلود، تاسي به هم زما سره توافق ولرئ چې په ټوپک او مرميو د خلکو زړونه نه گټل کيږي.

افغان ولس وايي که په رښتيا هم بهرنيان د افغانانو مرسته کوي، نو په کار ده چې په اقتصاد، روغتيا، تعليم او تربيه او زراعت څانگو کې مرسته وکړي، ښکاره ده چې پوځيان د ملکي خلکو په ژبه او عاداتو نه پوهيږي، څکه دوی يوازې د وژلو لپاره روزل شوي؛ نه د بې وزلو او اړمنو خلکو سره د مرستې لپاره، پوځيان په ټولنيزو او دوديزو مسايلو باندې نه پوهيږي، ټولنيز مسايل يوازې ملکي او مسلکي کسانو ته معلوميږي.

د غزني خلک وايي چې پولنډي ځواکونو ځينې رغنيزه پروژې درلودلې، پروژې به د والي يا لوړ پوړو چارواکو په سپارښتنه د هغوی نږدې خپلوانو ته په قرارداد ورکول کېدې، همدوی به بيا دوېم لاس نورو کسانو ته په قرارداد ورکولې، ځينې وختونه به قرارداد درېم او څلورم لاس ته لويدی، هر يوه به له اصلي قرارداد څخه خپله برخه (گټه) پيسې شکولې.

داسې ثبوتونه هم شته چې خپله بهرنيان هم د پروژو اړوند فساد کې دخيل او د پروژې له عمومي قيمت څخه به يې خپله برخه (سلنه) تر لاسه کوله، او پروژه به يې هغه چاته ورکوله چې دوی ته يې پکې برخه (رشوت) ورکاوه.

همدا دليل دی چې عام ولس د پروژو څخه نه دی مستفيد شوی، بل داچې د عملي شوو پروژو کيفيت هم ډير خراب او د ډاډ وړ نه دی. ستونزه دا هم وه چې پروژه (اړتيا) د خلکو په خوښه نه وه، بلکې د چارواکو لخوا به پروژه انتخاب کېده، څکه خو يې خلکو ته ډيره گټه نه رسيده.٤٤

٤٤ مثلا چيرته چې بايد وړوکی روغتون يا ښوونځي جوړ شوی وای، د کلي لپاره به د سړک جغل اندازي کېده، چې همدې پروژې به يو کال هم دوام نه کاوه، او په

زما (لیکوال) چې د غزني خلکو سره خبرې شوې، زه پوهیدلی یم چې پولنډي ځواکونو یوزاي د پولنډ حکومت حیثیت او اعتبار ته زیان اړولی، د دې لپاره چې د پولنډ حکومت د خپل اعتبار او حیثیت اعاده وکولای شي، په کار ده چې په غزني کې مستحقو خلکو ته په اړینو سېمو کې د بیا رغوني او ځینې اقتصادي او رغنده؛ د روغیتا، زراعت، تعلیم تربیې، د پاکو اوبو ژور څاهانو او عام المنفعه پروژې په سم ډول عملي کړي.

پای

۱۶ سپټمبر ۲۰۱۴

---

همدې پیسو د کلي وړوکی روغتون یا ښوونځي هم جوړیدلای شوای. همدارنګه افغانستان کې ډیری سیمې د اوبو د کنټرول لپاره وړو او غټو پروژو ته اړتیا درلودله، خو د بهرنیو ځواکونو لخوا به د دښت او یا غرنی لارې کې بې له اړتیا پلچک او جغل اندازي لپاره پروژې په قرارداد ورکول کېدي.

A letter to the NATO Genral

Dear Gen. Boguslaw,

Hope you are fine and doing well and sorry from the late reply, actually I was too busy last week.

As you know, majority of Afghans in remote areas are uneducated, they don't know regarding the identities of foreign troops. They have heard and know that American has invaded Afghanistan. But educated, officials and Taliban know about the work of PRT and armed troops. Even the presence of Polish troops in Ghazni may not be recognized as Polish Troops (PRT). As said this the case for the public, while the government, educated people and Taliban certainly know about.

There is a proverb in Pashtu, (saying the truth is bitter/hot). As I remember, during the first meeting with you, you were surprised that you heard from me, it was different from that you heard from officials and government related people.

This time, it is the same, you will be surprised, hearing from me, but my attitude is such to tell the truth and I am sure the history will put a tick mark to this sometime in the future.

Regarding the first question: during the presence of the Polish troops the situation was good only in Ghazni City, closed area to PRT but not in districts, and even in the surrounding areas. There were always security incidence despite the Polish Troops existence in Ghazni, on Kandahar-Kabul highway crossing the Ghazni province. The bitter fact is that the civilians and in common Afghan communities were and are not helpful with foreign troops. They are all considered as invaders.
Before Polish troops during the Mujahidin and Taliban time, even during the communist regime the security was better

than the prevailing conditions. Because the Russian troop who backing the communist regime were respecting the Afghan culture and were avoiding to possible extent to kill un-armed people such as children, women, and elders and were not bombing intentionally the wedding ceremonies and were not allowing dogs to bite the Afghan men and women. , when Polish troops came to Ghazni, the Afghan Community looks to them as invaders and did not assist them, so the security situations got worse instead of getting better.
As I mentioned there was a little bit security in Ghazni city and closed area comparing to present situation. When Polish troops withdraw from Ghazni, the situation get worse, presently the Ghanzi city is more unsecure than districts.

So lesson learned is that, foreign troops cannot bring the sustainable security to Afghan people, it might be for the short time in limited areas till the presence of the foreign troop, but by their withdrawal, automatically the situation gets worse, because people look upon them as invaders and who lives under their security umbrella are considered as their supporter. It creates internal tension between the Afghans as well. Of course there might be some groups who are benefiting from the presence of foreign troops and they may have totally different opinion than what is stated above.

Regarding your second question: the Ghazni people saying they were in trouble during the Polish troops, because there were night raid, and many times Polish troops captured civilian as suspected insurgent, and the behavior of the troops were not good with prisoners, even it was worse. Also people saying during the presence of Polish troops, attacking and bombing on the civilian was another issue.

In general, there were no considerable positive changes by the presence of Polish troops in having positive impacts on

the civilian’s lives. You may agree that the gun and bullet cannot win the heart and mind of the people. The people saying if foreign wanted to really assist the Afghan community, they should assist Afghanistan in Economy, Health, Education and Agriculture, troops don’t know behavior of civilian, they are trained for killing not for assisting the poor and needed people. Troops don’t know the social issues, the social issues are known to civilian experts.

The people of Ghazni saying, Polish troops had some construction projects. These projects were contracted by Governor to his relative firms and High level Government related firms. The awarded contracts were then contracted to subcontractor and even to the second and third and in some cases even to fourth hand contractors. Everyone has cut off a bit of the allocated budget for the projects. There are evidence that the foreigners are also involved in this business and getting their percentages. And this is the reason the public didn’t benefit from these projects and the quality is very poor and the development is not sustainable. Next issue was that project selection was not according the demand of community, it selected by officials, and was not achievable.

As per my discussion with people of Ghazni, Polish troops demolished the credibility and dignity of Polish government in Afghanistan/Ghazni. In order to regain its face, credibility and dignity,  it is highly recommended that the Polish government to help the needy people of Ghazni through launching development and economic projects for the communities in areas of, health, agriculture, education, potable water and other public works related projects.

END

١٦ September ٢٠١٤

# د لیکوال پېژندنه

نظر محمد مطمئن د جوم سرمست زوی په۱۹۷۳زېږدیز کال کی د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ په زرغون کلي کې سترگې رڼې کړي.

**زده کړې**

دولسم ټولگی یې په پېښور کې د سید جمال الدین افغان په عالي لیسه کې پای ته رسولي. په ۱۳۷۷لمریز کال کې د کابل پوهنتون د سیول انجنیري په څانگه کی خپلې لوړې زده کړې بشپړې کړي .

د افغان پوهنتون د شرعیاتو څانگې د فقهې او قانون (۱۳۹۳ تر ۱۳۹۶ ل کال) څخه فارغ، اوسمهال دعوت پوهنتون کې په فقه او قانون کې د ماسټري وروستي سمسټر او په تیزس لیکلو بوخت دی.

**څیرمه دندي**

په ۱۳۷۵ل. کال د ننگرهار ولایت د راډیو او تلویزیون رئیس، په ۱۳۷۶ کې په کابل کې د عامه کتابتون او ملي آرشیف د لوی ریاست مرستیال او د کتاب مجلې مسؤل مدیر، په۱۳۸۷ کي دبیهقي کتابتون رئیس، په ۱۳۷۹ کې د هلمند ولایت اطلاعات او کلتور رئیس . په ۱۳۸۰ کې یې له بهرنیو نړیوالو مؤسیسو او د ښوونځیو او کوچنیو روغتونو جوړولو نړیوالو ادارو سره کار پیل کړ او د ۱۳۸۴ تر ۱۳۸۸ کال پوري یې د ملگرو ملتونو د ساختماني پروژو د تطبیق (یو ان او پي ایس ) دفتر سره په کندهار او کابل کې د مشر انجنیر په صفت دنده درلودله.

**د سولې هڅې**

په کابل کې د اوسیدو پرمهال د بېلابېلو سیاسي او اصلاحي ټولنو سره یې ناستې درلودلي، په هیواد کې د ریښتونې سولې اړوند یې هلې ځلې پیل کړي، او د سولې اړوند په ځینو کورنیو او نړیوالو کنفرانسونو کې یې گډون کړی، چې یو له ډیرو مهمو کنفرانسونو څخه د جاپان د کیو ټیو ښار د ډوشیشاپوهنتون کې په ۲۰۱۲ ز. کال کې هغه کنفرانس چې د طالبانو استازو،

د اسلامي حزب (حکمتيار) استازي هم ګډون کړی ؤ، له دې مخکې په ۲۰۱۱ کې هم په نوموړي پوهنتون کې د سولې اړوند کنفرانس کې شرکت کړی ؤ. په ۲۰۱۰ کې د ترکيې په استانبول ښار کې په نړيوال اسلامي کانفرانس او په ۲۰۱۴ کې د پاکستان په اسلام آباد کې د سولې اړوند نړيوال کانفرانس کې يې شرکت درلود. د افغانستان اړوند مسايلو له پاره يې د پولنډ هيواد وارسا او کاراکوب ښارونو، اندونيزيا، قطر، متحده عرب اماراتو او ازبيکستان کې هم په ځينو مهمو ناستو کې ګډون کړی.

د افغانانو لومړي خپلمنځي ناسته چې ماسکو کې وشوه، مطمئن يې هم ګډونوال و.

**ليکلي چاپ آثار**

۱. طالب مشرانو سره شپږورځې
۲. د ګوانتانامو ۳ بنديان
۳. طالبان په جاپان او موږ په وارسا کې (همدا کتاب)
٤. د سولې ناستې (له افغان سياستوالو او چارواکو سره)

**ليکلي ناچاپه آثار**

۱. مجاهدين او خپلمنځي جګړې
۲. د سولې ناستې (له ناټو او بهرنيانو سره)
۳. اندونيزيا کې د علماوو غونډه
٤. قطر کې له طالبانو سره ناستې